# د سولې په هکله د افغانستان
# د خلکو خبرې اترې

## د یوې ټولیزې سولې د بهیر بنسټ ایښودل

*- د سولې لپاره محلي لار نقشې -*







کابل، افغانستان، جون ۲۰۱۴

*"افغانان د داسې نوښتونو هرکلی کوي لکه د سولې په اړه د افغانانو خبری اتری ، ځکه دا ډول نوښتونه د سولې په پروسه کې مهم نقش لري او د یوې ارزښتناکې جرګې حثیت لري چې افغانان د دوي په ولایت کې د سولې او شخړو په اړه خپل نظریات په ازادانه ډول بیانوي هغه هڅې چې د محلي خلکو له خوا د دوي په اراده تر سره کیږي د سولې لپاره د یوې ملي موافقې په تړاو ډیرې ارزښتناکې دي."*


- **د متمرکزو ګروپي مباحثو ګډون کوونکی ، د اروزګان ولایت د سولې په اړه د افغانانو خبری اتری**

# د سولې په اړه د افغانانو خبرې اترې:
# د یوې ټولیزې سولې د بهیر بنسټ ایښودل

---

*د سولې لپاره محلي لار نقشې*

کابل ، افغانستان
د غبرګولی ۲۰ ، ۱۳۹۳ (د جون ۱۰ ، ۲۰۱۴)




Map No. 3958 Rev. 7 UNITED NATIONS
June 2011

Department of Field Support
Cartographic Section

# د سولې په اړه د افغانانو خبرې اترې:
# د یوې ټولیزې سولې د بهیر بنسټ ایښودل

*د سولې لپاره محلي لار نقشې*

## د مطالبو فهرست


لنډیز ........ i
۱. پېژندنه ........ ۱
۲. د شخړو بنسټیز لاملونه ........ ۳
۱.۲. پراخ اداري فساد ، له ځواک څخه ناوړه ګټه او له جزا څخه معافیت ........ ۳
۲.۲. ویجاړېدونکې امنیتي وضعه ........ ۸
۲.۳. قومي ، قبیلوي او ګروپي شخړې ........ ۱۱
۲.۴. د ټولنېزې او اقتصادي پرمختیا نشتوالی ........ ۱۳
۲.۵. د نا قانونه اقتصادي فعالیتونو د کنترول په سر سیالۍ ........ ۱۵
۲.۶. د سولې اوسنی بهیر ........ ۱۷
۲.۷. د ښځو پر حقونو باندې د شخړې اغیزې ........ ۲۲
۲.۸. پر ځوانانو باندې د شخړې اغیزې ........ ۲۳
۳. د سولې لپاره طرح ........ ۲۷
۳.۱. د دولت د مشروع قدرت او صلاحیت اعاده کول ........ ۲۷
۳.۲. د بشري حقونو او د قانون د حاکمیت وده او د معافیت له منځه وړل ........ ۲۹
۳.۳. د ښځو د حقونو او د سولې جوړونې په پروسه کې د هغوی د نقش ترویج ........ ۳۱
۳.۴. د برابرې ټولنېزې او اقتصادي پرمختیا تحقق ........ ۳۲
۴. د پایښت لرونکې سولې د تر لاسه کولو لپاره وسیلې ........ ۳۶
۵. پایلې او د خلکو وړاندیزونه ........ ۴۰

*ليدلوري او نظريات چې په دې سند کې بيان شوي د هغو افغان ښځو او نارينه وو او ځوانانو نظريات دي ، چې د سولې لپاره د افغانانو د خبرو اترو په دويمه برخه کې يې ګډون کړی*

# لنډیز

د سولې په اړه د افغانانو خبرې اترې ، چې د افغان مدني ټولنې یو نوښت دی ، په دې باور دی چې د ځايي ملیشه وو بې وسلې کول او بې واکه کول ، په پولیسو او قضایي سکټور کې د پراخ فساد او معافیت ورک کول ، د قبیلوي او قومي او ګروپي شخړو حل کول چې لویو وسله والو جګړو ته لمن وهي ، د بشري حقونو درناوی کول ، او په مساوي ډول د پراختیایي مرستو او خدمتونو وړاندې کول په افغانستان کې د پایښت لرونکې سولې لپاره اړین اقدامات دي.

د ۱۱ افغان مدني ټولنې د شبکو او د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون له خوا ۴۴ مخیز تیار شوي راپور: د سولې په اړه د افغانانو ډیالوګ: د یوې هر اړخیزې سولې لپاره د بنسټونو جوړول ، د ۴۶۴۸ افغان نارینه وو ، ښځو او ځوانانو ، چې د هیواد له ۳۴ ولایتونو څخه دي ، اندېښنې او هیلې په لنډ ډول مستند کوي او په افغانستان کې د دوامدارې سولې لپاره د دوي وړاندیزونه بیانوي.

د سولې په اړه د افغانانو خبرې اترې داسې طرح شوې چې ټول شموله وي او د مهمو مسلو په اړه ، چې د افغانانو په ژوند ډېر اغیز کوي د عادي افغانانو نظریات څرګند کړي او افغان مدني ټولنې ته یې د دې توان ورکړ چې په دودیز ډول د ګوښه کړای شویو افغانانو ، په لیرې پرتو سیمو کې د افغانانو او ښځو او ځوانانو په ګډون ، نظریات سره راغونډ کړي او هغه د ولسمشریزو ټاکنو دوو مخکښو نوماندانو ته د خلکو د مشروع هدفونو او هیلو په څېر وړاندې کړي.

راپور د ۱۸۹ متمرکزو ګروپي بحثونو ، د نظریاتو په سروې ګانو او انفرادي مرکو پر بنسټ ولاړ دی ، چې د افغان مدني ټولنې له خوا د ۲۰۱۳ کال اپریل او د ۲۰۱۴ کال د جنوري ترمنځ موده کې ترسره شوی ، له ټول هیواد څخه د افغان نارینه وو ، ښځو او ځوانانو نظریات د سولې په اړه څرګندوي، په دې کسانو کې د کور ښځې ، ځایي سوداګر ، ښوونکي ، زده کوونکي ، بزګران ، قومي مشران ، مذهبي رهبران ، ځوانان ، د وسله والو مخالفینو پخواني غړي (پخواني طالبان) شامل وو. له دې ټولنو سره د مباحثو په پایله کې تر اوسه د سولې لپاره په ۳۰ ولایتونو کې محلی طرحې تیارې شوې دي.

راپور د سولې په اړه د افغانانو د خبرو اترو د دویم پړاو موندنې څرګندوي. د خلکو د خبرو اترو په لومړي پړاو کې ۷۸ ګروپي متمرکزې مباحثې ترسره شوې چې د ۳۴ ولایتونو څخه په ۳۱ هغو کې وې او ۱۵۲۶ تنه افغان نارینه ، ښځې او ځوانان په کې شامل وو ، چې د بیلا بیلو قومي ډلو او ټولنیز-اقتصادي مختلفو تجربو درلودونکي وو. د خبرو اترو د لومړي پړاو موندنې د ۲۰۱۱ په ډسمبر کې تر دې عنوان لاندې خپرې شوې دي: د سولې په اړه د افغانانو د خبرو اترو: د سولې د پروسې لپاره د بنسټونو جوړول ، د دواړو پړاوونو په ترڅ کې له ۶۰۰۰ څخه زیاتو افغان نارینه وو ، ښځو او ځوانانو د سولې په اړه د افغانانو په د خبرو اترو کې ګډون درلود.

د خلکو په استازیتوب ، افغان مدني ټولنې د سولې په اړه د افغانانو د ډیالوګ د دویم پړاو موندنې په لنډ ډول ځای کړې څو د دې ډاډ حاصل شي چې د عادي افغانانو اواز اوچت شي او د پالیسي جوړونکو غوږونو ته د لوړ پوړو پالیسي جوړونکو او راتلونکي ولسمشر په ګډون ، ورسیږي. راپور د عمل لپاره یو غږ دی ، څو د دې ډاډ تر لاسه شي چې د سولې جوړونې ټول نوښتونه نه یوازې د افغان نارینه وو ، ښځو او ځوانانو له اغیزناک ګډون څخه جوړوي ، بلکه باید د سولې طرحو په هغو بنسټونو

ولاړ وي چې افغانانو پخپله د خپل هیواد لپاره په پام کې ساتلي وي. په دې کار سره به نه یوازې د هرې سوله ییزې پروسې مشروعیت تضمین شي ، بلکه د افغانانو د ادارې پر بنسټ به د یوې پایښت لرونکې سولې په لور خوځښت وکړي.

***له پراخ اداري فساد سره مبارزه***

یوه مشترکه مساله چې د افغانانو په د خبرو اترو کې پرې خبرې شوې دي او په دې راپور کې یې تفصیلات راغلي دي ، هغه له حکومت څخه د افغانانو نا رضایتی دی ، ځکه چې فساد جاري دی او د قانون کمزوري واکمني له امله په بشري حقونو تیری بې جزا پاتې کیږي. دغه فکتورونه یا لاملونه د وسله واله جګړې اصلي لاملونه ګڼل شوي. په راپور کې راغلي دي چې فساد "د نفوذ د اعمال لپاره یوه لار" پرانیزي او معافیت په قضایي سیستم کې د اداري فساد یوه خامخ پایله ده.

د د خبرو اترو ګډونوالو په دایکندي ولایت کې وویل: *"فاسد حکومت د افغانستان د قومونو ترمنځ له تبعیض څخه کار اخلي او د رسمي چارواکو د مقرریو په برخه کې د وړتیا اصل په پام کې نه نیول کیږي. پر بشري حقونو په سیستماتیک ډول تېری روان دی ، او د دې په پایله کې چې نبستې او د معافیت کلتور راپیدا کیږي ، ځایي شخړو ته لار هواروي."*

په ټول هیواد کې افغانانو دې ته ورته نظریات درلودل ، افغان نارینه وو ، ښځو او ځوانانو په دې اړتیا ټینګار وکړ چې په محلي حکومتي موسساتو باندې د څار لپاره د چېک او کنترول سیستم تقویه کړي. راپور دې پایلې ته رسیدلی ، چې افغانان حساب ورکوونکی ، شفاف او او اغېزناک محلي حکومت غواړي چې د دوي په نظر د دوامدارې سولې لپاره ډېر ارزښت لري. خلکو په ټینګار سره د اصلاحاتو/ریفورم د پروګرام د تطبیق غوښتنه وکړه ، لکه غیر سیاسي او خپلواک اقدامات چې فاسد چارواکي ګوښه کړي ، د محلي حکومتي چارواکو په مقرریو کې د وړتیا اصل او د زیاتو اغیزناکو اداري طرز العملونو معرفي کول.

په راپور کې ، افغانانو په حکومت غږ وکړ چې د قضایي سکټور د چارواکو د په ښکاره ډول په ځیرکتیا سره څارنه وکړي او داسې بدلونونه عملي کړي چې هدف یې په څارنوالی ، پولیسو او محکمو کې له فساد سره مبارزه وي.

***د امنیت ښه والی او د محلي ملېشه وو بې وسلې او بې اختیاره کول***

د سولې په اړه د افغانانو د خبرو اترو په لیرو پرتو نا امنو او تر جګړو لاندې سیمو کې د حکومت نشتوالی د وسله واله جګړو اصلي لامل وشمیره. راپور ویلي دي چې د حکومت نا تواني چې د هیواد په ډېرو برخو کې یې په کافي شمیر امنیتي ځواکونه و نه شو ساتلی داسې انګیرل شوې چې د طالب شورشیانو او نورو وسله والو ډلو سره مرسته شوې لکه په فراه ، هرات ، جوزجان او پروان کې.

افغانانو چې په نا امنو سیمو کې استوګن دي وویل چې د طالبانو نفوذ او د امنیتي ځواکونو نا کافي شمیر په پایله کې حکومت د دوي امنیت بد نامه ځایي ملېشه ځواکونو ته سپارلی دی. د کندز په ولایت کې د خلکو په وینا دغې پېښې "په دولت کې د ننه بل دولت" رامنځ ته کړي ، چېرې چې قانون په ملي او ولایتي کچه نه بلکه په محلي کچه اداره کیږي.

د پروان له ولایت څخه یوه تن قومي مشر وویل: *"نا قانونه وسله واله کسان هر چېرې شته. دوي سوله نه غواړي ، ځکه چې بیا ځواک له لاسه ورکوي. له دې امله دوي په ټولنو کې شخړې راپیدا کوي. دا زموږ په ټولنو کې یو تریخ حقیقت دی چې د سولې په وړاندې یو خند جوړوي. تر څو چې دغه ډلې له منځه نه وي ایستلې شوې ، سوله به یو خیال او خوب پاتې شي."*

راپور په حکومت غږ وکړ چې نا قانونه وسله واله ډلې او حکومت پلوه ملیشه بې وسلې کړي. افغانان په دې باور دي چې دغه کار په محلي حکومتي موسساتو باندې د جنګ سالارانو او زو رواکانو د نفوذ مخه ونیسي.

### *د محلي ګروپي شخړو او له شورشیانو سره د اړیکو د مسالې حل کول*

راپور د افغان نارینه وو ، ښځو او ځوانانو هغه ژورې اندېښنې څرګندوي چې د قومي ، قبیلوي او ګروپي دښمنیو په اړه یې لري او فکر کوي چې د افغانستان په ډېرو برخو کې دغه مخالفتونه د نا امني او بې ثباتي سبب ګرځي. خلکو وویل چې د دغو جګړو له امله د حکومت او سوله والو مخالفینو ترمنځ جګړې تودې شوي- چې هره خوا په دې هڅه کې ده څو د خپل ځواک بنیادونه پیاوړي کړي ، ترونونه ایجاد کړي ، وسلې راغونډې کړي او ځواکونه بسیج کړي څو خپل رقیبان کمزوري کړي.

له بلخ ولایت څخه افغانانو وویل: *"زموږ په ولسوالی کې د جګړو ستر عامل د ډلو ترمنځ د اوږدې مودې دښمنی او جګړې دي- دې کار زموږ خلک سره وېشلي دي: ځیني له حکومت پلوه ملېشه وو سره یو ځای شوي او نور بیا له طالبانو سره یو ځای شوي دي. د دې په پایله کې سخت جنګونه رامنځ ته شول او ډېر شمیر خلک ووژل یا ژوبل شول."*

په ټول هیواد کې افغانانو وویل چې ګروپي ترونونو خلک سره وېشلي دي. د ټولنې په کچه دغو مخالفتونو پراختیا ومونده او په پوره ډول د طالبانو له خوا په رهبري شوي یاغیتوب واوښتل. افغانانو په حکومت غږ وکړ چې په محلي کچه د مخالفتونو په حل کولو له دې لارې زور واچوی چې د ټولنو ترمنځ یو والی او پخلاینه غښتلې کړي او یوه پایښت لرونکې سوله تضمین شي.

### *په ټول افغانستان کې د متوازن پرمختک پیاوړي کول ، د پوهنې لومړیتوبونه او د افغان ځوانانو ځواکمن کول*

راپور د اقتصادي پرمختګ او ټولنیز عدالت نشتون د نا امني ستر لاملونه ګڼي. نېستي ، په ټولو سیمو کې نا برابر پرمختګ او ور سره ډېر زیات شمیر بې کاران ، او د منابعو نا برابر اختصاص هغه ستونزې دي چې حکومت یې په تیرو ۱۲ کلونو کې په حل کولو بریالی نه شو.

دغه راز ، افغانانو د پرمختیایي مرستو د نابرابر ویش ، ناوړه ګټه اخیستنې او ناسم اختصاص په اړه ژورې اندېښنې څرګندې کړي. خلکو وویل چې د ټولنې د بنیادي ساختارونو او خدمتونو نشتون لکه سړکونه ، پلونه ، ښووني ، او د روغتیایي پاملرنې اسانتیاوې په پرلپسې ډول نه یوازې حکومتداري کمزورې کوي ، بلکه بې وزلي افغانان یې له ډېر کړاو او سختیو سره مخ کړي.

په بې کاري باندې خصوصا د محرومو بې کاره ځوانانو لپاره په زور اچولو سره راپور دې پایلې ته رسیدلی چې "تعلیم د امنیت لپاره دکلیي حیثیت" لري. د لغمان په ولایت کې یوه دفاعي وکیل وویل: *"ځوانان د اوسنیو جګړو لپاره خام مواد دي ، ډېری ځوانان بې کاره دي ، نو دوي په اساني سره استخدام کیدای شي."*

د افغان ځوانانو په بدې ورځې په ټینګار کولو سره ، کاري فرصتونه او د عایداتو راوړونکی نوښتونه د افغانانو په باور باید د هر بل حکومت لپاره د فوري او ملي لومړیتوب حق ولري. د کندز ولایت د علي اباد له ولسوالي څخه یوه تن قومي مشر وویل: *"موږ یوه مشترکه عقیده لرو چې د یوه بې روزګاره سړی ذهن د شیطان بوزغلی جوړوي. د ستونزې اصلي برخه بې کاري ده ؛ بې کاري اصلي سبب د دې ګرځي چې خلک ، خصوصا بې کاره ځوانان له یاغیانو سره یو ځای شي."*

د هلمند په ولایت کې د محلي شورا یوه غړي وویل چې خلک تاوتریخوالي ته ځکه راګرځي ، چې اساسي خدمتونه ورته نه رسیږي او ناهیلي شوي دي. ده وویل: *"د پوهنې ټیټ کیفیت ، بې کاري ، د بنیادي خدمتونو نشتون ، لکه بریښنا ، او د کرنې لپاره اوبه او د ښې حکومتداري نشتوالی د جګړو سبب ګرځي"* راپور وایي چې په ټول هیواد کې ورته احساسات څرګند شوي دي.

افغان نارینه ، ښځې او ځوانان په ټول هیواد کې په دې باور وو چې د کوکنارو/افینو کښت او د نا قانونه اقتصادي فعالیتونو پر سره کنترول په مستقیم ډول د بې کارانو له زیات شمیر او د اقتصادي فرصتونو له نشتون ، په حکومتي ادارو کې له فساد ، بې سوادي او په نشه يي توکو د ځوانانو له روږدیدو او په بې وزلو بزګرانو او زیانمنېدونکو ځوانانو د وسله والو ډلو له نفوذ سره تړاو لري.

خلکو په حکومت غږ وکړ چې د کارونو په ایجادولو ، په بدیلو کښتونو لکه پنبه کې په پانګوونې ، او د ځوانانو لپاره د تعلیمي اسانتیاوو په برابرولو زور واچوي ، چې د نشه يي ستونزو سره مبارزه وشي.

### *د یوې ټولیزې سولې پروسې پیاوړې کول او د افغانستان د سولې او بیا یو ځای کیدنې د پروګرام سمون*

راپور د سولې له پروسې څخه د خلکو نارضایت څرګندوی ؛ هغه کسان چې د هر حل له پایلو سره باید ژوند وکړي ، له پامه غورځیدلي او د هغو کسانو د مشروعیت په اړه پوښتنې کوي چې د سولې په پروسه کې شامل دي. د بلخ د ولایت د پخواني جهادي قوماندان د خلکو په خبرو اترو کې د ډیرو شاملو افغان نارینه وو ، ښځو او ځوانانو له خوا تایید شوې خبره: *"زه د سولې په اوسني بهیر باور نه لرم ؛ ځکه د دې پروسې په رهبري کې داسې کسان شته چې په پخوا کې د جګړو یوه برخه وه."*

افغانانو وویل چې اوسني فعالین چې د سولې پروسه پر مخ بیایي نه شي کولای چې د سولې له پروسې سره مرسته وکړي.

راپور څرګندوي چې افغانان د افغان حکومت د سولې او بیا یو ځایي کیدنې پروګرام یوه ناکامي بولي. افغانانو په دې خواښیني څرګنده کړې چې هم د پروګرام د تطبیق له پروسې څخه ګوښه شوي دي او دغه راز د پروګرام په پیل کې د ټولنې په کچه د پرمختګ پروګرام په پام کې نه و نیول شوي. په راپور کې افغانانو نظر څرګند کړی و چې د سولې او بیا یو ځای کیدنې پروګرام د هغو کسانو له خوا پر مخ وړل کیږي ، چې د جګړو په دوام کې خپلې ګټې ویني.

پخوانیو طالب جنګیالیو چې د سولې او بیا یو ځای کیدنې د پروګرام له لارې بیا یو ځای شوي هم له دې پروګرام څخه خوا بدي څرګنده کړه او ویې ویل چې پروګرام و نه شو کولای خپلې ژمنې عملي کړي. دوي احساس کوي چې کارول شوي ، په اوږد مهال کې بې مرستې پاتې شوي او له حکومت سره د همکاري له وجهې د طالبانو د بریدونو په وړاندې زیانمنیدونکي دي.

په ټولیز ډول ، افغانانو وویل چې په اوسنۍ پروسه کې شامل کسان د دې توان نه لري چې دوامداره سولې ته ورسیږي ، ځکه دوي د عادي افغانانو له نظریاتو او اوازونو څخه استازیتوب نه کوي ، ځکه چې دوي د جګړو په دوام کې خپلې ګټې ویني.

افغان نارینه وو ، ښځو او ځوانانو د یوې ټولیزې سولې پروسې غوښتنه وکړه څو د دې داډ حاصل شي چې سوله د ټولو افغانانو په روا غوښتنو او ارادې باندې ولاړه ده څو نه یوازې د نخبه ګانو او زورواکانو په اراده. خکلو له حکومت څخه وغوښتل ، چې د سولې او بیا یو ځای کیدنې پروګرام په اساسي ډول اصلاح کړي څو عادي افغانانو ته دا فرصت پیدا شي چې په محلي کچه د رېښتوني سولې د جوړولو لپاره کار وکړي.

***د بشري حقونو او د ښځو د حقونو ساتل او پیاوړي کول***

د خلکو د د خبرو اترو په ترڅ کې افغانانو وویل چې بیړنۍ او دوامداره هڅې چې بشري حقونه وساتل شي ، د قانون واکمني زیاته شي او معافیت رفع شي باید د حکومت ، نړیوالې ټولنې او مدنې ټولنې په بنسټیزو هدفونو کې شاملې وي. ډیری ګډونوالو چې د بشري حقونو په اړه یې خبرې کولې ، د دې دفاع کوله چې د بشري حقونو د پوهاوي پروګرامونه د شمیر او کیفیت له لحاظه باید زیات شي څو ټولنه د بشري حقونو او د ښځو له حقونو سره اشنایي پیدا کړي او د افغاني کلتور او ټولنې سره برابر وي.

یوازې په هغه صورت کې چې د جګړو اصلي ریښه یې عوامل د هغو حل لارو پر بنسټ چې د سولې په لار نخښو کې د افغانانو له خوا په ګوته شوی دی په اساسي ډول له منځه ووځي ، حقیقي سوله او ټیکاو به په افغانستان کې ممکن وګرځي.

د افغانانو د خبرو اترو د افغانستان د حکومت ، سوله والو مخالفینو ، نړیوالې ټولنې ، افغان مدني ټولنې ته په افغانستان کې د دایمي سولې لپاره د ضروري ګامونو په اړه ۳۳ سپارښتنې لري. د ۴۶۴۸ تنو افغان نارینه وو ، ښځو او ځوانانو (چې د د خبرو اترو په دویم پړاو کې شامل وو) سپارښتنې د ولایتونو په کچه د سولې طرحو په ډول تیارې شوي دي. تر دې دمه (۳۰) دا ډول طرحې بشپړې شوي دي.

افغان نارینه وو ،ښځو او ځوانانو په ټول هیواد کې ملي او نړیوال پالیسي جوړوونکي په ټولو کچو کې د دې لپاره هڅولي ، چې په سملاسي او مناسب ډول د جګړو اصلي لاملونه محوه کړي او د دایمي سولې د ټینګښت لپاره پر لاندنیو لسو پېژندل شویو لومړیتوبونو زور واچوي:

## سولې لپاره د افغانانو د ۱۰ ټکو محلی طرحې

### ۱) د ځواب ورکونکو دولتي ادارو ترویج

- د ځایي حکومتي ادارو (د پولیسو ،عدلی تعقیب په ریاستونو او د قضا) په دننه کې پراخ اداري فساد او د دغو ادارو د ښه نظارت په موخه پارلمان پیاوړی نظارت ته اړتیا لري.
- په فساد باندې د ککړو دولتي چارواکو د لرې کولو په موخه د خپلواکو او غیر سیاسي تدبیرونو په شمول د اصلاحي پروګرامونو پلی کولو ته اړتیا ، د ځایي حکومتي کارکونکو لپاره د روزنو او ظرفیت جوړولو د نوښتونو شدیدول ، په هغو ولایتونو کې چېرې چې دا ډول کارونه ایجاد شوی په هغو کې مشروع نوماندانو ته لومړیتوب او د ځایي حکومتي چارواکو د شفافو او د وړتیا پر اساس د ټاکل کیدو څخه دادِ او د لا موثره اداري طرزالعملونو معرفي.
- د مکافاتو او مجازاتو په درلودلو سره باید د سرته رسونی پر بنسټ ولاړ سیستم معرفي شي. دا به د ښه کار ترسره کونکی چارواکی څرګند کړي او هغه کسان چې په فساد کې ښکیل دی ورتی.

### ۲) د امنیتي ادارو پیاوړتیا

- د حکومت محدود لاسرسی د داسې لامل په حیث پېژندل شوی چې له امله یی حکومت نه په خپله خاوره کنترول او نه د دې توان لري چې شخړې په سوله ییزه توګه حل کړي. افغانانو په ټولیز ډول د افغان ملي امنیتي ځواکونو د اصلاحاتو او پیاوړتیا په هکله د پرمختګ تصدیق کړی او په افغان ملي پوځ یې د زیات باور راپور ورکړي. افغانانو د

افغان ملي پولیسو ،افغان سیمه ییزو پولیسو او حکومت پلوه ملیشاوو لخوا د بشري حقونو د جدي سرغړونو په شمول د جنایي او ناوړه سلوک په هکله جدي اندېښنې څرګندې کړې دي.

- د دې په خاطر چې موثره ، ځواب ورکونکې او دیموکراتیک امنیتي ځواکونه را منځ ته شي ، د خلکو دیالوګ د امنیتي ادارو د وظایفو د را منځ ته کولو او غځولو وړاندیز کړی.
- افغانانو د دوامداره نړیوال ملاتړ په اړتیا تاکید کړی څو د ټولنې پر اساس ځواب ورکونکې او مسلکي افغان ملي امنیتي ځواکونه را منځ ته کړي. د افغان ملي امنیتي ځواکونو د روزنې او تجهیز په برخه کې د دوامداره ملاتړ او همکارۍ په هکله تاکید شوی څو د افغان امنیتي ځواکونو ظرفیت پیاوړی شي او وکولای شي د ۲۰۱۴ کال په پای کې د هیواد څخه د نړیوالو ځواکونو د وتلو وروسته په هیواد کې امنیت تامین کړي.
- د دې په خاطر چې په افغان امنیتي ځواکونو باور زیات شي ،خلکو د موثره نظارتي میکانیزم د جوړولو وړاندیز وکړ څو ځایي ټولنې وکولای شي د افغان ملي امنیتي ځواکونو لخوا د بشري حقونو د سرغړونو په هکله راپور ورکړي او ناقانونه عملونه وڅیړي او مرتکیبینو ته سزا ورکړي.

## ۳) د ناقانونه وسله والو ډلو او نورو حکومت پلوه حکومتي ملیشاوو بې وسلې کول او د هغوي بې واکه کول

- په ځایي حکومتي ادارو باندې د قدرت د ځایي دلالانو او جګړه مارو د غیر مشروع نفوذ د پای ته رسولو په اهمیت ټینکار. خلکو څرګنده کړې چې دا عمل به د ولسوالي په کچه سوله او ټیکاو پیاوړی کړي. افغانانو د هیواد په کچه د نا قانونه وسله والو ډلو د بې وسلې کولو پروګرام چې د حکومت لخوا د ۲۰۰۵ کال په جنوری کې پیل او د ۲۰۱۱ کال په مارچ کې پای ته ورسید د بیا معرفي کولو غوښتنه کړې.
- افغانانو ټینګار کړی چې د تریاکو کښت ، د مخدره توکو قاچاق او د مخدره توکو د قاچاق چپانو لخوا ناقانونه شکونې په یو شمیر زیاتو سیمو کې شخړې جاري ساتلې او تشدید کړې. خلکو ویلي چې د تریاکو کښت ،پروسس او د مخدره توکو د قاچاق څخه ترلاسه شویو عایداتو او همدارنګه د مخدره توکو اعتیاد په مستقیمه توګه افغان شورشي ډلو او ځایي ملیشاوو ته ګټه رسولې. خلکو په دغو ډلو تور لګولی چې په مستقمه توګه په لرې پرتو سیمو کې چېرې چې ناقانونه اقتصاد وده کړې ناامنی را منځ ته کړې.
- افغانانو د حکومت څخه غوښتنه کړې څو د مخدره توکو د ناقانونه سوداګرۍ او د دې سوداګرۍ څخه د ترلاسه شویو عایداتو له منځه وړلو ته لومړیتوب ورکړي او په هغو سیمو کې افغان ملي امنیتي ځواکونه ځای پر ځای کړي چېرې چې د مخدره توکو سوداګري وده کړې څو د یاغیانو د فعالیتونو مخه ونیسی او ناقانونه وسله والي ډلې له واکه لرې کړي.

## ۴) د بشري حقونو او د قانون د حاکمیت وده او د معافیت له منځه وړل

- افغانانو په کلکه دفاع کړې چې افغان حکومت او نړیواله ټولنه باید داسې عملي ګامونه پورته کړي تر څو د یاغیتوب په وړاندې د پوځي عملیاتو پر مهال د ملکی کسانو د امنیت او خوندیتوب څخه ډاډ حاصل شي او همدارنګه په دې زمینه کې د هغوي د اساسی بشري حقونو ساتنه وکړي. افغانانو د قانون د پیاوړی حاکمیت ،شفافیت ، حسابورکونې او موثره حکومتي ادارو د درلودلو او په هیواد کې د معافیت د میراث د پای ته رسولو لپاره خپل نظریې بیانی کړي.

- د افغانانو لوی اکثریت چې د خلکو د دیالوګ په مباحثو کې ښکیل وه ، وړاندیز کړی چې د قانون د انفاذ او قضایي سیستم اصلاحات باید د پایښت لرونکی سولې د تامین په موخه د هر دول هڅو په مرکز کې واقع شي. د عدلی ادارو د خپلواکی څخه د ډاډ حاصلولو په موخه د مناسب نظارت تر څنګ ،هغوي د عدالت د کلیدی سکټور د کارکونکو ،د جامع قوانینو د جوړولو او جاری کولو او د موسساتی او طرزالعملي بدلونونو چې موخه یې د عدلی سکټور د ادارو په دننه کې د اداري فساد او صلاحیت څخه د ناوړه کارونی په وړاندی مبارزه ده ، د بررسی وړاندیز کړی.

## ۵) د سولې جوړونې په فعالیتونو کې د ښځو د حقونو وده او د هغوي نقش

- د هیواد په کچه خلکو د حکومت او نړیوالی ټولنې څخه د چټکو عملونو غوښتنه کړې څو داسې تدبیرونه خپل کړي چې د ښځو د بشري حقونو په هکله د ضرر لرونکو دودیزو فعالیتونو منفي اغیزې ختمې کړي او ښځو ته اجازه ورکړي چې د سولې ساتنې په ټولو نوښتونو کې برخه واخلي.

- افغانانو په حکومت غږ کړی څو د ښځو او نجونو په وړاندی د ضررلرونکو فعالیتونو په هکله په ټولو ټولنو کې د پوهاوی د لوړولو په موخه په فعالانه ډول کار وکړي او د ښځو په وړاندی د خشونت د له منځه وړلو د ۲۰۰۹ کال د قانون د بشپړ پلی کولو په موخه کار وکړي. زیاترو افغانانو توافق کړی "موږ به اجازه ور نه کړو چې( د سولې د تامین هر ډول هڅی د یوی برخی په حیث) د ښځو حقونه او یا بشري حقونه قربانی شي."

## ۶) د کاری فرصتونو د ایجاد او د معارف د سیستم د پیاوړی کولو له لارې د ځوانانو وړتیا

- افغانانو د زیاتی اندیښنې په درلودلو سره یادونه کړې چې طالبان او نورې وسله والې ډلې په اسانی سره کولای شي هغه ځوانان چې وزګار دی او ښه کارونه نه لري په دندو وګماری. خلکو د مسلکي مهارتونو د روزنو د مرکزونو د جوړولو او همدارنګه د کارونو د را منځ ته کولو د پروسې ، په تعمیراتی او پراختیایي پروژو کې د لا زیاتې پانګونې په شمول په اړتیا ټینګار کړی.

- نارینه وو ،ښځو او ځوانانو همدارنګه د حکومت څخه غوښتی څو د ځوانانو لپاره د معارف لا فعاله او موثره سیستم چې په هغه کې مناسبه زیربنا او کیفیت لرونکی مشقونه شامل وی ، را منځ ته کړي. افغانانو ټینګار کړی چې ښه تعلیمي زیربنا به د اضافی زده کونکو د ځای په ځای کولو د مسلې سره مرسته وکړي.

- افغانانو د حکومت څخه غوښتی څو په هغو ولسوالیو کې چېرې چې د وسله والو ډلو شتون د نجونو د زده کړې حقونه تر پښو لاندی کوي داسې هڅې طرحې ته واچوی ، څو ښوونځی بیا پرانیزی.

- د معارف د ښه کیفیت څخه د ډاډ حاصلولو په خاطر د ښوونکو د ظرفیت د لوړولو ، د عصري نصاب را منځ ته کولو او د ساینس او تکنولوژۍ په شمول ، په خاص دول د زده کونکو د ظرفیت د لوړولو په موخه ، لازمو هڅو ته اړتیا لیدل کیږي.

## ۷) د مساوي ټولنیزي او اقتصادی پراختیا تحقق

- افغانانو د اقتصاد او ټولنیزي پراختیا په ډګرونو کې ، د معارف د سیستم د پیاوړتیا په موخه د ریښتینو هڅو ،د کاری فرصتنو د را منځ ته کولو او پراختیا ته د مساوي لاسرسی څخه د ډاد حاصلولو په شمول لکه څنګه چې د پایښت

لرونکی سولې لپاره ضروری دی د پام وړ پرمختګ مشاهده کړی، زیاترو ښځو ، نارینه وو او ځوانانو تاکید کړی چې د ځینو ښکاره پرمختګونو سربیره ، د میلیاردونو ډالرو د لګښت په پرتله په هیواد کې د تیرو ۱۲ کلونو په ترځ کې لاسته راوړنې مساوي نه وی، پرمختګ نه باید یواځې د خدمتونو د مقدار ، د بیلګې په توګه د جوړو شویو ښونځیو او روغتونو د شمیر بلکله د دې مهمو خدمتونو د کیفیت له مخی اندازه شي.

- افغانانو تاکید کړی چې د کاری فرصتونو را منځ ته کول په خاص ډول د ځوانانو لپاره ضروری دی.

- افغانانو یادونه کړې چې د مساوي او پایداره پراختیا دوامداره نه شتون په اغیزمنو ځوانانو او نسیتمنو بزګرو جدي اغیزې پر ځای پری ایښی دی. د ټولنې دا دوه قشرونه د لوړی بیکاری ، د فرصتونو د نه شتون ، بې سوادی ، د مخدره توکو په وړاندی حساسیت او په ځینو ستراتیژیکو ولایتونو کې د مخدره توکو سوداګری اغیزمنه کړي. هغوي د حکومت څخه غوښتې څو په فعالانه توګه د کاری فرصتونو په را منځ ته کولو زیات تمرکز وکړي او د ځوانانو لپاره یې د معارف په دننه کې په پراختیایي پانګونه او د دې ستونزی په هواری ټینګار کړی.

- هغوي څرګنده کړې چې د کرنی په سکټور کې ، د بیلګی په توګه د ځمکی ورکول او د اوبو لګونی مناسب سیستم به کلیوالی اقتصاد ښه کړي. د دې علاوه ، خلکو واضح کړې چې دا به غوره به وی که چېرې خصوصی او دولتي تصدی ګانی ، د بیلګی په توګه د رخت جوړولو ،غالی جوړولو ،ممیز پاکولو ،تیلو جوړولو او لبنیاتو جوړولو کارخانی کاری فرصتونه را منځ ته کړي او د حکومت مناسب ملاتړ ترلاسه کړي.

- افغانانو یادونه کړې چې اکثرا زیاتره ټولنیزي شخړې د پراختیایي مرستو په اړه د نا مساوي لاسرسی څخه را ولاړيږی. نارینه ، ښځی او ځوانان باور لري چې ټول افغان وګړی  د دې حق لري چې په مساو ی ډول د پراختیایي مرستو څخه برخمن شی پرته له دی چې د هغوي قومیت ،سیاسي روابط ،د حکومت سره  اړیکی ، جغرافیایی موقیعت یا د هغوي په اړوندو سیمو کې د شخړو موجودیت په پام کی ونیول شی. د مباحثو ګډونوالو د هیواد په کچه د ارزیابی په کارولو ټینګار کړی څو د پراختیایي مرستو د موثریت د زیاتولو په موخه د پراختیایي پروژو څخه نظارت وکړي.

- په ټولیز ډول ، افغانانو د هغوي په سیمو کې د پایداره پرمختګ د حاصلولو په موخه یو لړ ریښتینی وړاندیزونه وړاندی کړل. د یو شمیر ولایتونو د کرنیز خصوصیت له امله ، یو شمیر ګډونوالو باور درلود چې پراختیایي مرستې باید د اوبو د هایډرو انرژی د بندونو په جوړولو ولګولی شي. د هغوي په ګمان به دا کار د وچکالی په له منځه وړلو ، د کارونو د را منځ ته کولو په برخه کې او همدارنګه د هغوي په ولایتونو کې د انرژی د دوامداره تدارک د برابرولو په برخه کې د پام وړ مرسته وکړي.

## ۸) د سولې په پروسه کې له شمولیت څخه ډاډ

- د خبرو اترو د پروسې په اوږدو کې ، عادي افغانانو په پراخه کچه ټینګار کړی چې د سولې او پخلاینی په پروسو کې د پراخ ګډون څخه ډاډ حاصلول ، د نارینه وو ،ښځو ، ځوانانو او لړکیو د ډلو لخوا د ګډون په شمول- د پروسو د بریالیتوب لپاره ضروری دی. خلکو باور درلود چې د مدني ټولنې ، ښځو او په عنعنوي لحاظ د ټولنې د تجرید شویو عناصرو پراخ ګډون به د شمولیت او د پروسې د ځایي مالکیت څخه په ښه توګه ډاډ حاصل کړي.

- یو شمیر افغانانو اندیښنه څرګنده کړې چې دوی په ځایي حکومتدارۍ ک ببرخه اخیستلو ته نه هڅول کیږي  او فکر کوي د سولې هڅی بې اثره کیږي. کیدای شي د ځوانانو د محرک کونکو پروګرامونو یا د استخدام د پالیسی ګانو د معرفي کولو له طرحې چې موخه یې ځوانان وي ،د دوی ډیر شمیر په ځان را مات کړي.

### ۹) د ټولنې پر اساس د شخړو د حل لارو د میکانیزمونو پیاوړی کول

- ګډونوالو همدارنګه یادونه کړې چې د خلکو د رهبري له طرحې افغانان د جرګو او شوراګانو په واسطه د شخړو او ځایي منازعاتو د حل یو قوی کلتور لري. دوی په عمومی توګه باور لري چې د شخړو د حل د داسې ځایي میکانیزمونو پیاوړی کول ښایی چې په یو ډول د خلکو ،د ښځو او نژادی لږکیو په شمول ګټو ته کار وکړي ، دا به سیاسي او ټولنیزه فضا ایجاد کړي چې د هغی په دننه کی عادي وګړی د یو بل او په جګړو ک ید ښکیلو خواوو سره د سولی په یوه دیالوګ کی شاملی شی.

- یو شمیر افغانانو خبرداری ورکړي چې جرګی او شورا ګانی نه باید د بشري حقونو د جدي سرغړونو د فیصله کولو په موخه د فورمونو په حیث کار وکړي.

### ۱۰) د سولې د ویجاړونکو خنثی کول

- د دې په خاطر چې د سولې د ویجاړونکو منفي اغیزو ته ځواب وویل شي ، افغانان د پوځ د پخوانیو جنګیالیو او همدارنګه د سولې د پخلاینی د پروسې د مشرانو لپاره د عینی خصوصیاتو پربنسټ په کلکه د بررسی طرفداری کوي. افغانان د هیواد په کچه باور لري ، هغه کسان چې د سولې په پروسه کې ښکیل دی باید صادق او د نفوذ درلودونکی کسان  و اوسی او همدارنګه په خپلو ټولنو کې د درناوی وړ او په دیوکراتیکه توګه انتخاب/انتصاب شوی وی. د دې علاوه ، خلکو په کلکه وړاندیز کړی ، هغه کسان چې د جنګی جرمونو او د بشریت ضد جرمونو په ارتکاب تورن وی باید د سولې د پروسې څخه و ایستل شي.

- هغه افغانان چې په سرحدي ولایتونو کې ژوند کوي د افغانستان له حکومت څخه غوښتنه وکړه څو د هیواد د خوندیتوب لپاره نورې هڅی ترسره کړي او هیواد ته د وسله والو ډلو د ننوتو مخه ونیسی. افغانانو د ګاونډیو هیوادونو د حکومتونو څخه وغوښتل څو د پوځي ډلو د مادی ملاتړ(وسلو او پټنځایونو) د برابرولو څخه لاس واخلي.

## ۱. پېژندنه

د سولې په اړه د افغانانو خبرې اترې (د خلکو خبرې اترې) د افغانانوو له خوا رهبري شوې ځانګړې نوښت دی چې عادي افغان ښځو ، نارینه وو او ځوانانو ته د دې فرصت ورکوي چې په هر اړخیزو بحثونو کې په افغانستان کې د پایښت لرونکې سولې ، پخلاینې ، امنیت ، اقتصادي او ټولنېزې پرمختیا ، بشري حقونو ، او د قانون د واکمنې په اړه خپلې نظریې بیانې کړي. د خلکو خبرې اترې د سولې په جوړونې او د شخړو په مخنیوي باندې په زور اچولو سره افغانان د پروسې د اصلي محور په څېر شمیري او په دې ډول عادي ښځو ، نارینه وو او ځوانانو ته د دې توانایي ورکوي چې پخپله د سولې له بهیر څخه دفاع وکړي. د یوولسو د مدني ټولنو سازمانونو/شبکو[۱] او د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمسیون په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوی(یوناما) په اداري مرسته د خلکو د خبرو اترو په لومړي او دویم پړاو کې د عمومي مباحثو ذمه واري اخیستې او په هغو د نظارت چارې یې ترسره کړي. د ۲۰۱۱ کال له پای څخه تر اوسه پورې د سولې په اړه د افغانانو خبرو اترو پروګرام په بریالیتوب سره تر (۶۰۰۰) څخه زیاتو افغان ښځو ، نارینه وو او ځوانانو سره کار کړی او د دوی نظریات یې پارولي ، پراخ کړی او ملي او نړیوالې پالیسي جوړوونکو ته یې وړاندې کړي.[۲]

د خلکو د خبرو اترو لومړی پړاو له ۷۸ متمرکزو ګروپي مباحثو څخه جوړ شوی دی او د افغانستان له ۳۴ ولایتونو[۳] څخه په ۴۱ هغو کې تر سره شوی چې له ۱۵۰۰ څخه زیاتو افغاني ښځو ، نارینه وو او ځوانانو په کې ګډون کړی و چې په بیلا بیلو قومونو پورې یې تعلق درلود او بیلا بیل اجتماعی او اقتصادي سوابق یې درلودل.[٤] د لومړی پړاو موندنې په یوه هر اړخیز راپور کې خپرې شوي چې د ۲۰۱۱ کال په ډسمبر کې د سولې په اړه د افغانانو خبره اتره ، د یو هر اړخیز سوله ییز بهیر لپاره د بنیادونو جوړونه تر عنوان لاندې خپور شو.[٥] راپور د لومړی پړاو موندنې په لنډیز سره بیانوي او څرګندوي چې د عادي افغانانو په نظر په ټول هیواد کې د دوامدارې سولې په وړاندې عمده خنډونه کوم دي لکه د امنیت نشتوالی ، بې عدالتي ، د قانون د واکمنې کمزوری اداري ، پراخ اداري فساد ، د اقتصادي پرمختیا او اجتماعی عدالت نشتوالی او د بشري حقونو د ساتنې لپاره محدود تدابیر ، د ښځو او نجونو د حقونو په ګډون. راپور همدارنګه عمومي موا فقه یاده کړې ده چې د هغو کسانو لپاره باید معافیت ونه شي چې د افغانستان په تیرو سختو وختونو کې یې بشري حقونه تر پښو لاندې کړي او دعادي افغانانو په سپارښتنو باندې پای ته رسیدلی چې افغان حکومت نړیوالې ټولنې ، وسله والو مخالفینو او مدني ټولنې ته یې کړې دي. راپور په افغانستان کې د مدني ټولنې سازمامونو ته د دې توان ورکړی چې د افغان نارینه وو ، ښځو او ځوانانو بیلا بیلې غوښتنې د افغانستان په اړه نړیوال کنفرانس (بن کنفرانس) ورسوي چې د ۲۰۱۱ کال د ډسمبر په ۵ نیټه جوړ شوی و. په دې ذریعه ددې یقین پیدا شو چې دعا دې افغانانو اواز ددوی نظریات ، اندیښنې او مشروع غوښتنې و اوریدای شي او د پالیسي جوړوونکو له خوا تر غور لاندې راشي چې په افغانستان کې د پایښت لرونکې سولې لپاره هڅې کوي.

---

[۱] د افغان مدني ټولنې څخه جوړه شوې ۱۲ کسیزې کمیټې د افغانانو د خبرو اترو لومړی او دویم پړاو تر څارنې لاندې نیولي او هغه یې رهبري کړی دی. په دې کمیټه کې دا لاندې سازمانونه شامل وو: د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون ، د افغان مدني ټولنې او بشري حقونو شبکه ، د افغان ښځو شبکه ، د افغان ښځو د مهارتونو د ودې مرکز ، د افغان ځوانانو ټولنیز او کلتوري مرکز ، افغان کارګري ملي اتحادیه ، د افغانستان د بشري حقونو او چاپیریال ساتنې سازمان ، د مدني ټولنې د ودې مرکز ، د سنایيي د پرمختیا ډله او د ښځو د سیاسی ګډون کمیټه.

[۲] د لومړي پړاو په دوران کې ، د خلکو په خبرو اترو کې له ۱۵۰۰ تنو څخه زیاتو عادي افغانانو په متمرکزو ګروپي بحثونو کې له ټول افغانستان څخه ګډون کړی و. په دویم پړاو کې ۴۶۴۸ نارینه وو ، ښځو او ځوانانو ګډون درلود.

[۳] د لومړي پړاو خبرو اترو په دې لاندې ولایتونو کې جوړ شوی و: بامیان ، بغلان ، بدخشان ، بادغیس ، دایکندي ، فاریاب ، فراه ، غزني ، غور ، هرات ، جوزجان ، کابل ، کاپیسا ، کندز ، کندهار ، خوست ، کنړ ، لغمان ، لوګر ، مزار شریف ، ننګرهار ، نیمروز ، نورستان ، (ګډون کونکی جلال اباد ته ارغلي وو) ، پنجشیر ، پکتیکا ، پکتیا ، سرپل ، سمنګان ، تخار ، اروزګان او زابل.

[٤] په دې ټکی ډېر ټینګار شوی و چې ګوښه کړای شوی وګړي ، او لړکی ډلې ، ښځې ، او ځوانان او د لیرې پرتو سیمو خلک باید د خبرو اترو په دواړو پړاونو کې ګډون وکړي. ډیرې هڅې وشوې چې ګډون کوونکی د خپلو ولایتونو د قومي جوړښتونو څخه استازیتوب وکړي. ټولو ګډون کوونکو د خلکو د خبرو اترو له لومړی او دویم پړاو څخه مننه کړې ده چې پراخسې مشورې او د ډیرو خلکو ګډون یې هڅولی.

[٥] د سولې په اړه د افغانستان د خلکو خبری اترې ، د یوې هر اړخیزې سولې لپاره بنسټ ایښودنه ، ډسمبر ، ۲۰۱۱ ، په دې پته:
http://www.aihrc.org.af/media/files/People%27s%20Dialogue%20FINAL%20report.pdf

د خلکو د خبرو اترو د لومړی پړاو له بشپړید وو روسته د هغه دویم پړاو او ۲۰۱۳ کال په اپریل کې پیل شو. لکه څنګه چې په لومړی پړاو کې ، دویم پړاو هم په دې منظور عملي شو چې د سولې ټولیزه شفافه او حساب ورکونکی پروسه په دی ډول پر مخ بیول شي چې د هیواد د راتلونکی بهیر په اړه د خلکو نظریات تر لاسه کړي. افغاني مدني ټولنې د خلکو د خبرو اترو په دویم پړاو کې له ۴۶۴۸ افغاني نارینه وو ، ښځو او ځوانانو سره کار کړی (۶۷ سلنه یې نارینه ، ۳۳ سلنه ښځو په متمرکزو ګروپي بحثونو کې ګډون درلود ) او هدف یې دا و چې د عادي خلکو له نظره هغه ځایي لاملونه و پیژندل شي چې خلک فکر کوي د لسیزو جګړو شاته پراته دی او همدارنګه د جګړو حل لارې په ګوته کړی او هغو جګړو ته خاتمه ورکړی چې دوی په کې ځوریدلي دي. په دویم پړاو کې د افغاني ټولنې د بیلا بیلو برخو څخه استازو ګډون کړی و چې د کور ښځې ، د کانداران ، ښوونکي ، بزګران ، زده کوونکی ، قومی مشران مذهبی لارښوونکي ، ځوانان ، پخواني وسله مخالفین (پخوانی طالبان) او د پرمختیا یې پروژو ګټه اخیستونکی پکې شامل دي [۶] نژدي ۲۰۰ متمرکز ګروپي بحثونه ، چې د افغاني مدني ټولنې له خوا رهبري کیدل د هیواد په ۳۴ ولایتونو [۶] کې تر سره شوی دی. په دې برسیره ، ډیری کارکوونکو ته د دې فرصت ورکړل شو چې په انفرادي مرکو او د نظریاتو د سروې په ترځ کې د سولې او پخلاینې په اړه خپل نظریات څرګند کړي [۸]

له ۴۶۴۸ څخه د زیاتو ګډون کوونکو ، چې د خلکو د خبرو اترو په دویم پړاو کې یې ګډون درلود مهمي مسالې او حل لارې وړاندې کړي چې د سولې لپاره د ځایي نقشو ۳۰ نمونی یې ایجاد کړي.[٦] دغه ځایي نخښې کولای شي د اوسنیو شخړو لاملونه او دهغه حل لارې د ولسوالۍ ، ولایت او هیواد په کچه په ګوته کړي.

د هغو مسالو په اړه د عادي افغانانو د نظریو په غوښتلو چې کولای شي د دوی په ژوند ژوره اغیزه ولري او د دغو نظریاتو په خپرولو سره د خلکو د خبرو اترو پروګرام په نظر کې لري چې هر اړخیزې او داسې سولې ته پرمختیا ورکړي چې د حقوقو پربنسټ ولاړه وي. دغه راپور د ارقامو په کیفی تحلیل باندې تکیه کوي او مهمو موندنو او هغو نظریاتو لنډیز بیانوي چې په ټول هیواد کې افغانانو بیان کړی دي. ولایتي ځای نخښې عادي افغانانو ته د دې توان ورکړې چې د خپل ولایت لپاره د سولې د جوړونې یو پلان وړاندې کړي او هغه ملي او نړیوالو پالیسي جوړوونکو ته ورسوی او ښایی د محلي سوله ییزو موافقو لپاره هم بنیاد جوړ کړي.

---

[٦] د سولې لس ځایي لار نخښې د ۲۰۱۴ کال جون په نیمایي کې په کابل کې په ملي کنفرانس کې معرفي شي (بلخ ، دایکندي ، فراه ، کابل ، کندهار ، خوست ، کنړ ، کندز ، لوګر ، او میدان وردګ) پاتې ۱۹ د سولې ځایي لار نخښې به د دې کال د دویمې نیمایي په ترځ کې معرفي شي. د سولې ټولې لار نخښې به په انګلیسي ، دري او پښتو ژبو لیکلی شوې وې او هدف یې دا دی چې په ولایتي کچه د پالیسي په جوړونه کې د ځایي خلکو له نظریاتو او غوښتنو څخه مرسته تر لاسه شي.

## ۲. د شخړو بنسټیز لاملونه

> ***"په اصل کې زمونږ سیاستوال خلکو ته یو څه وایی خو کوي بل څه"***
> -- د خلکو د خبرو اترو ګډونوال ، کندهار ولایت

د متمرکزو ګروپي مباحثو په ترڅ کې چې په ټول هیواد کې تنظیم شوې وې ، افغاني نارینه وو ، ښځو او ځوانانو ، چې د سولې په اړه د خلکو د خبرو اترو په دویم پړاو کې یې ګډون درلود ، د دوی په سیمو کې د جګړو د بنسټیزو لاملونو په اړه خپل نظریات بیان کړي دي.[۷] په ځانګړې ډول پراخ اداري فساد ، له ځواک څخه بده استفاده او ډیر عام معافیت ، نا امني ، د قومي ، قبیلوی او ګروپي شخړو پراختیا ، د ټولنیز او اقتصادي دوامدارې پرمختیا نشتوالی او بې کاري ، د ناقانونه اقتصادي فعالیتونو د کنترول پر سر سیالی(یانی د اپینو کښت او د مخدره توکو قاچاق ) او په ځوانانو باندې د شخړو اغیزې د بنیادی اندیښنو په څېر یادی شوی دی. د افغانانو نارضایت او خوابدی له خپل حکومت څخه چې د فساد ، د قانون د واکمنې له کمبودی او په بشري حقونو د تیریو له امله را پیدا شوی د جګړو د دوام له لومړینو لاملونو څخه شمرل شوي. همدارنګه ، افغانانو په ټول هیواد کې په دی شک څرګند کړ چې د سولې او ستی هڅی[۸] به د دوی په ولایتونو کې د دوامداره سولې سبب وګرزی ، له دې سره دوي پخپله حل لارې وړاندې کړې دي.

### ۲.۱. پراخ اداري فساد ، له ځواک څخه ناوړه ګټه او له جزا څخه معافیت

په ټول هیواد کې افغاني نارینه وو ، ښځو او ځوانانو اداري فساد ، له ځواک څخه بده استفاده او له جزا څخه معافیت د جګړو او نا امنی د اصلي لاملونو په څېر په ګوته کړل. خلکو وویل چې فساد او له هغه سره تړلې له ځواک څخه ناوړه استفاده ، چې د اشمار بیلا بیلې کچې او بیلا بیل اړخونه لري په ټولنه او حکومت کې د ننه یوه ډیره پراخه ستونزه ده. د بلخ د ولایت د نهر شاهی د ولسوالی یوه تن قومی مشر یو نظر څرګند کړ چې په ټول هیواد کې غبرګ شوی:

> *"فساد د سرطان ناروغی ته ورته دی او د یوی قاعدی په څېر منل شوی دی. زه په دې ټینګ باور لرم او زه یقین لرم چې دلته هر یو له ما سره همغکره دی. چې دغه بدغونی پدیده زمونږ په هیواد کې د جګړو د دوام یو لوی لامل دی."*

له کندهار څخه یوه تن د ټاکنوی قانون کې دشته نیمګړتیا وو له امله خپله خواښینی داسی څرګنده کړه:

> *"خلک ټاکل کیږي ځکه دوی رایې رانیسي. له دې امله د دوی لومړیتوب کله چې ځواک ته رسیږي دا وي چې د امکان تر بریده ډیرې پیسې پیدا کړي (ترڅو خپل لګښتونه بیرته لاس ته راوړي.) کله چې دوی دغه هدف ته ورسیدل ، بیا ښایي خلکو ته د خدمت کولو په فکر کې ولویږي."*

یوه بل تن له کندهار څخه په قضا کې د فساد له امله خپله خواښینی داسی څرګنده کړه:

---

[۷] د خلکو د خبرو اترو لومړی او دویم پړاو د خیړنې بیلا بیل میتودونه احتوا کړي دی لکه متمرکز بحثونه ، یو په یوځورې انفرادي مرکې له غوره شویو اشخاصو سره او د نظریاتو سروې ګانې.
[۸] لکه د افغانستان د سولې او بیا یو ځای کیدنې پروګرام وګورئ: ۲/۶ برخه ، ۱۶ مخ ، د ای پي ډ پي په اړه د خلکو نظریې.

*"زمونږ قضايي سيستم په بشپړ ډول فاسد دی. جنايت کاران ازاد ګرځي او بې ګنا کسان په محبسونو کې پراته دي. "*

د بغلان ولايت د خنجان د ولسوالۍ څخه يوې ښځې وويل چې څنګه مجرمين په بشپړ ډول له معافيت څخه برخمن دي:

*"زما ۲۴ کلن زوی د خنجان په ولسوالی کې د جهادی قوماندانانو تر منځ په جګړو کې ووژل شو. که څه هم زه مجرم پيژنم ، خو هيڅ کولای نه شم. زما يوازينۍ هيله دا ده چې حکومت به هغه تر تعقيب لاندې ونيسي."*

څرنګه چې په سيستم کې د ننه د اداري فساد په اړه فکر کيږي ، زيات شمير افغانانو چې د خلکو په خبرو اترو کې يې ګډون درلود هغه اړيکه ياده کړې ده چې د پراخ اداري فساد ، د قانون د واکمني او عدالت په منځ کې شته. د مثال په ډول ، د بدخشان ولايت دا ارګو ولسوالی يوه تن ښوونکي وويل:

*"خلک په هغه وخت کې عدالت ته رسيږی چې مجرمين په سزا ورسيږي. له جزا څخه معافيت بايد په افغانستان کې پای ته ورسيږي زموږ خلک بايد د هغو کسانو په وړاندې و دريږي چې په تيرو وختونو کې يې جرمونه کړي دي او اوس ازاد ګرځي. له جزا څخه معافيت منفی پايلې لري. معافيت مجرمينو ته قوت ورکوي چې بيا جرمونه وکړي. مجرمينو ته جزا ورکول کېدای شي چې ديوی ښې منع کوونکی وسيلی په څېر وکارول شي څو نور د دې تابيا ونه کړی چې دغه ډول جرمونه تر سره کړي. "*

په ټول افغانستان کې خلک په دې باور وو چې اداري فساد "د نفوذ کولو" لپاره يوه لار ده او معافيت د اداري فساد يوه مستقيمه پايله ده ، چې مثال يې په قضايی سيستم کې وينو. دوی د معافيت هغه دوا مداره ميراث ته اشاره وکړه چې په تيرو وختونو کې او هم په وروستيو وختونو کې د جرمونو د ارتکاب لپاره يو عادي حالت ګرځيدلی دی. افغانانو وويل چې حکومتي دستګا لکه پوليس ، څارنوالی او قضا د معافيت د کلتور د تقويې لپاره مسوول دی ، ځکه دوی مجرمينو ته جزا نه ورکوي. يوه تن مذهبي مشر د فارياب له ولايت څخه د دې معافيت په باره کې وويل:

*"د جګړو اصلي لامل ، په خاص ډول د ولسوالي په کچه حکومت دی (ځايي اداره چې) په ټول فارياب کې په ډيرو ولسواليو کې ځايي چارو کې خپلې دندې په مناسب او ربښتينی ډول نه اجرا کوي. دوی ډير په فساد کې غرق دي. کله چې دعادي خلکو ځمکې د زور واکانوله خوا اشغال شي ، ځايي چاروا کې زموږ شکايتونه نه اوري . د مثال په ډول ، قيصار کې هغه کسان چې پريکړې کوي هغه دوه تنه زور واکان دی (دواړه د پارلمان غړی دی). دوی قيصار په خپلو منځو کې په دوو برخو ويشلی دی. د ولسوالی چارواکی نه غواړی يا نه شي کولای چې د دوی په پريکړو کې مداخله وکړي. "*

د افغانانو اکثريت کسانو بدي اخستل ، اختلاس او له ځواک څخه د خپلوانو په ګټه ناوړه استفاده کول داسی عملونه وشميرل چې د حکومت په ټولو کچو کې رواج ګرځيدلی. په ځانګړي ډول د قانون د انفاذ او قضايی ادارو کې – دغه عملونه نوموړی اداري شنډې کوي او نه شي کولای چې خلکو ته مشروع خدمتونه وړاندې کړی او په دی ډول د خلکو او حکومت په منځ کې واټن نوره هم پراختيا پيداه کوي. په جلال اباد کې د کارګرانو ا اتحادی يوه غړي وويل چې له سيستم څخه نارضايت څنګه شخړو ته لمن وهيی او خلک د ياغيانو لوري ته سوق کوي.

*"قضا او د څارنوالی دفترونه یوازی هغه څوک تقویه کوي چې پیسې لري. زمونږ له کارګرانو څخه یوه تن له یوه جنګ سالار سره دعوه درلوده ځکه هغه د ده کور غصب کړی وه. کارګر ټول ضروری سندونه درلودل چې د ده ملکیت ثابت کړ ي ، او په داسې حال کې چې دریو محکمو دده په ګټه پریکړې صادرې کړی دی ، خو بیا هم و نه توانیده چې خپل کور تر لاسه کړ ي. هغه افغانستان پرېښود اوله طالبانو سره یو ځای شو. هغه غواړي چې له جنګ سالار څخه غچ واخلی."*

همدارنګه ، نژدې ټولو ګډون کوونکو وویل چې طرفداري او بیروکراسي په قضای سکټور کې خلک دې ته اړایستلی دي چې خپلی حقوقی او جنایی قضیې له بدیلو لارو حل کړي ، لکه د دعو و د حل ځایي او د ودیزي لارې چارې یا د طالبانو محکمې چې د دوی په ساحو کې فعاله و ي. د کندهار له ولایت څخه یوه تن بز ګر وویل:

*"خلک دې ته تر جیح ورکوې چې خپلی حقوقی او جنایی قضیی د محلي شوراګانو له لارې حل کړي ، چې د رسمی قضایی موسسو اعتبار ته ډیر زیان رسوي."*

د بادغیس ولایت د قلعه نو د ولسوالی اوسیدونکی وویل:

*"بل دلیل [خلک له طالبانو سره مرسته کوي] ناکاره حکومتداری ده. خلک کله چې له حکومت سره سروکار ولري هیڅ امید نه لري ، او د دې په ځای د طالبانو محکموته مراجعه کوي."*

د لغمان په ولایت کې دیوی ځایي غیر حکومتي موسسې استازي وویل:

*"بل بدیل موږ نلرو بې له دی چې د طالبانو محکمې ته مراجعه وکړو څو موږ خپلی دعوی فیصله کړو."*

ګډون کوونکو په حکومت باندې سخت انتقادونه وکړل ځکه چې د حکومتي چارواکو د مقرر یو په وخت کې د خپلوي مناسبات او د رشوت اخیستل ډیر نقش لري. د دوی په باور دغه کار د دې سبب ګرځي چې خلک له حکومت څخه ناراضه شی. د دایکندي په ولایت کې اداري فساد ، په ځانګړي ډول په قضایی سکټور کې په داسی ډول کنټل کیږي چې ټول سیسټم یې تر سیوري لاندې وي. د دایکندی ولایت د شهر ستان د ولسوالی څخه ګډون کوونکو وویل:

*"فاسد حکومت د افغانستان د مختلفو قومونو تر منځ له تبعیض څخه کار اخلي او حکومتي چارواکي د دوی د وړتیا په بنسټ په دندو نه مقرریږي. په بشري حقونو په سیستماتیک ډول تیری کیږي او ددې په نتیجه نیستي او د معافیت کلتور ددعوو او مخالفتونو سبب ګرځي."*

له دایکندي څخه مدافع وکیل وویل:

*"کمزوري او فاسد عدلی سیستم امنیت په خطر کې اچوی او په دی ډول د جګړو د پراختیا سبب ګرزي."*

له دایکندی څخه یوه ژورنالیست تایید کړه چې:

*"کله چې قضایی سیستم په مناسب ډول وظیفه اجرا نه کړی ، په دې کار سره په موږ کې د غځ اخیستنې احساس راژوندی کیږي . "*

همدارنګه ، د فاریاب له ولایت څخه یوه تن ژورنالیست د حکومتي مقرریو د پروسې په اړه وویل:

*"د حکومت د مقرریو پروسه پخپله له فساد څخه ډکه ده . د ولایت له کچی څخه خلک کابل ته ځي اوهلته د خپلو ځانونو لپاره حکومتي څوکۍ رانیسي. کله چې دوی څوکۍ ونیولې ، بیا دوی مجبوریږي چې په کابل کې د خلکو لپاره رشوتونه راغونډ کړی ددې لپاره چې په دې څوکیو پاتې شي. "*

همدارنګه ، د پنجشیر له ولایت څخه یوه تن پخوانی جهادي قوماندان د خلکو او حکومت تر منځ د زیاتیدونکي واټن په اړه خپله اندیښنه څرګنده کړه.

*"له جهاد راهیسی د هیواد اجتماعی او سیاسي جوړښت بدلون موندلی. په پخوا کې موږ یومشر درلود ، احمدشا مسعود ، خو اوس څو رهبران لرو چې ټول مخکی له دی چې د خلکو په اړه فکر وکړی ، د خپلو ګټو په فکر کې لویدلي دي. زموږ اوسنی رهبران د ټولنې له ستونزو ناخبره دی ، دوی حتی له موږ سره خبری هم نه کوي. "*

د هلمند له ولایت څخه د مدني ټولنې یوه غړی له دی لاندې خبرو سره موافقه ښکا ره کړه:

*"د شخړو لومړی او ډیر مهم عامل هغه واټن دی چې د خلکو او حکومت تر منځ پیدا شوی. د خواښینی خبره دا ده چې دغه واټن کال تر بل پراخیږي . "*

دغه ډول نظریات په ټول هیواد کې اوریدل شوي. د ګډون کوونکو زیات شمیر راپور ورکړی چې په ولایتونو کې د مختلفو وزارتونو په ریاستونو کې فساد د دې سبب ګرزیدلی چې منابع په غیر عادلانه ډول وویشل شي او د پرمختیایی مرستو په منځ کې هم تعادل نشته. په دی ډول د ټولنو په منځ کې دننه او د مختلفو ټولنو تر منځ مخالفتونه زیاتیزي ، لکه څنګه چې د مدني ټولنې یوه تن فعال د لغمان له ولایت څخه وویل:

*"د ملی پیوستون د پروګرام[9] د پیسو غلا کول د قومی مشرانو له خوا یا د پروژې منابع د شورا د غړو د شخصی ګټو لپاره اختصاصول د ټولنې او قبیلو په منځ کې پخوانی هیجان نور هم زیات کړی دی. "*

له هلمند ولایت څخه د ولایتی شورا یوه غړی هلته په قضایی سکټور کې د فساد په اړه داسی وویل:

*"مایو سړی ولید چې د بایسکل د غلا له امله څو کاله په بند کې پروت و. د دې برعکس یو قاتل ازاد شو. خلک په دی فساد نه پوهیږي ، ځینې له وسله واله مخالفینو سره یوځای شي ځکه چې نا هیلی شي او د عدلي سیستم له بې بندباری څخه په تنګ شوی دی. دغه راز د ځینو ولسوالانو په ضد هم تورونه شته ، خو هغوی لا اوس هم په خپلو*

[9] د ملي پیوستون پروګرام د کلیو د پراختیا د وزارت له خوا په ۲۰۰۳ کې تاسیس شو.

*ځوکیو ناست دي. حکومت د دوی په فساد سترګی پټی کړي دي. زموږ په سیستم کې داسی قوي ځواکونه شته چې غواړي له جزا د معافیت کلتور لا نور هم ژوندی پاتی شي."*

افغانانو په مکرر ډول شکایتونه کړی دی چې څنګه اداري فساد په خپل وار د قانون د غیر عادلانه تطبیق سره مرسته کوي. د مثال په ډول ، د کندهار ولایت څخه یوه ښه تعلیم یافته وویل چې د هغو یاغیانو په مجازات کولو کې چې په بشري حقونو یې تیری کړی دی یا یې نور جرمونه تر سره کړی له یو ډول معیارونو څخه کار نه اخستل کیږي:

*"د یاغیانو او جنګیالیو له منځه کوچني کبان جزاویني او محبسونو ته ځی. خو ددې برعکس ، مشران هغه او زیات مجرمین قوماندانان چې ځواک او نفوذ لري کولای شي چې د ځانونو لپاره په مذاکرو کې ښه امتیازات کمایي کړي ، لکه ښایی په کابل کې د ښې تنخوا کارونه او یا د سولې په پروسه کې د مذاکره چې په حیث دنده."*

له کابل څخه یوه تن ګډون کوونکي هم د قانون غیر عادلانه تطبیق یوه لویه اندیښنه وبلله:

*"د حکومتي چارواکو له خوا د قانون په تطبیق کې غفلت د حکومت د دری ګونو قواوو له خوا له قانون څخه سر غړونه (ولسمشر ، پارلمان او قضا) او د افغانستان په ټولو اتباعو باندې د قانون یو شانته نه تطبیق کول زموږ له مهمو اندیښنو څخه دي. د مثال په ډول ، قانون په غریبو خلکو تطبیق کیږي ، خو هیڅکله د یوه وزیر په زوی نه تطبیق کیږي. په افغانستان کې په ښکاره ډول ټولنېزه بې عدالتي روانه ده. حکومت باید د افرادو بشري حقونه وساتي."*

ددې مثال په اړه د لغمان ولایت دالیشنګ په ولسوالی کې دیوی ځای مدرسې مدیر د یوه میکانیزم وړاندیز وکړ چې له پراخ اداري فساد سره د مبارزې په منظور څارنه وکړي:

*"یو خپلواک کمسیون ، چې له مختلفو وزارتونو څخه جوړ شوی وی باید تاسیس شي چې حکومتي موسسات تر څارنې لاندې ونیسي. کمسیون باید پلټونکی یا داسي افراد استخدام کړي چې د ناقانونه فعالیتونو [فساد] په اړه چې چارواکی په کې ښکېل وی ، معلومات راغوند کړي."*

سره له دی چې په عموم ډول شکایتونه وشول ، یو څو تنو افغانانو چې په خبرو اترو کې یې برخه اخیستې وه فکر کا وه چې ځینې حکومتي چارواکي ریښتني او ارزښتناک کسان دی. د مثال په ډول ، د کندهار له ولایت څخه د مدني ټولنې یوه غړی ومنله:

*"ددې بې اعتمادي د شتون یو دلیل دا دی چې حکومت په یوه ولسواکه ټولنه کې د غیر حکومتي فعالینو له نقش او دنوه سره نا اشنا دی. موږ باید خپلې اړیکې او مفاهمې زیاتې کړو ، یو اوبل وپیژنو او دسازنده اړیکو د جوړولو لپاره هڅې وکړو."*

## ۲.۲. ویجاړیدونکې امنیتي وضعه

افغان نارینه وو ، ښځو او ځوانانو چې په خبره اتره کې یې ګډون درلود په ندامت سره خپل امنیت د دولتی موسساتو په اغیزمنتوب پورې تړلې شمېره د ملکي تلفاتو لوړ شمیر ته په کتو سره ، نږدې ټولو افغانانو چې په متمرکزو ګروپي مباحثو کې شامل وو ، وویل چې امنیتي وضعه په تدریج سره په ټول هیواد کې ویجاړه شوې ، په تیره بیا که له هغه نسبي ارامې وضعې سره پرتله شي چې د طالبانو د نسکوریدو وروسته(۲۰۰۱-۲۰۰۶) مسلطه وه. د پراخ اداري فساد او د قانون د کمزوری واکمني له وجې د خبرو اترو د دویم پړاو د ګډون کوونکو په باور ویجاړیدونکې امنیتي وضعه او له دې سره تړلې په ټول هیواد کې د ملکي تلفاتو د شمیر زیاتوالی په افغانستان کې د سولې او ټیکاو او د بشري حقونو د ساتنې په وړاندې یو بل ګواښ ګڼل کېدای شي.

### د کافي افغان ملي امنیتي ځواکونو نشتوالی

په خبرو اترو کې افغان ګډون کوونکو د نا امني لومړني عوامل په دې کې لټوي چې افغان ملي امنیتي ځواکونو د کیفیت او کمیت له مخې کافي رشد نه دی کړی ، له نړیوالو نظامي ځواکونو څخه بې وخت ډول امنیتي مسوولیتونه دوي ته ولیږدول شول ، او په عام ډول په عامو وګړو کې د حکومت پلوه او حکومتي ځواکونو په وړاندې کرکه مخ په زیاتیدو ده. دغه کرکه د ګډون کوونکو په باور له دې څخه راپیدا شوې چې نړیوال او افغان امنیتي ځواکونه ، همدارنګه افغان ملي پولیس ، افغان محلي پولیس او حکومت پلوه ملیشه ځواکونه نا مناسب او ناوړه کارونه ترسره کوي.[۱۰] له کندز ولایت څخه د پوهنتون یوه محصل د حکومت او حکومت پلوه ملیشه ځواکونو ترمنځ اړیکو ته اشاره وکړه او و یې ویل:

> *"حکومت د دې ناوړه ملیشه ځواکونو له تقویې څخه لاس نه اخلي ، ځکه دوي هغه د یاغیانو په ضد کاروي. دوي ته تنخوا نه ورکوي او خپلې وسلې ګرځوي ، نو ځکه د حکومت لپاره دا ډېره اقتصادي خبره ده چې له دوي څخه استفاده وکړي تر دې چې افغان ملي امنیتي ځواکونه تمویل کړي."*

د کندهار ولایت له یوې لرې پرتې سیمې څخه یوه مشر پوښتنه وکړه:

> *"ایا د طالبانو او افغان ملي امنیتي ځواکونو ترمنځ څه توپیر شته؟ دوي دواړه ظالمان دي. حکومت د ورځې موږ استثماروي او طالبان موږ د شپې ګواښي. هیڅ لوری زموږ د حقونو درناوی نه کوي."*

په ټول هیواد کې ښځو ، نارینه وو او ځوانانو په مباحثو کې یو ډول احساسات څرګند کړل. خلکو په تکراري ډول اندېښنه څرګنده کړه چې دوي له یوې خوا د یاغیانو او له بلې خوا د دولتي ځواکونو او د حکومت د استازو په لومه کې ګیر دي. دوي په دې باور و ، چې حکومتي ځواکونه د خپل ځان لپاره خدمت کوي او د خلکو ګټې یې هیرې کړي دي.

### په دولت کې د ننه دولت

په ټولو هغو ولایتونو کې چې نا امني د ځایي ټولنو لپاره یو ګواښ جوړوي ، افغانانو په پرلپسې ډول وویل چې په لیرې پرتو سیمو کې او همدارنګه په نا امنو یا تر جګړې لاندې سیمو کې د حکومت نشتوالی د جګړو اصلي لامل و. د حکومت ناتواني چې نه شي کولای د هیواد په ډیرو برخو کې په کافي شمیر او کچه ملي امنیتي ځواکونه ځای په ځای کړي چې په دې ډول یې یوه امنیتي

[۱۰] په خانګړي ډول ، افغان ملي اردو د ګډون کوونکو له خوا مثبت ګڼل شوې ده.

تشه رامنځ ته کړې ده ؛ خلکو وویل چې د افغان ملي امنیتي ځواکونو نشتوالی د طالبانو له موجودیت سره او همدارنګه له نورو نا قانونه وسله والو ډلو سره په دې سیمو کې مرسته کړې ده. د تخارولایت له یوې ولسوالۍ څخه یوې ښځې په ټول هیواد کې د نا امنۍ او په حکومت باندې د خلکو د باور نه درلودلو په اړه وویل:

*"د شخړو د دوام عمده لاملونه د یاغیانو فعالیتونه ، له دوی سره د خلکو له خوا همدردي ، او د خلکو او حکومت ترمنځ د باور د فضا نشتوالی دی.عادي افغانان په زړه نا زړه ډول له یاغیانو سره مرستې کوي ، ځکه دوی په دې باور نه لري چې افغان حکومت به دوی له طالبانو څخه وساتي."*

د هیواد په ډیرو نا امنو سیمو کې په بحثونو کې افغانانو په دې ټینګار وکړ چې د طالبانو د نفوذ له ویرې او د ملي امنیتي ځواکونو د نا کافي شمیر له امله افغان حکومت دې ته اړ شوی د افرادو د امنیت د ساتلو په موخه بدنامه ځایي ملیشې چې له پخوانیو حکومتونو سره یې اړیکې درلودې د امنیت په ساتلو وګماري. دغې پدیدې ته د کندز له ولایت څخه ګډون کوونکو اشاره وکړه چیرې چې په "دولت کې یو بل دولت" ایجاد شوی او "قانون" په محلي کچه نه په ملي یا ولایتي کچه اداره کیږي. همدارنګه په نورو برخو کې هم ورته نظریې او انګیرنې موجودی وې. د مدني ټولنې یوه تن د وسله واله ملیشه ځواکونو د پراخیدو په اړه خپله اندیښنه څرګنده کړه او د بادغیس د ولایت د امنیتي وضعې په اړه یې داسې وویل:

*"قبیلوي مشرانو د خپلو ګټو لپاره انفرادي ډلې جوړې کړې دي.په دې ډول د قبیلو ترمنځ شخړې زور اخلي او تر دې بریده پراخیږي چې دوی له وسله والو ډول (لکه طالبان) سره یو ځای کیږي."*

د پروان ولایت د سید خیلو له ولسوالۍ څخه یوه قومي مشر په خپله ساحه کې د وسله والو پراختیا او د ځواک لپاره د دوی هڅې داسې بیان کړې:

*"نا قانونه وسله واله ډلې په هر ځای کې شته.... [دوی] سوله نه غواړي ، ځکه په سوله کې دوی ځواک له لاسه ورکوي. له دې امله دوی په ټولنو کې شخړې راپیدا کوي. دا زموږ په ټولنو کې بدمرغه حقیقت او د سولې په وړاندې رښتوني محدودیتونه دي.ترڅو چې دغه ډلې وتلې نه وي ، سوله یو خوب او خیال پاتې کیږي."*

د ځایي ملیشو وسله وال کول او ځواکمن کول او له دې سهر تړلې محلي جګړې ، چې بیا په پراخو شخړو بدلیږي ، دارنګه په بشري حقونو د تیر پیه اړه د حساب ورکونې نشتوالی ، چې د ناقانونه وسله والو ډلو له خوا ترسره کیږي ، په ټول افغانستان کې د وسله والو جګړو د سترو لاملونو په توګه پیژندل شوي. افغان نارینه وو ، ښځو او ځوانانو په مکرر ډول دې پالیسي ته ګوته نیولې ده چې امنیتي چارې د ملیشه ځواکونو په ذریعه ساتل د دې سبب ګرځیدلی چې د خلکو او حکومت ترمنځ د باور فضا کمزورې شي.

### د امنیتي مسوولیتونو بې وخته لیږد

افغانانو همدارنګه *"د امنیتي مسوولیتونو بې وخته لیږد"* له نړیوالو ځواکونو څخه ملي ځواکونو ته هم داسې ګڼلې چې امنیتي تشه رامنځ ته کوي او دغه ډول د ۲۰۱۴ په پای کې د نړیوالو نظامي ځواکونو وتل هم د دوی په نظر یو ډول د شک او ویرې فضا خپره کړې. په ډیالوک کې ګډون کوونکي افغانان په عمومي ډول په دې باور وو ، چې د نړیوالو ځواکونو کمښت او له دې

ځواکونو خه د امنیتي مسوولیتونو لیږد ، چې په ښو روزل شویو ځواکونو او ځمکنیو او هوایي عصري ټکنالوژي سمبال دي ، افغان امنیتي ځواکونو ته ، چې د محاربوي وړتیا او هوایي مرستو له پلوه کمزوري دي ، یوه امنیتي تشه رامنځ ته کړې او یاغي ډلې دغه امنیتي تشه د پروپاګند په ډول په خپله ګټه کاروي او داسې وړاندوینه کوي چې په نیمګړو افغان ملي امنیتي ځواکونه به په اسانۍ برى ومومي. د مثال په ډول ، په میدان وردکو کې ډله ییزو خبرو اترو څرګنده کړه چې د امنیتي مسوولیتونو له لیږد او د نرخ له ولسوالي څخه دځانګړو ځواکونو له وتلو وروسته یاغیانو بیا خپل قوت موندلی دی. د فاریاب له ولایت څخه ګډون کوونکو دې ته ورته شک څرګند کړ ، چې د نړیوالو امنیتي ځواکونو له وتلو سره تړلې دي او و یې ویل چې دې پېښې د ملي امنیتي ځواکونو او افرادو په مورال منفي اغیزه کړې ده. د فاریاب ولایت د ښځو د شورا یوې غړې داسې وویل:

*"له فاریاب څخه د نړیوالو نظامي ځواکونو وتل په فاریاب کې د وسله والو مخالفینو مورال تقویه کړي دي. له هغه وروسته ، وسله والو ډلو وکولای شو چې نورې ډېرې ساحې تر خپلې ولکې او نفوذ لاندې راولي. نن ورځ د فاریاب په ډیرو کلیو کې خلک د طالبانو د قانون واکمني مني ، ځکه چې دوي دلته ځواکمن دي او ډیر نفوذ لري."*

افغان میرمنو ، نارینه وو او ځوانانو دغه راز وویل چې د افغان حکومت کمزوري ډیپلوماسي د نړیوالو ځواکونو د وتلو په اړه منفي اغیزې کړې دي. د پوهنتون یوه استاد وویل:

*"کله کله سیاستوال په عمدي یا غیر عمدي ډول امنیتي شرایط بدتر کوي. د مثال په ډول ، دوي خلکو ته خبر داری ورکړ چې په ۲۰۱۴ کې د نړیوالو نظامي ځواکونو تر وتلو وروسته به طالبان بیا ځواک ته ورسیږي. دغه ډول تبصرو [په فاریاب کې] د وسله والو ډلو مورال لوړ کړی او عادي خلک په ویره کې لویدلي دي."*

### د بې باوري پراختیا

د افغانانو او د دوي د حکومت ترمنځ د بې باوري پراختیا په مکرر ډول په ټول هیواد کې د نا امني او بې ثباتي لوي لاملونه ښودل شوي. په خبرو اترو کې ګډون کوونکو په ټول هیواد کې له حکومت څخه د امو خلکو د کرکې په اړه اندیښنه څرګنده کړه ، چې د افغان او نړیوالو امنیتي ځواکونو د ناوړه عملونو په پایله کې راپید شوي. دغه کړنې د افغان ملي پولیسو ، افغان محلي پولیسو ، حکومت پلوه ملیشه وو او نړیوالو نظامي ځواکونو له خوا ترسره شوي. دوي ډېر شمیر تیري او له بشري حقونو څخه سرغړونې یادې کړې ، که وژنې ، شکنجه ، په خپل سر توقیفول ، نا قانون شکونې چې د دې ځواکونو له خوا ترسره شوي او بې له جزا څخه معاف شوي دي. د نورستان ولایت د نورګرام له ولسوالی څخه یوه قبیلوي مشر تور ولګاوه چې د ملي پولیسو یو افسر چې یو ځای شخص یې و واژه لا اوس هم په خپله څوکې کار کوي.

*"د افغان ملي پولیسو یوه افسر یو غریب سړی د یوې شخصي دعوې په سر د افغان ملي پولیسو دفتر ته نږدې په ۴۰ متري کې وواژه. ملي پولیسو افسر توقیف شو او د دوو ورځو لپاره ساتلو شوی و ، خو وروسته له ۱۲ ټوپکانو سره وتښتید او له طالبانو سره یو ځای شو. حکومت وروسته له هغه څخه غوښتنه وکړه چې د سولې او بیا یو ځای کیدنې له پروسې سره یو ځای شي. دغه افسر بیرته راغلي او د ملي پولیسو د افسر په توګه کار کوي."*

د بغلان ولایت د پلخمري د ولسوالي د ښځو د حقونو یوې فعالې دې ته ورته د افغن محلي پولیسو څخه شکایت کړی دی:

*"په پلخمري کې افغان محلي پولیسو د بشري حقونو په تیریو کې شامل دي لکه اختطاف ، شکونې(عشر) [ناقانونه مالیه] او د خلکو وهل او ګواښل دغه مسالې شخړو ته لمن وهي او د خلکو په منځ کې بدبیني زیاتوي."*

دغه راز افغانانو د شپې له بریدونو ، هوایي بریدونو او کورونو له تلاشیو څخه شکایت وکړ ، چې د نړیوالو ځواکونو له خوا ډیر ځله په داسې ډول ترسره کیږي چې د افغانانو له کلتور سره برابر نه وي یا/او په غلطو مالوماتو بنا وي ، چې په ناقانونه وژنو ، په خپل سر توقیف کوني تمامي شوي او د ملکي وګړو جایدادونو ته یې زیان اړولی چې دا په خپل وار په ځینو ټولنو کې له نړیوالو ځواکونو څخه ویره او د دښمني احساس راپیدا کوي. لکه څنګه چې د میدان وردک په ولایت کې د سید اباد په ولسوالی کې یوه قومي مشر هغو وروستیو متنازغو ادعاګانو ته اشاره وکړه چې د نړیوالو ځواکونو له خوا د نرخ او میدان ښار ولسوالیو کې د ملکي کسانو د بې درکه کولو په نا قانونه ډول توقیف کولو او شکنجه کولو په اړه شوي دي:

*"نړیوال نظامي ځواکونه د شپې برید کوي.دوي زموږ د دود او کلتور درناوی نه کوي.کله چې دوي په یوه کلی کې د کوم کور تلاشی کول ضرور ګڼي ، نور لس کورونه د هغه په شا و خوا کې هم ځوروي.او په پای کې هیڅ شي هم پیدا نه کړي."*

## ۲.۳. قومي ، قبیلوي او ګروپي شخړې

د خلکو د خبرو اترو په ترځ کې ، افغان نارینه وو ، ښځو او ځوانانو د زیاتیدونکو قومي ، قبیلوي او ګروپي دښمنیو په اړه چې د دوي په ساحو کې نا امني او بې ثباتي زیاتوي ، ژوره اندیښنه څرګنده کړه. خلکو په دې باور درلود چې قومي تشنج ، قبیلوي مخالفتونه او ګروپي جګړې کولای شي چې د حکومت او وسله والو ګروپونو ترمنځ لوي جګړي وپاروي چې هره خوا ځان ته ډلې جوړې کړي ، د خپل قوت ستنې ټینګې کړي ، وسلې راغونډې کړي او ځواکونه بسیج کړي ، څو خپل رقیب ته ماتې ورکړي. ډیری خلکو باور درلود چې د مرکزي ځواک د کمزورتیا له امله دغه ډول ځایي مخالفتونه زیات شوي او شدت یې پیدا کړی. افغانان په دې باور وو چې ځایي حکومتي چارواکي د دې توان نه لري چې مداخله وکړي یا داسې لیدل شوي چې دوي پخپله د دې شخړو په ایجادولو کې ښکېل وي. په دې برسیره ، څرنګه چې د ټولنې پر بنسټ د دعوو د فیصله کولو قوي او/یا قانوني میکانیزمونه شتون نه لري ، یاغي ډلې او ځایي زور واکان له دې حالت څخه ګټه اخلي چې په دې ساحو باندې خپل نفوذ ته په دې ډول پراختیا ورکړي چې په شخړو کې له ښکېلې یوې خوا سره یو ځای کیږي. د پنجشیر ولایت یوه قومي مشر وویل:

*"ډیری شخړې د قبیلوي مخالفتونو له امله را پیدا کیږي. طالبان له دې مخالفتونو څخه د خپل ځان په ګټه کار اخلي او د یوې قومي ډلې د بلې په ضرر پلوي کوي ، چې له هغې بلې سره جګړه وکړي. د نیکمرغي خبره ده چې موږ په پنجشیر کې ټول د یوه قوم [تاجیک] خلک یو ، خو په نورو ساحو کې خلک په قومونو ویشلي دي."*

خو د غور په ولایت کې د تهوري او شکرک په ولسوالیو کې شخړو ته په اشارې سره د کور یوې ښځې وویل:

*"د پهلوان او چشتي قبیلو [تاجیک] په منځ کې مخالفتونه د دشهرک او تهوري ولسوالیو تر ټولو زیات د خلکو ترمنځ د جګړو لامل ګرځي."*

په عام ډول ګډون کوونکي په دې باور وو ، چې دغه قبیلوي شخړې ډیر ځله ځکه را پیدا کیږي چې په ځایي حکومت کې یا په حقیقي ډول دوي یو ډول ونډه نه لري یا فکر کوي چې دغه انډول یو شانته نه دی ، منابع په عادلانه ډول نه وي ویشل شوي ، او په عموم ډول د رقیبو قبیلو ترمنځ د تنفر او وېرې یو احساس موجود وي ، چې د تیرو دښمنیو له ترخو یادونو څخه سرچینه اخلي. افغان نارینه وو ، ښځو ځوانانو څو قومي او قبیلوي شخړو ته اشاره وکړه چې په وژنو ، ژوبلو او په ځینو حالاتو کې په قومي ډله ییزو وژنو او د ټولنو په بې ځایه کیدنې تمامې شوي دي. ځینې ځانګړي مثالونه یې دا دي: په اروزګان ولایت کې د خاص اروزګان په ولسوالي کې د هزاره او پښتنو ټولنو ترمنځ شخړه ، د میدان وردک ولایت د بهسود په ولسوالي کې د هزاره ګانو او کوچیانو ترمنځ د څړځایونو پرسر شخړې ، د نورستان ولایت د کوشتوز او کامدیش د کلیوالو ترمنځ د ځمکو پر سر شخړې. یوه قومي مشر وویل چې څنګه قومي او قبیلوی جګړې په لویه کچه ځورونو او نا امنیو تمامې شوې. ده له نورستان ولایت څخه یو مثال وړاندې کړ:

*"د کوشتوز او کامدیش د کلیو ترمنځ شخړې د طالبانو له وخت راهیسې شته او تر اوسه پورې نه دي حل شوي. په یوه قضیه کې د کامدیش خلکو د کوشتوز کلي ته اور واچاوه او ټول کلی وسوځید. په دغو ورځو کې د کوشتوز د کلی ډیری خلک د هیواد نورو سیمو ته کډه شول."*

## منفي سیاسي سیالۍ

له قبیلوي او قومي شخړو سره نږدې تړلي "منفي سیاسي سیالۍ" دي چې د خلکو په خبرو اترو کې شاملو کسانو ورته اشاره وکړه. دغه سیالۍ د دښمنیو او رقابتونو له هغو منفي خاطرو څخه سرچینه اخلي چې د شوروي د تیري په وړاندې د جهاد په وخت کې په اتیاومې لسیزه کې او همدارنګه د نوي ومې لسیزې په اوږدو کې د طالبانو سره د مقاومت په دوران کې د سیاسي ډلو ترمنځ د ځوک او منابعو په سره راپیدا شوې وي. افغان نارینه وو ، ښځو او ځوانانو وویل چې جهادي سیاسي ډلو ترمنځ سخړو د دوي په سیمو کې سوله او ټیکاو سخت زیانمن کړی او د حکومت مشروغیت یې کمزوری کړی. یوه قومي مشر د سیاسي منفي سیالیو اغیزو ته داسې اشاره وکړه او په ۲۰۱۲ کې یې یوه پیښه یاده کړه چې په کې د حزب اسلامي او جمعیت اسلامي ګوندونو ترمنځ یوه اړوده شخړه د بدخشان ولایت د ارګو په ولسوالي کې رامنځ ته شوه:

*"کله چې د حزب اسلامي یو تن له ارګو څخه راووت ، د ده پلویانو چې شمیر یې له ۵۰۰ څخه زیات و د ولسوالي د دفتر مخ ته لاریون وکړ او ولسوال یې پرې نښود چې خپل دفتر ته ننوځي. دغه حالت د څو اونیو لپاره دوام وموند او د حزب اسلامي ځواکونو هیڅوک پرې نه ښودل چې د ولسوالي دفتر ته ننوځي. دا یوه ډیره ګډوډې وه او خلک ډیر اندیښمن و چې د دوو ګوندونو ترمنځ به وسله واله جګړه پیل شي."*

د غزني ولایت د قره باغ د ولسوالي یوه سړي وویل چې د منابعو د ویش په سر او د سیاسي استازیتوب او د کارونو د پیدا کولو په تړاو څنګه اختلاف راپیدا کیږي.

*"په سیاسي استازیتوب کې نا برابري هم د جګړو لامل ګرځي. ځینې قبیلې په حکومتي څوکیو کې ډیره ونډه لري او نورې هغې په دې څوکیو کې کمه ونډه لري او په دې ډول غربیې پاتې کیږي حکومتي چارواکي منابع په برابر ډول نه ویشي: دوي خپلو خلکو ته ترجیح ورکوي او په دې ډول نوري خوابدې راپیدا کوي."*

په ټول هیواد کې ګډون کوونکو په دې باور درلود چې د وسله والو جګړو سره سره ، چې د سترې کچې له جګړو څخه د ډلو ترمنځ په ځایي مخالفتونو اووښتي ، ډله ییزه وفاداري د یوې جدي لمسوونکی قوې په څېر پاتې شوې. د ټولنې په کچه دا ډول مخالفتونو زور واخیست او د طالبانو له خوا په رهبري شویو لوبو شخړو واوښتل. افغانانو دارنګه وویل چې د اوسنیو بې فعالیته جهادي سیاسي ګوندونو ځایي قوماندانانو اوس هم وسلې او سړي ساتلي دي او کله چې دوی خپل ځانونه ګوښه احساس کړي یا تهدید شي یا کله چې له حکومتي تنخواګانو څخه بې برخې شي بیا خپل ملیشه ځواکونه بسیج کوي و د طالبانو په ګټه کار کوي. د بلخ ولایت د چهارکینت د ولسوالي یوه تن وویل:

*"زموږ په ولسوالي کې د شخړو لوی لامل پخوانۍ دښمنی او جنګونه دي. دې جګړو زموږ خلک سره جلا کړی دي ، ځینې له حکومت پلوه ملیشه وو سره یو ځای شوی او نور یې له طالبانو سره اړیکې لري. سخت جنګونه شته او په پایله کې خلک یا وژل کیږي او ژوبلیږي."*

## ۲.۴ د ټولنېزې او اقتصادي پرمختیا نشتوالی

### کم تعلیم ، بې کاري او د کافي بنسټونو نشتون

افغان نارینه وو ، ښځو او ځوانانو چې د خلکو د خبرو اترو په دویم پړاو کې یې ګډون درلود په یوه خوله وویل چې د مشخص ټولنېز او اقتصادي پرمختګ نشتوالي په ټول هیواد کې د جګړو یو لوی سبب ګرځیدلی. هغو کسانو چې مالومات یې درلودل د ملګرو ملتونو د بشري پرمختیا شاخص ته یې اشاره کړې چې په ټوله نړۍ کې د ټولنېزې او اقتصادي پرمختیا په اړه اساسي مرجع ده او د کومې له مخې چې افغانستان په ۲۰۱۳ کې د ۱۸۷ هیوادونو څخه ۱۷۵ درجه ځای نیولی دی. ډیری خلکو وویل چې حکومت ډیر څه نه دي کړي څو د دوي د ژوند شرایط ښه شي.[۱۱] په ټول افغانستان کې خلکو وویل چې د پرمختللو بنیادي جوړښتونو او د کاري فرصتونو نشتوالي چې له دې سره د لوستو کسانو شمیر هم ډیر کم دی د نیستې اصلي لاملونه دي ، چې په خپل وار سره زیانمتوب او جګړو ته زور ورکوي. خلکو په دې خبره هم ټینګار وکړ چې د نا انډوله پرمختګ په پایله کې په ټولنو کې د ننه او د هغو ټولنو ترمنځ اختلافونه راپیدا کیږي چې ډیری شتمنې او هغه کلي ، ولسوالۍ او ولایتونه دي چې له ډیر جدي پرمختیایي اړتیاوو سره مخ دي. همدارنګه ، د ډیرو مباحثو په جریان کې ، د ښاري او کلیوالی پرمختګ په منځ کې د توپیر مساله هم راپېرسیره شوه. افغان نارینه ، ښځې او ځوانان په دې باور وو چې لومړنیو خدمتونو ته لاس رسی محدود دی ، په ځانګړي ډول په کلیوالي سیمو کې ، ځکه چې په ښاري سیمو او ولایتي مرکزونو کې د پرمختیا کارونو ته ترجیح ورکول کیږي او کلیوالي او لرې پرتې سیمې له دغو پروګرامونو څخه بې برخې پاتې کیږي ، د ډیرو برخه والو په وینا ، د جګړو زیاته برخه په دغو غریبو او لیرې پرتو سیمو کې رامنځ ته کیږي چې دوي "ګوښه شوې" سیمې وبللې او په دې باور وو چې سخته نیستي چې د بنیادي ساختارونه نشتوالی ، په لویه کچه بې کاري او نالوستي ورسره وي زیانمنیدونکی ټولنې د یاغي ډلو د نفوذ لپاره چمتو کوي. یوې ښځې د بلخ د ولایت د هدادي له ولسوالي څه وویل:

*"ما په تیرو څو کلونو کې د ټولنېز کارکوونکی په حیث کار کړی دی او په دې حیثیت کې مې د بلخ ولایت ډیرو کلیو ته سفر کړی چې د لته د ډیرو زیانمندیونکو ټولنو له خلکو سره خبرې وکړم. ډیره بې سوادي ، بې کاري او د بنیادي*

[۱۱] د ملګرو ملتونو د بشري پرمختیا شاخص ، پر دغې ویب پاڼې د لاس رسي وړ دي: https://data.undp.org/dataset/Table-1-Human-Development-Index-and-its-components/wxub-qc5k

*جوړښتونو کمي ډېر ښکاره وو. خلک چې په داسې شرایطو کې ژوند کوي په اساني سره د طالبانو تر نفوذ لاندې راتلي شي."*

د هلمند ولایت د یوې ځایي شورا یوه غړي وویل چې د خلکو نارضایت او له تاوتریخوالی سره یو ځای کیدل په حقیقت کې د لومړنیو خدمتونو د نشتوالي له امله راپیدا شوي ، ده وویل:

*"د زده کړو ټیټ کیفیت ، بې کاري ، د بنسټیزو خدمتونو نشتوالی ، لکه برېښنا ، او د کرنیزو چارو لپاره اوبه او د ښې حکومتداري نشتوالی د جګړو لاملونه دي."*

دغه راز بل برخه وال د بدخشان ولایت د وردوج له ولسوالي څخه همدا خبره تایید کړه او د یوه تن پخواني جهادي قوماندان قضیه یې یاده کړه:

*"زه د وردوج له ولسوالي څخه ډېر پخواني جهادیان پېژنم چې اوس بې کاره دی او په بدو شرایطو کې ژوند کوي. یو له دوی څخه د مالي انګیزې له وجې له طالبانو سره یو ځای شوی دي. دغه ستونزه واقع کیږي ځکه ډېر پخواني جهادي جنګیالان اوس بې روزګاره دي ، په بدو شرایطو کې ژوند کوي او د خپلې بقا لپاره بنیادي اړتیاوې لري."*

### فساد ، له ځواک څخه د خپلوانو په ګټه ناوړه ګټه او جنګ سالاري

د لسیزو لپاره افغانستان د ډونرانو او نړیوالې ټولنې په تمویل تکیه کوله خو د پرمختیا ډېرې بېړنۍ اړتیاوې پوره کړي. د ۲۰۱۲ کال په جولای کې د توکیو په کنفرانس کې نړیوالې ټولنې خپلې ژمنې تایید کړې چې له افغانستان سره د توکیو د دوه اړخیزې حساب ورکونې په چوکاټ کې د راتلونکي پرمختیایي پروګرام لپاره د ۱۶ بیلیونه امریکایي ډالرو د مرستې ژمنه کړې ده. خو په ټول هیواد کې افغانان شکمن برېښېدل چې په راتلونکی کې به دوي څه مرستې تر لاسه کړي او په تیرو وختونو کې یې د مرستو د ناوړې استفادې او تنظیم او د پرمختیایي مرستو د نابرابره ویش په اړه ډېرې اندیښنې څرګندې کړې. خلکو وویل ، چې سره د دې چې په تیرو ۱۲ کلونو کې په زیاته پیمانه پرمختیایي مرستې افغانستان ته رسیدلي دي خو په ټولنو کې د بنیادونو او خدمتونو نشتوالی لکه سرکونه ، پلونه ، ښوونځي او د روغتیایي مرکزونو نشتوالی نه یوازې ښه حکومتداري کمزوري کوي ، بلکه د نیستمنو خلکو ژوند یې له ډېر کړاو سره مخ کړي چې د ورځني ژوند یوه ګوزاره کوي خو لومړنۍ اړتیاوې یې هم نه ده پوره شوې. سړو او ښځو په ځینو ګروپي مباحثو کې وویل چې ځایي او مرکزي حکومتونه په عموم ډول بې اثره او د خلکو له ریښتینو اړتیاوو څخه لیرې پاتې شوي دي. ډیری برخه والو وویل چې فساد ، له ځواک څخه د خپلوانو په ګټه ناوړه استفاده کول او جنګ سالاري د هیواد په ځینو برخو کې د موسساتو صلاحیت کمزروي کړی او د اقتصادي پرمختیا په وړاندې یې خنډونه رامنځ ته کړي.

د اروزګان په ولایت کې برخه والو وویل چې سره د دې چې په میلیونونو ډالر د حکومت او نړیوالې ډونرانو له خوا د دوي ولایت ته د پرمختیایي پروګرامونو لپاره رسیدلی ، خو تر اوسه یې محسوسه پایله نه لیدل کیږي. یوه قومي مشر د دې کار یو احتمالي لامل اداري فساد په ګوته کړی:

*"د حکومت او نړیوالو ډونرانو له خوا په میلیونونو ډالر د اروزګان په ولایت کې لګول شوي ، خو د تاسف خبره ده چې د دغو پیسو ډیره برخه یا ضایع شوې او یا مستقیما د څو کسانو جیبونو ته لویدلې."*

د هلمند په ولایت کې د ځوانانو د شورا یوه تن وویل:

*"نړیوالو سازمانونو په سل هاوو میلیون ډالر ولګول ، خو خلکو په خپل ورځني ژوند کې څه بدلون نه دی لیدلی. موږ حتی نه پوهیږو چې د شفافیت او حساب ورکونې مفهومونه څه مانا لري. د جګړو له دریو لسیزو راهیسې افغانان دې ته اړتیا لري چې په خپلو ټولنو کې پرمختګ احساس کړي او ووینې."*

په ورته ډول د عامه منابعو نا برابره ویش په خوست ولایت کې د خبرو اترو د ګډون والو په باور د شخړو لامل ګرځیدلی. یوه دیني عالم د خوست په ښار کې د نا برابرې پرمختیا په اړه وویل:

*"هغه کسان چې له حکومت څخه هیڅ ډول مرسته نه تر لاسه کوي ، غواړي چې له جګړو سره یو ځای شي."*

په نورستان کې خلکو د هغې بې غورۍ په باره کې سخته نیوکه وکړه چې د حکومت او نړیوالې ټولنې له خوا د په اصطلاح ګوښه شویو ولایتونو د پرمختیا په اړه کیږي ، دوی باوري وو چې دغه بې غوري نه یوازې د ځایي حکومت صلاحیتونه بې اعتباره کوي ، بلکه یاغیان هڅوي او په دې ډول ځایي خلک له ډیرو ستونزو سره مخامخ کوي:

*"د ولایتي شورا غړي د ننګرهار په ولایت کې میشته دي او په ندرت سره نورستان ولایت ته راځي. دوی په مطلق ډول له خپلو موکلینو ټولنو څخه جلا شوي دي... زیات شمیر ماشومان په پاکستاني مدرسو کې تعلیم کوي ځکه چې دلته فعاله ښوونځي او ښوونکي نشته ، هلته دوی له بنسټ پالنې سره اشنا کیږي او یاغیان کیږي... که د دولت اوسیدونکی وغواړي چې پارون [د نورستان مرکز] ته ولاړ شي دی یا دا باید له دریو ولایتونو څخه [لغمان ، ننګرهار او کنړ] او له ۱۵ څخه زیاتو ولسوالیو څخه تیر شي ، دغه سفر په ورځو دوام کوي."*

ځینو افغانانو داسې انګیرله چې د هیواد مختلفو سیمو ته د پرمختیایي مرستو نا برابر ویش په قومي ترجیحاتو ولاړ و. د بامیانو ولایت د ټولنې غړي په خاص ډول د دغې انګیرنې له امله ډیر حساس وو او ویل یې چې د دوی ټولنې ځانونه ګوښه احساسوي او داسې فکر کوي چې د حکومت له خوا پرمختیایي مرستې په خپل سره ویشل کیږي او دوی له هغو څخه محروم دي. د بامیانو ولایت د سیغان له ولسوالي څخه یوه تن دیني عالم وویل:

*"موږ د حکومت له خوا له ډیر تبعیض سره مخ یو. د مثال په توګه د بامیانو ولایت یو سوله ییز ولایت دی او د هلمند په ولایت کې سوله نشته ، خو حکومت د بامیانو ولایت ته ۵۶ میلیونه ډالر مرسته او هلمند ولایت ته ۵۰۰ میلیونه ډالر مرسته ورکوي. بامیان باید له دې امله وهڅول شي چې د سولې یوه فضا لري ، خو دلته کارونه بر عکس دي."*

## ۲.۵. د نا قانونه اقتصادي فعالیتونو د کنترول په سر سیالي

### نشه یي توکي او یاغیتوب

د خبرو اترو د دویم پړاو په ترڅ کې افغانانو په دې ټکي ټینګار وکړ چې د کوکنارو کښت ، د نشه یي توکو قاچاق او د نشه یي توکو د قاچاق وړونکو له خوا نا قانونه شکونې په ډیرو سیمو کې- په تیره بیا د هیواد په جنوبي ، جنوب ختیځ ، شمال ختیځ او

لویدیځو سیمو کې- جګړې نورې هم اوږدې او شدیدې کړې دي. برخه والو وویل چې ناقانونه عایدات چې د کوکنارو کښت او قاچاق څخه او همدارنګه عایدات چې د نشه یي توکو له اعتبار څخه لاس ته راځي په مستقیم ډول د یاغیانو ، فاسدو حکومتي چارواکو او ځایي ملیشه په ګټه تماميږي. په دې بنسټ ، برخه والو دغه ګروپونه په دې پړه وبلل چې په مستقیم ډول په لیرې پرتو سیمو کې د نا امني او بې ثباتۍ په زیاتولو کې نقش لري. په دې سیمو کې نا قانونه اقتصادي فعالیتونه جارې دي ځو شخصي ګټې وساتي او زیاتې يې کړي. د فراه له ولایت څخه یوې ښځې وویل:

*"د کوکنارو له کښت ، پروسس او قاچاق څخه راغلي لوړو عایداتو وسله واله ډلې هڅولي او هغوي د طالبانو تر سیورې لاندې خپلو نا قانونه اقتصادي فعالیتونو ته ادامه ورکوي ، په دغو ډلو کې نا لوستي او بې کاره ځوانان شامل دي او دوي طالبانو یا نورو فاسدو حکومتي چاراکو له خوا حمایه کیږي او هڅې کوي چې د کوکنارو په کښت خپله ولکه ټینګه کړې او له کروندګرو پیسې په زور وشکوي."*

د هلمند ولایت د نادعلي ولسوالي یوه تن شکایت وکړ چې د دولت له خوا د مرستو نشتوالی او له دې سره تړلې نیستي کروندګر دې ته هڅوي چې د نشه يې توکو او یاغیانو ملاتړ وکړي:

*"خلک دې ته اړ دي چې کوکنار وکري ، ځکه حکومت په دې ولایت کې له کرنې سره مرسته نه کوي ، د مثال په ډول زموږ ولسوالی د ښې پنبې د کښت لپاره ډیر مناسب ځای دی ، خو متاسفانه چې حکومت دې ته هیڅ پام نه کوي- حکومت زموږ تولیدات نه اخلي ، نو بیا موږ باید څه وکړو؟ بزګران تر مالي فشارونو لاندې دي. د کښت لپاره اوبه کمې او په لوړه بیه دي. ډیری کروندګر پیسې نه لري چې مشروع کښت وکړي ، ځکه دوي د کوکنارو کښت ته مخه کوي."*

سربیره پر دې ، د غزني ولایت د قره باغ د ولسوالي قومي مشرانو او د ټولنې غړو د هغو ستونزو یادونه وکړه چې د نشه يې توکو د اتبار په برخه کې افغانستان ور سره مخ دی ، ځکه دا ستونزه د شخړو یو لامل دی ، ده وویل:

*"د نشه یي توکو کارونه هم شخړې پاروي ؛ په چرسو او نورو نا قانونه توکو روږدي کیدل خلک دې ته اړ باسي چې له یاغیانو سره یو ځای شي څو د نشه یي توکو د رانیولو لپاره پیسې پیدا کړي."*

ښځو د غزني ولایت د غزني په ښار کې د خپلو ماشومانو په اړه اندیښنې ښکاره کړې ، ځکه چې د نشه یي توکو شتون ډیر شوی او ځوانان په دې خطر کې دي چې په نشه یي توکو پورې تړلو وسله والو ډلو له خوا استخدام شي:

*"زموږ ځوانان د بې کارۍ له امله له ډیرو ستونزو سره مخ دي ، چې د افینو ، چرسو او کله کله د شرابو د څښلو خطر شته. کله چې دوي له خپل ژوند څخه ناهیلي شي ، ځکه چې کارونه نه شي موندلای ، نو له وسله والو ډلو سره یو ځای کیږي."*

د نشه یي توکو په اړه ، چې د شخړو لامل ګرځي د خبرو کولو په ترڅ کې د خلکو په خبرو اترو کې شاملو کسانو وویل چې د شخړو ډیری قضیې په ټول هیواد کې په هغو ځایونو کې رامنځ ته کیږي چې د نشه یي توکو د قاچاق لارو ته نږدې پرتې دي ، ځکه

قاچاق وړونکی ډلې یاغیانو ته لوژیستکي او مالي مرستې ورکوي څو هغوي د دوي د نشه يي توکو کاروانونه وساتي. د بدخشان د ولایت یوه تن برخه وال وویل:

*"د جرم ولسوالي د فرغامونج ، کیف ، کاتبو او خوشتک په کلیو کې او د وادوج ولسوالي په ځینو برخو کې د طالبانو وروستی نفود د هغو پراخو او پیچلو ستراتیژیو یوه برخه ده چې یاغیان غواړي بدخشان ولایت ته د تک راتګ مهمې لارې تر خپلې ولکې لاندې راولي. طالبان غواړي چې په دې ولایت کې د ترانزیت خوندي لارې ولري چې وکولای شي له دې لارې د مرکزي اسیا دولتونو ته تیر شي [چیرې چې نشه یي توکي د ګټې لپاره صادری کړي]."*

### د افینو مافیا

له بدخشان څخه د خلکو په خبرو اترو کې ټولو برخه والو وویل چې د کوکنارو کښت او قاچاق په ټول ولایت کې په تیره بیا په درایم ، کشم ، تیشخان او ارګو ولسوالیو کې د نا امنیو ستر لامل ګڼل کیږي. دوي دولتي لوړ رتبه چارواکي په دې تورن کړي چې د کوکنارو په کښت او د نشه يي توکو په قاچاق کې ښکېل دي. د فیض اباد له ولسوالي څخه یوه سړي وویل:

*"زه ډیر لوړ پوړي چارواکي پیژنم چې د نشه يي توکو په نا قانونه قاچاق کې ښکېل دي. زه د دوي نومونه نه شم اخیستلای ځکه بیا تر هدف لاندې راځم. دغه چارواکي د افینو په تولید او د هغو په قاچاق کې ګټې لري. افینو زموږ ځوانان تباکړل ، خو هیڅوک نه شي کولای چې د دوي نومونه واخلي ، ځکه موږ په خپل ژوند بیریږو."*

د هلمند ولایت د سنګین له ولسوالي څخه یوه تن وویل چې "د افینو مافیا" د نشه يي توکو کښت هڅوي او حکومتي چارواکي او وسله والې ډلې يې په دې کار کې ښکېلې وګڼلې:

*"په حکومت کې ډیری ډلې غواړي چې نا امني ایجاده او وساتي ځکه چې دوي د کوکنارو له کښت څخه ګټې پورته کوي. په سنګین کې موږ ډیر شمیر پټې حاصلخیزې ځمکې لرو چې هر ډول کرنیز محصولات ورکوي ، خو د خواشینۍ خبره دا ده چې حکومت له موږ سره مرسته نه کوي ، نو ځکه ډیری کروندګر د کوکنارو کښت ته مخه کوي. وسله واله ډلې د افینو له عایداتو څخه د خپلو فعالیتونو لپاره ګټه اخلي."*

د افغان نارینه وو ، ښځو او ځوانانو په باور د کوکنارو کښت او د هغو په نا قانونه فعالیتونو باندې د کنترول درلودل هڅې په مستقیم ډول د بې کارۍ له لوړې کچې ، د اقتصادي فرصتونو له کمښت ، په حکومتي ادارو کې له فساد ، نالوستي ، د نشه يي توکو په وړاندې د ځوانانو حساسیت او په زیانمندیونکو ځوانانو او غریبو کروندګرو باندې د وسله والو ډلو له اغیزو سره تړلې بولي.

### ۲.۶. د سولې اوسنی بهیر

> ***"زه د سولې په اوسني بهیر باور نه لرم ، ځکه دغه بهیر د هغو کسانو له خوا رهبري کیږي چې په تیرو جګړو کې ښکېل وو. دوي به ډیر څه له لاسه ورکړي که چیرې سوله راشي"***
> -- پخواني جهادي قوماندان ، بلخ ولایت

## د افغانستان د سولې او بیا یو ځای کیدنې پروګرام

د افغانستان د سولې او بیا یو ځای کیدنې پروګرام د ولسمشر د ۲۰۱۰ د جون د ۲۹ نېټې په فرمان باندې ولاړ دی او د سولې جوړونې د هڅو د تطبیق په دې ډول لارښوونه کوي چې له هغو یاغیانو سره مرستې کوي چې له تاوتریخوالي څخه لاس اخلي او د افغانستان اساسي قانون مني او د دې پروګرام موخه دا ده چې اصلاح شوي یاغیان بیرته په خپلو ټولنو کې جذب شي.

په ټول هیواد کې ډیری افغانانو د افغانستان د سولې او بیا یو ځای کیدنې اوسنی پروګرام تر نیوکې لاندې ونیو او د دوي په باور دغه پروګرام د خپل هدف په ضد فعالیت کوي ، د حکومتي ادعاګانو په خلاف ، ګډون کوونکو اندیښنه درلوده چې د افغانستان د سولې او بیا یو ځای کیدنې پروګرام په سولې او ټیکاو باندې منفي اغیز کوي. دوي په دې باور وو چې دغه پروګرام د داسې کسانو له خوا رهبري کیږي چې د جګړو په دوام کې خپلې ګټې ویني ، څو خپلې شخصي ګټې خوندي وساتي. د کاپیسا ولایت د محمود راقي د ولسوالي د یوه ښوونځي سرښوونکي وویل:

> *"که یو سړی ووایي چې دی په افغانستان کې د سولې لپاره کار کوي ، دغه سړی داسې عمل کوي لکه یو لوبغاړی چې په ډرامه کې شامل وي. دی دغه رول د خپلو شخصي ګټو په موخه ادا کوي. هیڅ یو انفرادي شخص یا ډله د سولې لپاره کومه رینښتیني او څرګنده لار نه لري. مشران چې په اوسنیو په اصطلاح "د سولې په هڅو" کې ښکېل دي هم خپلې ګټې لري- دوي له دې لارې پیسې پیدا کوي. دغه هڅې ، د افغانستان د سولې او بیا یو ځای کیدنې د پروګرام په ګډون سمې نه دي ، ځکه چې نه اساس لري او نه راتلونکې"*

له کابل څخه یوه برخه وال هغه څه وویل چې برخه والو په کابل کې د افغانستان د سولې او بیا یو ځای کیدنې د پروګرام نیمګړتیاوې بللي وي:

> *"د حکومت د سولې پروسه بریالۍ نه وه نو ځکه له ماتې سره مخ شوه. وسله والو جګړو زور واخیست ، حتی د سولې د عالي شورا مشر هم ووژل شو. هغه کسان چې د سولې پروسه پر مخ بیایي طالبانو ته د منلو وړ نه دي او حتی نور خلک یې هم نه مني."*

*د هرات ولایت د شین ډنډ له ولسوالي څخه یوه ګرونډګر وویل:*

> *"د سولې پروسه ډیره کمزورې ده ؛ هیڅوک ولسوالیو ته نه دي تللي چې پروسه خلکو ته ور وپیژني. بله مساله دا ده کله چې د وسله والو ډلې غړی د سولې پروسې سره یو ځای کیږي ، د دوي ژوند له ګواښ سره مخ کیږي. له یوې خوا طالبان دوي ته وایي چې دوي به ووژل شي که له سولې سره یو ځای شي او له بلې خوا حکومت د دې توان نه لري چې هغوي په مالي لحاظ تقویه کړي تر څو یو ښه ژوند ولري."*

افغان نارینه وو ، ښځو او ځوانانو په ټینګار سره وویل چې د افغانستان د سولې او بیا یو ځای کیدنې پروګرام په داسې یوې پروژې بدل شوي چې د حکومت له خوا رهبري کیږي ، چې د امنیتي موسساتو له خوا تر کنترول لاندې ده او د یاغیانو په ضد په یوې وسیلې بدله شوې او په دې ډول عادي افغانان نه شي کولای چې په خپلو ولایتونو کې د سولې له پروسې سره په رښتیني ډول مرسته وکړي. د مثال په ډول ، د ننګرهار له ولایت څخه د خلکو د خبرو اترو په پروګرام کې ګډون کوونکو وویل:

*"د افغانستان د سولې او بیا یو ځای کیدنې پروګرام ډیر د یاغیانو ضد یوه میکانیزم ته ورته دی ، تر دې چې د سولې جوړونې پروګرام وي."*

برخه والو په عمومي ډول وویل چې د یاغیانو لپاره د خینو انګیزو برابرول څو له تاوتریخوالی څخه لاس واخلي او په خپلو ټولنو کې بیا ګډ شي ، په ځای کار دی ، د اقتصادي فرصتونو برابرول د معافیت ورکول او په ځواکمنو څوکیو د بیرته راګرځیدونکو کسانو مقررول ، لکه د پخوانیو جنګیالیو مقررول د افغان محلي پولیسو په لیکو کې د معافیت له کلتور سره مرسته کړې ده او داسې انګیرل کیږي لکه یاغیانو ته چې مکافات ورکوي د دې پر ځای خلکو د ټولنې پر بنسټ د داسې پرمختیایي پروژو غوښتنه وکړه په کومو کې چې باید په بشري حقونو د تیریو مسوول یاغیان تصفیه شي ، وپیژندل شي او و ایستل شي.

په ټول هیواد کې ډیرو خلکو د افغانستان د سولې او بیا یو ځای کیدنې پروګرام څخه خپله ناهیلي څرګنده کړه او ویل یې چې دغه پروګرام مشروعیت نه لري او په موقت ډول د یاغیانو له خوا د مالي ګټو لپاره کارول کیږي. د مدني ټولنې یوې ښځینه غړې د دغه پروګرام ګماني نیمګړتیاوې داسې بیان کړې:

*"د طالبانو د بې وسلې کولو او بیا یو ځای کیدنې اوسنۍ پروسه جدي نه ده. په حقیقت کې په عام محضر کې د پخوانیو طالبانو د ښه راغلاست پروسه او د دوی یو ځای کیدل له ټولنو سره چې د ولسوال یا ولایتي چارواکو له خوا اجرا کیږي یوه نمایشي بڼه لري. ډیری یاغیان دې کار ته د مسخرو په سترګه ګوري: دوی د پروسې لپاره لاسلیک کوي ، یو بې کاره ټوپک تسلیم کړی ، څه پیسې واخلي ، د یو څو میاشتو لپاره ځانونه نه ښکاروي او بیا وروسته له یاغیانو سره یو ځای شي."*

ګډونوالو وړاندې څرګنده کړه چې د افغانستان د سولې او بیا یو ځای کیدنې پروګرام د لیرې پرتو ټولنو د ستونزو په حل کولو او د هغو یاغیانو د هیلو په پوره کولو کې چې د ایدیالوژۍ پر بنسټ جنګیږي ځکه وروسته پاتې شو چې په ولایتي کچه د سولې د کمیټو په دننه کې ډیر فساد دود دی او له صلاحیت څخه ناوړه ګټه اخیستل کیږي ، د فاریاب له ولایت څخه یوه تن ، چې له یاغیانو څخه بیرته راستون شوی دی وویل:

*"موږ پریکړه وکړه چې د سولې له پروسې سره یو ځای شو او د پرمختیایي پروژو په تطبیق کې مثبت رول ادا کړو ، خو د خواښینۍ ځای دی چې موږ دغه فرصت و نه موند. په فاریاب کې د سولې ولایتي شورا په مطلق ډول په فساد کې غرقه ده. زه له ۱۰۰ ټوپکانو سره د سولې له پروسې سره یو ځای شوم ، خو مخکې له دې چې له رسنیو سره خبرې وکړم ، ځینو ولایتي چارواکو له ما څخه وغوښتل چې و وایم ما یوازې ۷۱ وسلې درلودې. د دې مانا دا وه چې زما ۲۹ نورې وسلې باید له شمیر څخه وتلې وای. د سولې د شورا غړو او ولایتي چارواکو هغه واخیستې. دغه راز ، زموږ ځینې نورې وسلې له کاره لویدلو وسلو سره بدلې شوې."*

په پای کې ، برخه والو د پخوانیو جنګیالیو په ګډون د افغانستان د سولې او بیا یو ځای کیدنې د پروګرام ناتواني یاده کړه چې نه شي کولای شي د بیرته راګرځیدونکو خلکو ستونزو ته ځواب ووایي ، لکه د دوی د امنیت ساتل او هغوی ته د کاري فرصتونه برابرول. په دې کار سره ځینې بیرته راګرځیدونکی او پخواني جنګیالي اړ شول ، چې بیا له یاغیانو سره یو ځای شي او یا یې یو لوی شمیر د هغو یاغیانو د شک او تردید په حال کې پریښودل چې غوښتل یې د سولې له پروسې سره یو ځای شي. د افغانانو په

وینا ، دغه ډول نیمګړتیاوو د یاغیانو له شبکو سره مرستې کړې دي. د بلخ ولایت د چمتال له ولسوالي څخه د طالبانو له پخوانی پلوی له خوا چې په خبرو اترو کې له ګډون څخه وروسته کور ته د راستنیدو په لار کې ووژل شو ، یوه ویرانوونکی کیسه شوې ده(که څه هم د ده وژنه په خبرو اترو کې د ده له ګډون سره اړیکه نه درلوده.):

*"زه پیښمانه یم چې د سولې له پروسې سره یو ځای شوم.له کله چې ما له حکومت سره همکاري پیل کړې ده ، ما په خپل ژوند کې څه بدلون و نه موند. دوی له ما سره ژمنه وکړه چې ما ته به کار پیدا کوي او یا به مې په افغان محلي پولیسو کې استخداموي. خو یوه ژمنه هم ریښتونې نه وه ، اوس زه خپل کلي ته هم نه شم ستنیدلی ، ځکه زه د طالبانو له غچ اخیستنې څخه بیریږم.حکومت زه ولوبولم او زه اوس په میدان یوازې پاتې شوم."*

د خلکو خبرو اترو پروګرام هر اړخیزې مباحثې د دې لپاره تمویل کړي چې افغانانو په ټول هیواد کې د افغانستان د سولې او بیا یو ځای کیدنې د پروګرام په اړه له پروسې څخه وتلي وو او هم د پروګرام په پیل کې د یوه پراخ ټولنېز ګډون په اړه فکر نه و شوی. افغانانو په دې هم خواښینې څرګنده کړه چې نوموړي پروګرام د داسې کسانو له خوا رهبري کیږي چې د جګړو په دوام کې خپلې ګټېویني او دا چې دا پروګرام د سولې د جوړونې لپاره نه بلکه د یاغیانو په ضد یوه ناکامه وسیله بلل شوې چې د یو څو تنو ځان غوښتونکو کسانو له خوا کاریدلې. په دې برسیره ، بیرته را ګډیدونکو کسانو هم له پروګرام څخه خپله نا هیلي څرګنده کړه او ویې ویل چې پروګرام خپلو ژمنو ته ژمن پاتې نه شو ، له دوی سره یې دوکه وکړه ، مرسته نه ور سره کوي او په لیري نظر کې له حکومت سره د همکاري له امله د بریدونو له ګواښ سره مخ شوي. په حقیقت کې دغه پروګرام د ټولو په پام کې نیولو شویو کسانو له خوا د یوې نا کامې پروژې په څېر لیدل کیده.

### ټولیزتوب - عام وګړي مهم نقش درلودای شي

افغان نارینه وو ، ښځو او ځوانانو دغه راز د سولې ولایتي شوراګانې تر نیوکې لاندې ونیولې او و یې ویل چې له عادي افغانانو سره چې کولای شي یاغیانو ته قناعت ورکړي چې د سولې له پروسې سره یو ځای شي ، مشوره نه ده شوې. د کندز ولایت د چاردرې ولسوالي څخه یوه سړي وویل:

*"حکومت باید د سولې په پروسه کې ډیر خلک را ګډ کړي. دوی باید له عادي افغانانو سره هم سلا مشوره وکړي او له دوی سره د سولې په راوستلو کې همکاري وکړي ، عادي افغانان لکه د ټولنې مشران ، ملا امامان ، مذهبي مشران او نو رباید د سولې د پروسې په اړه د سلا مشورو لپاره وغوښتل شي."*

د میدان وردکو ولایت د میدان ښار له ولسوالي څخه د ټولنې یوه مشر وویل:

*"د عادي خلکو ، اتحادیو ، مدني ټولنې او د ښځو ګډون د سولې په هڅو کې د سولې خبرو ته ډیر قوت ورکوي ، دغه راز په دې کار سره د سولې لپاره د پراخې ټولنې مرستې هڅول کېدای شي."*

د کابل له ښاره څخه یوه بل برخه وال وویل:

*"د سولې د عالي شورا او د افغان امنيتي ځواکونو ترمنځ د همغږۍ نشتوالی په دې ناکامي تمامه شوې چې د يوې خوا لپاره هم داسې منځګړي او مذاکره چيان په ګوته او ومنل شي چې ورته باور ولري."*

د ملکي خدمتونو يوه پخواني کارمند وويل چې د هلمند ولايت د سولې شورا ولې و نه شو کولای چې عادي افغانانو ته ورسيږي:

*"د سولې ولايتي شورا [په هلمند کې] خپلې نيمګړتياوې لري: د دې شورا غړي په سختي سره لږ پرتو سيمو ته سفر کولای شي، دوي حتی د سفر لپاره بودجه نه لري، په دې برسيره خلک په دوي هيڅ باور نه لري."*

په هلمند کې نورو ورته ناهيلي ښکاره کړه چې د سولې ولايتي شورا داسې کسان استخداموي چې په جرمي فعاليتونو کې ښکېل دي، له هلمند ښځه د پوهنتون يوه محصل وويل:

*"د سولې په پروسه کې ځينې خلک ښکېل دي چې په حقيقت کې بنسټ پالان دي، دوي د خلکو په باور د سولې ضمانت نه شي کولای..... څرنګه چې د سولې په پروسه کې دا ډول خلک شامل دي ، ځکه دغه پروسه پخه ده ،بې اغيزې ده او تسل بخښونکې نه ده."*

د سولې پروسې او پروګرامونه لکه د افغانستان د سولې او بيا يو ځای کيدنې پروګرام له دې امله هم تر نيوکې لاندې و چې په دوديز ډول ګوښه شوې ډلې لکه ښځې ، ځوانان او قومي لږکي يې له پامه غورځولي- يوازې څو يې د سولې په ولايتي شوراګانو کې غړيتوب لري. د کنړ له ولايت ښځه يوې ښځينه قانونپوهې انديښنه ښکاره کړه چې په ټول هيواد کې د بيلا بيلو مباحثو په ترڅ کې د افغانانو له خوا څرګند شوې:

*"موږ د سولې په شورا کې ځينې داسې ښځې لرو چې د حکومت لپاره يې کار کړی او په اوس حال کې د پوځي ډلو هدف دی. تر ډيره بريده د هغوي ټاکل سمبوليک دي تر څو نړيوالې ټولنې ته وښيي چې د سولې په پروسه کې د جنډر تساوي په پام کې نيول شوی. خو هغه ښځې چې د حکومت لپاره کار نه کوي د پوځي ډلو او حکومت تر منځ د منځګړيتوب لپاره په ښو حالتونو کې قرار لري. پوځي ډلی به هغه عادي ښځې چې غواړي دوی ته ځانونه ورسوی هدف و نه نيسی ځکه چې د افغاني دود او دستور او همدارنګه د اسلامي عقيدی پر اساس عادي ښځو ته درناوی کيږي."*

د پکتيا په ولايت کې ګډون والو ومنله چې اوسنی فعالين کافي نه دي او نه شي کولای په ښه توګه د سولې د پروسې سره په موثره توګه مرسته وکړي. يوی ډلې په ټينګار سره د پوتنسيل د درلودلو خبره کوله او ويل يې چې مذهبي مشران او پوهان د سولې لپاره د کتاليست په حيث کار کولای شي. د پکتيا ولايت د ګرديز په ولسوالی کې يوه زده کوونکی وويل:

*"ملايان کولای شي د سولې په هکله د خلکو د پوهاوی د کچې د لوړولو په موخه خپل علم او اړيکی وکاروی. د هغوي ټولنو ته د پوځي ډلو د ننوتلو ښخه د مخنيوی په موخه ، هغوي کولای شي د خپل نفوذ څخه کار واخلی. هغوي همدارنګه کولای شي د پوځي ډلو سره اړيکی ونيسی او هغوي سولې ته وهڅوی."*

په تولیز ډول ، افغانانو د سولې د یوې شاملونکې پروسې پر اړتیا ټینګار کړی چې وکولای شي د عادي خلکو اواز اوچت کړي ، د هغوي اندېښنې او هیلې منعکسی کړي او په افغانستان کې د پایښت لرونکې سولې لپاره د بنسټ جوړولو په چارو کې عادي افغانانو ته فرصت ورکړي.

## ۲.۷. د ښځو پر حقونو باندی د شخړې اغیزې

> *"په څینو کلیو او ولسوالیو کی داسی فکر کیږی چی نارینه د ښځو د وهلو او تکولو حق لری، په کلیو کی خلک او مشران نه غواړی چی د دوی نجونی ښوونځیو ته لاړې شی ، په حقیقت کی دوی هیڅکله نه غواړی ښځی باسواده واوسی."*
> -- د هرات ولایت د شیندند ولسوالی اوسیدونکی یو بزګر

د نارینه وو ، ښځو او ځوانانو اکثریت چی د خبرو اترو په دویم پړاو کی ګډون کړی وو په دی نظر وو چې دوامداره سوله یوازی هغه وخت د لاس رسی وړ دی کله چی ښځی وکولای شی د دغه بهیر په ټولو اړخونو کی فعاله ونډه ولری. افغان نارینه وو ، ښځې او ځوانان په ټول هیواد کی د هغو دودویزو افغانی رواجونو او فرهنګی نورمونو په اړه خپلی اندیښنی څرګندې کړل چی د دوی په ـ لډ په دوامداره توګه د افغانو ښځو په وړاندی د یوې وسیلی په څیر کارول کیږی او د سولی په بهیر کی د دوی له ګډون څخه مخنیوی کوی.

ګډون کوونکی په ملی کچه دا په ډاګه کړل چی ښځی څنګه له یوې لوړی کچې تاوتریخوالی څخه رنځ وړی چی اکثر وخت د کورنۍ د غړو له خوا او یا هم د هغو ټولنیزو او فرهنګی ودونو او رواجونو له مخی چی د خلکو په لډ ناوړه او نامناسبه رواجونه دی ، ترسره کیږی. ګډون کوونکی له دولت او نړیوالی ټولنی څخه وغوښتل تر څو د دغو ناوړو او نامناسبو دودونو او رواجونو د منفی اغیزو د مخنیوی لپاره عاجل لازم اقدامات تر لاس لاندی ونیسی او همدارنګه ښځو ته اجازه ورکړی څو په هیواد کی د دوامداری سولی د ډله ییزو هڅو په لار کی مناسبه ونډه ولری.

د غور ولایت څخه ګډون کوونکی د ناموسی قتلونو د زیانونو په هکله او د دی په اړه چی څنګه د متاثر شویو کورنیو د غړو په منځ کی غچ اخسته راپاروی ، د خلکو تر منځ لانجو او شخړو ته لمن وهی او د دوامداری غچ اخستنی لامل ګرځی ، خبری وکړل. د مثال په ډول د غور ولایت د دولت یار له ولسوالی څخه یوه سوداګر داسی وویل:

> *"د ښځو حقونو ته باید درناوی وشی ځکه چی په غور ولایت کی د شخړو د لاملونو څخه یو لامل د غچ اخستنی قتلونه دی چی په نتیجه کی قومی شخړی او نښتی منځ ته راځی. دلته ښځی په دوامداره ډول د خشونت لاندی راځی ."*

په همدی ډول د غزنی ولایت خلک په چنوبی سیمو کی د محافظه کاری فرهنګ د واکمنی په اره خبری وکړل چی د کافی افغان امنیتی ځواکونو د نشتون او د طالبانو د نفوذ د پراخوالی له امله د ښځو لپاره شرایط بدتره کړی دی. د غزنی ولایت له قره باغ ولسوالی څخه یوې ښځینه ګډون کوونکې د دی په اړه چی څنګه سیمه ییز دودونه په عامه چارو کی د ښځو له ګډون څخه مخنیوی کوی ، داسی وویل:

*"دلته په تولنه کی د ښځو پر وړاندی ډېر فشارونه او رواجون شتون لری چی د دوی د منزوی کیدو لامل گرځیدلی. په ولسوالیو کی ښځی تر دی نه زیات فشار لاندی دی ، دوی له تعلیم څخه لیری پاتی کیږی او د کور څخه بهر کارکول زمونږ لپاره ناممکن دی.هغه نارینه چی ښځو یی په حکومت یا نور دفترونو کی کار کوی د شرم او خجالتی سره مخ کیږی چی په نتیجه په تولنه کی ستونزی لاهم زیاتوی."*

کله چې ښځې او نجونې د هغوي د محرم د اجازې پرته خپل کورونه پریږدي ، یا د هغوي د ځای ځایگی په هکله خپلو کورنیو ته د معلوماتو د نه برابرولو په صورت کې نیولی کیږي په هغوي باندې د کورونو څخه د تیښتی تور لگول کیږي. یوې ځوانې ښځې چې د خلکو په دیالوک کې یې برخه اخیستې وه او په اوس حال کې د کور څخه د تیښتی په تور د تخار په زندان کې ساتل کیږي ، د دغه کلتوری ضرر لرونکی پالیسي اغیزې تشریح کړې:

*"د ښځو په وړاندې خشونت او ضرر لرونکی عنعنوي فعالیتونه په تخار کې د سولې د تامین او ټیکاو په برخه کې د ټولنې د یوی ډلی ، یعنی ښځو د فعال گډون مخه نیسی. دا عنعنوي فعالیتونه د اسلام د اصولو سره په ټکر کې دي."*

برسیره پردی ،د کاپیسا ولایت د اله سای په ولسوالی کې ،گډونوالو په دې حقیقت چې د نجونو پر مخ ښوونځی تړلی دي او همدارگه د تگاب په ولایت کې د نجونو زیاتره ښوونځی تړلی دي ، خواشینی وښوده. په کاپیسا ولایت کې نارینه وو ،ښځو ، او ځوانانو دغه ستونزه د یاغیانو د شتون سره تړلی بولی ، یادونه کوي چې د طالبانو شتون او تکثیر په دغو سیمو کې د دولت د کنترول مخه نیولی. له همدې امله ، د ښځو او نجونو حقونه په منفي توگه تر اغیزې لاندې راولی او دغه حقونه د پوځي ډلو ، څوک چې ډېر محافظه کاره ارزښتونه لري او د بشري حقونو ، ښځو د حقونو او د اسلام د اصولو سره په تناقض کې دي ، د هیلو تر اغیزې لاندې راولی.

په اخر کی گدون کوونکی د دجمهوری ریاست او ولایتی شوراگانو د ټاکنی په بهیر کی د بی امنی کچی د پراخیدو په اړه خپلی اندیښنی څرگند کړل چی د ښځو د سیاسی مشارکت پر حق باندی منفی اغیزه لری او دوی له دی حق څخه محروموی چی خپل هیواد د راتلونکی په اړه خبره وکړی. د تالقان ښار څخه یوې ښځینه گډون کوونکې وویل:

*"د تخار ولایت ځینی برخی د ټاکنو په بهیر کی ناامنه کیږی ،که د ټاکنی په ورځ د ټاکنی یوه مرکز هم ناامنه شی د رای ورکوونکو لپاره ، په خاصه توگه د ښځو لپاره ، به دا مشکل وی خپلی رایی د کارولو لپاره ووځی."*

### ۸.۲. پر ځوانانو باندی د شخړې اغیزې

> **"د روانی شخړې لپاره ځوانان د خامو موادو حیثت لري، زیاتره ځوانان وزگاره دي... نو له دې امله هغوي ژر استخدامیږی."**
>
> ▪ ځایي مدافع وکیل ،لغمان ولایت

### ښوونه او روزنه د امنیت لپاره مهمه ده

د خلکو په مباحثو کې ښکېلو افغانانو په پراخه پیمانه موافقه کړې چې شخړې په افغان ځوانانو بیلابیلی او غاړه ماتونکی اغیزې درلودلی دي. مناسبې ښوونې ته د لاس رسي ، د ځايي حکومتداري نه شتون یا د نشه يي توکو قاچاق او د مخ پر زیاتیدونکې بې کاري په ګډون له کومو ستونزو سره چې ځوانان مخ شوي ، د ټولنې په ټولو کچو کې له پورته یادو شویو ستونزو سره د هغوي د تجربو په پایله کې رامنځ ته شوي. د معارف د سیستم په دننه کې د اداري فساد د شتون په هکله ، د کنړ د ولایت څخه د ښوونکو ، د کور د ښځو ،ډاکټرانو او د پوهنتون د زده کونکو په شمول ، د ښځو یوی ډلی وویل:

*"د ښوونې په ریاست ، پوهنتونونو او ښوونځیو کې اداري فساد زیات شوی. هغه زده کونکی چې کولای شي بډې ورکړي او یا یې خپلوان په حکومت کې ښه موقیفونه لري کولای شي د کانکور ازموینې په بریالیتوب سره ترسره کړي،خو هغه کسان چې فارغ شي او پیسی نه لري او بډې ور نه کړي او یا په حکومت کې خپلوان و نه لري ، نه شي کولای د ځان لپاره کار ومومی."*

د هلمند ولایت د ناد علی ولسوالی څخه هم یوه اوسیدونکی د ښوونې او روزنې په ریاست نیوکه کړې ، او ویلی یې:

*"زموږ ولسوالی د ولایتی مرکز څخه یواځی ۱۲ کیلومتره واټن لري ، خو بیا هم موږ د زده کونکو او ښوونکو لپاره مناسب ښوونځی او امکانات نه لرو. ځینې وختونه موږ ښوونکې او ښوونځی لرو خو بیا هیڅ زده کونکی نه وي ، په دې ترتیب سره ، هغه ښوونکي چې معاشونه ترلاسه کوي په حقیقت کې کار نه کوي. د ښوونې او روزنې ریاست په اداري فساد کې ډوب دی."*

د کندهار ولایت څخه د پوهنتون یوی ښځینه ښوونکي وویل چې ولی د ځوانانو لپاره ښوونه او روزنه مهمه ده:

*"ښوونه او روزنه د امنیت لپاره مهمه ده. لوستی خلک جګړه نه کوي! په دغه خونه کې موږ ته وګوری- موږ جنګ جګړه نه کوو. لوستي میرونه چې ښه معاشونه لري خپلې ښځې نه ډبوی."*

د خوست ولایت په خوست ښار کې ، د لیسی او پوهنتون یو شمیر ښځینه زده کونکو هم دا خبره په ډاګه کړې چې د پوځي ډلو لخوا د ځوانانو د استخدام څخه د مخنیوی په خاطر ښوونه او روزنه څنګه رول لوبولای شي:

*"د معارف په نشتون کې ، دا به د پوځي ډلو لپاره ډیره اسانه وی چې د ځوان نسل افکار په خپله خوښه واړوی او د شخړې طرف ته یې سوق کړې."*

د هرات په ولایت کې د ګزری د ولسوالی څخه د کلی یو مشر توافق درلود:

*"د شخړې مهم لامل بې سوادی ده. د ښار د ځوانانو او د ولسوالی او یا کلی د ځوانانو تر منځ ستر توپیر دی. کله چې ځوانان د تعلیمی موسساتو څخه لیری ژوند وکړی ، هغوي د ښو او بدو تر منځ توپیر نه شي کولای ، هغوي شخړې ته مخه کوي او د وسله والو ډلو سره یو ځای کیږي."*

د لغمان د ولایت څخه نارینه وو ، ښځو او ځوانانو کمزوری ځایي حکومتداری ،د عامه خدمتونو په برخه کې کموالی او د سرچینو غیر عادلانه ویش د شخړې لاملونه بللی چې ځوانان په بیلابیلو ډولونو متاثره کوي. ټکنی انکشاف ،زیاتې نستی ، بې کاري او بې سوادی د لغمان د ولایت څخه زیات ځوانان اړ کړي چې د مخالفینو پوځې ډلو لیکو ته ورشی. د پوځې ډلو لخوا د استخدام شویو کسانو عمرونه د ۱۴ او ۲۵ کلونه تر منځ دي ، د لغمان ولایت د ولایتی شورا مشاور وویل.

د مخدره توکو د قاچاق په حواله ،د نیستی ،کاري فرصتونو د نه شتون او په ناقانونه اقتصاد کې د واکمنو کسانو د ادعا شوی ښکېلتیا له امله د بدخشان د ولایت څخه ګډونوال د تریاکو تولید ته د یوی ستري ننګونې په حیث د کومې سره چې د بدخشان ځوانان مخ دي ، ګوری. د بدخشان د ولسوالی د شهر بزرګ څخه یو تن پلار په جدي توګه یادونه کوي:

*"زما زوی وزګار وه او کومه دنده یې هم نه درلوده. هغه د ځان او خپلې کورنۍ لپاره نه شوای کولای څه تر لاسه کړي ،ځکه نو اړ شو چې د افغانستان څخه تاجکستان ته یو څو کیلو ګرامه هیروین ولیږدوی. نوموړی ونیول شو او د ډیرو کلونو لپاره بندی شو. په شهر بزرګ کې زما د زوی په څېر ډیر بې وسه ځوانان حالاتو اړ ایستی څو هیروین ولیږدوی ځکه چې دوی د پیسو د ترلاسه کولو لپاره بله لار نه لري... یواځی د نیستمنو کسانو زامن نیول کیږي ځکه چې دوی د خپلو کورنیو لپاره د عایداتو د ترلاسه کولو د یوی وسیلی په حیث مخدره توکی لیږدوی."*

د کندز د ولایت څخه ګډونوالو هم د ځوانانو بې کاري د شخړې د یوه مهم لامل په حیث کتګوری کړي. هغوي تاکید کوي چې کله زیات کسان په دندو وګمارل شي ، هغوي به بیا هیڅکله هم د شوریشیانو لخوا و نه غولیږی او یا د دې وخت ولري چې د سولې ضد فعالیتونو کې ښکېل شي. د هیواد په کچه نارینه وو ،ښځو او ځوانانو منلی چې په کار ګمارلی کسان به نیکمرغی مشاهده کړي ، په پایښت لرونکی امنیت کې به مستقیمه علاقه ولري او د یاغیتوب سره به یو ځای نه شي او یا به بیا په یاغیتوب کې برخه وا نه خلی. د خبرو اترو په جریان کې خلکو په دوامداره توګه وړاندېز وکړ چې د شخړې سره د مبارزی د یوه تدبیر په حیث باید د حکومت له خوا زیات کاري فرصتونه برابر شي. د کندز ولایت د علی اباد د ولسوالی څخه د ټولنې یوه مشر وویل:

*"موږ یو عام متل لرو چې وایي ، د بیکاره سړی کوپړی د شیطان ځاله ده. د ستونزی مهمه برخه بې کاري ده ، او بې کاري هغه مهم لامل دی چې خلک ، په خاص ډول بې کاره ځوانان یاغیتوب ته مخه کوي."*

د کندهار د ولایت څخه ګډونوالو یوه بیلګه وړاندې کړه چې دوی ولی دا فکر کوي چې حکومت د ځوانانو لپاره د مساوي کاري فرصتونو په برخه کې کافي کار نه دی ترسره کړي ، وایي:

*"کله چې خلک واک ته ورسیږی نو ټول کارونه خپلو خپلوانو ته وویشی. دا وګړی د انحراف لور ته ټیل وهی. په کلیوالی سیمو کې بې کاري زیاته ده. هغه ځوانان چې کار نه لري ، ګوری چې حکومت یې څومره په فساد کې ډوب دی ، په اسانه د طالبانو د استخدام کونکو ، څوک چې د دوی د نا امیدی څخه ګټه پورته کوي او د دوامداره معاش او حتی د یوی عرادی موټر سایکل په ورکولو هغوي غولوی او هغوي په اسانه ښکار کوي."*

د بیکاري د پایلو او د ځوانانو لپاره د فرصتونو د نه شتون په هکله د ورته احساساتو سره ، کوم چې دوی د اداري فساد او نا مساوي پراختیا د نه شتون سره تړاو ورکوي د هیواد په کچه په خبرو اترو کې ، نارینه وو ، ښځو او ځوانانو په ځوانانو باندې د شخړې څو اړخیزه اغیزې روښانه کړي.

## ۳. د سولې لپاره طرح

> **"حکومت خلکو ته نه بلکه جګړه مارو ته حساب ورکونکی ده."**
> -- بلخ ولایت ،ښځینه ښوونکي

هغو نارینه وو ، ښځو او ځوانانو چې د خلکو د خبرو اترو په دوهم پړاو کې ګډون کړی ،د سولې جوړونې یو لړ مشخصې ځایي حل لارې چې موخه یې د هغوي په اړوندو ولایتونو کې د شخړې د اصلي لاملونو ځواب ویل دي ،وړاندېز کړی. پایښت لرونکی سولې ته د رسیدو په موخه ، چې په عمومي توګه د اړوندو موضوعاتو او نوښتونو چې شرح یې لاندې وړاندې شوې ، واقع کیږي ، ګډونوالو ریښتینی او عملي وړاندېزونه وړاندې کړي.

### ۳. ۱. د دولت د مشروع قدرت او صلاحیت اعاده کول

افغانانو تاکید کړې چې د هیواد په کچه د پایښت لرونکی سولې او ټیکاو د را منځ ته کولو حل لاره د دولت د مشروع قدرت او صلاحیت په اعاده کولو کې نغښتی ده. د افغانانو لوی اکثریت چې د خلکو په خبرو اترو کې ښکېل وه یادونه کړې چې د ځایي حکومتي ادارو مشروعیت د ولسوالی او ولایت په کچه په ځایي حکومت داری باندې د خلکو د باور د نه شتون ،دوامداره اداري فساد او د امنیتي او ځایي حکومتي ادارو په دننه کې د صلاحیت څخه د ناوړه کارونې او همدارنګه د ځواب ورکونکی ،دیموکراتیک او مسلکی امنیتي ځواکونو د نه شتون ، په خاص ډول د افغان سیمه ییزو پولیسو او حکومت پلوه ملیشاوو له امله په جدي توګه کمزوری شوی.

#### دفساد له منځه وړل

د خلکو د خبرو اترو ټولو ګډون کونکو د نظر ټکی څرګند کړل چې د ځایي حکومت مشاهده شوی نه مشروعیت د هغوي په ولایتونو کې د نا امني او د ټیکاو نشتوالی ستر لامل وه. هغوي په ټولیز ډول دا اندیښنه- خپریدونکی فساد ، د صلاحیت څخه ناوړه کارونې او په ځایي حکومت باندې د قدرت د دلالانو او جګړه مارو نفوذ ته منسوب کړي.

نارینه وو ، ښځو او ځوانانو د رسیدګی او توازن د پیاوړتیا په هکله تاکید کړې ، دا به د ځایي حکومتي ادارو د نظارت کولو په برخه کې مرسته وکړی. هغوي د حساب وړ ،شفافه او موثره ځایي حکومت ، کوم چې دوی وایي د پایښت لرونکی سولې د تامین لپاره ضروری دی ، غوښتنه وکړه. خلکو په کلکه د اصلاحی پروګرامونو ، د دندو څخه د ککړو چارواکو د لري کولو ، د وړتیا پر اساس د ځایي حکومتي چارواکو د انتخاب څخه د داډ حاصلولو او د لا موثره اداري طرزالعملونو د معرفی کولو په شمول د پلی کولو غږ کړی. د دې علاوه ، د حکومتي ادارو ، د بیلګې په توګه د نظارت د عالی ریاست ، د قانونی تعقیب د ریاستونو او قضا د ظرفیت او نظارت ښه کول د مهمو تدبیرونو په حیث یاد کړي. د ظرفیت او نظارت ښه کول ښایی د ژر خپریدونکی فساد او د هیواد په کچه د صلاحیت څخه د ناوړی ګټه اخیستنی د مخنیوی په برخه کې د پام وړ مرسته وکړی او ، په عوض کې ، د دولت لخوا د ټولو لپاره د عدالت انتقال ، د قانون حاکمیت او بشري حقونه تسهیل کړي.

## د امنيتي ادارو پياوړتيا

هغه عمومي نظر چې د خبرو اترو په ترځ کې څرګند شو ، هغه د سولې او ټيکاو د تامين په برخه کې د حکومت پاته راتلل وه او علت يې د دولت په ظرفيت کې هغه جدي نقض دی چې په موثره توګه خپل صلاحيت وکاروی. د سيمی او همدارنګه په سوله ييز ډول د ځايي شخړو د اداره کولو اړه د صلاحيت د ساتلو په برخه کې د حکومت ناکامي ته د يوه مرکزي فاکتور په حيث کتل شوی. افغانانو په ټوليز ډول د اصلاحاتو او د افغان امنيتي پوځي ځواکونو د پياوړتيا په هکله د تر لاسه شوی پرمختګ تصديق کړی ، او ، په تيره بيا ، د افغان ملی پوځ په هکله د زيات باور راپور ورکړل شوی. د جنايی او ناوړه سلوک ، د بشري حقونو د جدي سرغړونو په شمول ، چې د افغان ملی پوليسو ،افغان سيمه ييزو پوليسو او نورو حکومت پلوه مليشاوو لخوا ترسره شوی ، ظاهرا جدي راپورونه مطرح شوی.

د دې په خاطر چې موثره ، ځواب ورکونکی او ديموکراتيک امنيتي ځواکونه را منځ ته شي ، نارينه وو ،ښځو او ځوانانو د جوړښت او د مسلکی بشري پانګی په حواله د امنيتي ځواکونو د دندو د را منځ ته کولو او غزولو وړانديز کړی. افغانانو ويلی چې دوی د افغان ملی امنيتي ځواکونو د تجهيز لپاره د دوامداره ملاتړ غوښتنه کوي او غواړي د داسې افغان ملی امنيتي ځواکونو شخه چې د خلکو اړتياوو ته ځواب ووايی داډ حاصل کړي ، او د داخلی او نړيوالو شريکبانو فعالينو چې د افغان دولت جوړونې په پروسه کې ښکېل دي ، ګډ هدف تعقيب کړي. د خلکو د خبرو اترو د دوهم پړاو پر مهال د ټولټال ۴۶۴۸ نارينه وو ،ښځو او ځوانانو سره مشوری ترسره شوی ، د دې کسانو د جملی شخه لوی اکثريت باور لري چې د افغان ملی امنيتي ځواکونو تجهيز او روزنه او د دې ځواکونو د ظرفيت لوړول او همدارنګه د هيواد شخه د ۲۰۱۴ کال تر پايه د نړيوالو پوځي ځواکونو د بشپړ وتلو وروسته د نړيوالې ټولنې دوامداره ملاتړ او همکاري ډيره اړينه ده. د خوست د ولايت شخه د مدني ټولنې د يوه فعال نظر د نړيوالو ځواکونو د له وخت نه وړاندې وتلو د عکس العملونو په هکله د ټول هيواد په کچه عام توافق منعکس کوي:

> *"موږ مثبت بدلونونه وينو خو دا دايمی نه دي. کله چې په هيواد کې هيڅ نړيوال پوځي ځواکونه شتون و نه لري ،ويره لرم چې ټولی لاسته راوړنی به له لاسه ورکړو."*

په ننګرهار ولايت کې د يوی ځايي راديو مشر د افغان ملی امنيتي ځواکونو د پياوړتيا او اصلاحاتو په هکله د حکومت او نړيوالو پوځي ځواکونو د نقش په هکله د يو شمير زياتو کسانو نظريی په ښکاره الفاظو بيان کړي:

> *"د دې په خاطر چې جګړې ته د پای ټکی کېښودل شي ، افغان امنيتي ځواکونه بايد په جدي توګه اصلاح ،تجهيز او تيار شي. حکومت بايد د لوړ رتبه چارواکو په واسطه اداري فساد ته ځواب ووايی او مرتکيبينو ته سزا ورکړی."*

افغانانو په ټوليز ډول د خپريدونکی اداري فساد او د افغان ملی امنيتي ځواکونو - په خاص ډول د افغان ملی پوليسو ،افغان سيمه ييزو پوليسو او نورو حکومت پلوه مليشاوو په ناوړه چلند باور درلود- چې ټولنې د رايی او انتخاب د حق شخه محروموی او په دې ډول خلک د ياغی ډلو سره يو ځای کيدو ته هڅوی. د دې په خاطر چې په افغان ملی امنيتي ځواکونو باور زيات شي ، ګډونوالو د هيواد په کچه وړانديز وکړ چې ځايي ټولنو ته دې واک ورکړل شي څو د بشري حقونو او نورو سرغړونو په هکله چې د افغان ملی امنيتي ځواکونو لخوا ترسره کيږي راپور ورکړی ، او د افغان ملی امنيتي ځواکونو ناقانونه عملونه وڅيړی او مرتکيبينو

ته سزا ورکړل شي. په بل عبارت ، ګډونوالو د فعال جنایی عدلی سیستم/میکانیزم(عادلانه او موثر) چې د افغان ملی امنیتي ځواکونو د عملونو نظارت وکړی ، غوښتنه وکړه.

ګډونوالو همدارنګه باور درلود چې یو شمیر تمویل شوی پروګرامونه او د ټولنې تر رهبري لاندې د سولې جوړونې نوښتونه ، د بیلګې په توګه ، د(GIZ) د ټولنې د نظم ساتنې پروګرام ، د کلی د کچې د سولې او پراختیا شوراګانی د ټولنو او افغان ملی پولیسو تر منځ د اعتماد د نه شتون د ځواب ویلو په برخه کې ګټور دی. افغانانو همدارنګه راپور ورکړی چې داسې نوښتونه د دې پوتانسیل لري چې د افغان ملی پولیسو په سلوک باندې او همدارنګه د افغان سیمه ییزو پولیسو د ټاکلو لپاره د ټولنې پر اساس د ممکنه نظارتی میکانیزم په حیث کار وکړی.

د خلکو د مباحثی په ترڅ کې ، ګډونوالو د ناقانونه پوځي ډلو او نورو حکومت پلوه ملیشه وو د له منځه وړلو غوښتنه وکړه ، دوی تاکید کوي چې دا په ځایي حکومتي ادارو باندې د قدرت د دلالانو او جګړه مارو د نفوذ د له منځه وړلو لپاره اړین دي. خلکو تاکید کاوه چې په دې سره به د ولسوالی په کچه سوله او ټیکاو ښه شي. افغانانو په کلکه د هیواد په کچه د ناقانونه پوځي ډلو د بې وسلې کولو د پروګرام د دوام غوښتنه کوله.

### ۳.۲. د بشري حقونو او د قانون د حاکمیت وده او د معافیت له منځه وړل

د خلکو د مباحثو د پروسې په ترڅ کې ، ګډونوالو په عمومي توګه باور درلود چې ګټوری او موزونی هڅې چې موخه یې د بشري حقونو وده او ساتنه ده ،د قانون د حاکمیت ښه کول او د معافیت د له منځه وړل دي ، باید د حکومت ، مدني ټولنې او نړیوالې ټولنې په موخو کې راشي. د پکتیا د ولایت څخه یوه تن ګډونوال د اکثریت کسانو احساسات خلاصه کړي:

*"د بشري حقونو پلی کول او د فساد له منځه وړل:دا د افغانانو هیله ده."*

د بشري حقونو څخه د برخمن کیدو په تړاو ، اکثرو افغانانو د شخړې منفي اغیزو ته ارجاع کړې. د خوست ولایت د خوست ښار څخه یوی ښځینه ګډون کونکی وویل:

*"چیری چې جګړه وی تاسو هلته نه شي کولای خپل ټول اساسي او د اساسي قانون په چوکاټ کې د حقونو څخه برخمن شي: نارینه او ښځې خپل حقونه ، حتی ډیر مهم حقونه ، د بیلګې په توګه ، د ژوند او زده کړې حقونه له لاسه ورکوي. ځایي شخړې هم نارینه او ښځې د خپلو حقونو څخه محرومول. د بیلګې په توګه ، که چیری په یوه سیمه کې د دوو قومی خواوو تر منځ شخړه وی ، هیڅ طرف نه شي کولای خپل ماشومان ښوونځی ته ولیږی ، هغوی پاملرنی او داسې نورو شیانو ته لاسرسی له لاسه ورکوي..."*

په ورته توګه ، د خوست د ښار څخه یوه تن مذهبي عالم پورته یادو شویو شیانو ته انعکاس ورکړ:

*"که چیری د بشري حقونو درناوی وشی ، په دې کې هیڅ شک نه لیدل کیږي چې د خشونت او شخړې په کچو کې به کموالی راشي."*

په یوې وېشلې او عنعنوي ټولنه کې ، د بشري حقونو د ودې او ساتنې هرکلی په بشپړه توګه نه دي شوی. یو شمیر ګډونوالو د دې درک له امله چې ګویا بشري حقونه یوه وارد شوی او غربی پدیده ده چې په ځینو مواردو کې د اسلام د اصولو او افغان عنعنوي ارزښتونو سره په ټکر کې دي اندیښنه څرګنده کړې. سره له دې ،یو شمیر زیاتو ګډونوالو دا درک کړې چې دا ډول منفي احساسات د بشري حقونو په هکله د محدود پوهاوی څخه سرچینه اخلی. د بلخ د ولایت څخه یوې ښځېنه ښوونکې دا مسله چې په افغاني ټولنه کې ولی خلک په بشري حقونه باور نه لري ، تشریح کړه:

*"په افغانستان کې ځینې خلک د بشري حقونو مخالفت کوي ځکه چې دوی باور لري بشري حقونه د دوی د عنعنوي ارزښتونو سره په ټکر کې دي... دا بشري حقونه نه دي او په یوه ډول هغه معرفی شوی دي... بشري حقونو د زده کړو ،خوړو ، استخدام ، د خوځښت د ازادی او داسې نورو شیانو په هکله دي... د قران مجید احکام د ښځو د حقونو په هکله د بشري حقونو د معیارونو سره په مطابقت کې دي."*

زیاترو ګډونوالو چې په دې مباحثو کې د بشري حقونو په هکله خبری اتری وکړې په ټولیز ډول د بشري حقونو د پوهاوی د پروګرامونو د شمیر او کیفیت د زیاتیدو غوښتنه وکړه څو په دې توګه ټولنه د بشري او ښځو د حقونو سره اشنا شي. په نتیجه کې به دې ته ټول په دې سترګه وګوری چې دا د افغان ټولنې او کلتور سره په مطابقت کې دي.

افغانانو همدارنګه د بشري حقونو د سرغړونو او ملکي تلفاتو په اړه چې د نړیوالو پوځي ځواکونو او افغان ملی امنیتي ځواکونو د عملونو په پایله کې را منځ ته کیږي ژوره اندیښنه څرګنده کړې. هغوي باور لري چې هوایی بمباری ، د شپی پر مهال یرغلونو او د ناسمو استخباراتی معلوماتو پر اساس د کورونو تلاشی ګانو ، وژنو ، ټپی کیدنو او د ټولنېزو او کلتوری ارزښتونو تخلف ته لار هواره کړې. د هغو نارینه وو ، ښځو او ځوانانو په حواله چې د خلکو په مباحثه کې ښکېل وه ، په دې نظر دي چې دا ډول عملونه د شخړې د یوه لامل په حیث عمل کوي. د ځایي ټولنې د هڅولو له لارې او په دې خاطر چې ناسم په سمو واړوی ، یاغی ډلو ته د هغوي ولسوالیو ته د ننوتو اجازه ورکوي. ځکه نو ، ګډونوال د حکومت او نړیوالې ټولنې لخوا په کلکه د عملي ګامونو د پورته کولو غوښتنه کوي څو په دې کار سره د یاغیتوب په وړاندې د عملیاتو پر مهال د ملکي کسانو د امنیت او ساتنې او همدارنګه په دې زمینه کې د هغوي د اساسي بشري حقونو د ساتنې څخه ډاډ حاصل شي.

د خبرو اترو نږدې ټولو کارکونکو په تقریري ډول د قانون د حاکمیت ، شفافیت ، مسولو او موثره دولتی ادارو او د هیواد د معافیت د میراث ختمولو لپاره هیله څرګنده کړه. هغوي فکر کوي چې د هغوي په ولایتونو کې د پایښت لرونکی سولې د تامین لپاره د دې تدبیرونو نیول مهم دي. د ګډون کونکو لوی اکثریت وړاندېز کړی چې د قانون د پلی کونکو او قضایي دستګاوو د پایښت لرونکی سولې د تامین د هر ډول هڅو په مرکز کې قرار ولري. هغوي د تیرو ۱۲ کلونو په ترځ کې په قضایي سکټور کې په خاص ډول په لري پرتو سیمو کې د د قضایي ادارو د شتون له لارې د حقوقی اصلاحاتو د مثبتو لاسته راوړنو تصدیق کړی. افغانانو ادعا کړې چې عملي ګامونه ، د قضایي سکټور د کارکونکو د بررسی او عامه تحقیق ، د جامع قوانینو د جوړولو او همدارنګه د موسساتی او طرزالعملی تعدیلونو په شمول چې موخه یې د قضایي سکټور د ادارو په دننه کې د صلاحیت څخه د ناوړه کارونې او فساد په وړاندې مبارزه ده ، د مناسب نظارت تر څنګ د دغو ادارو د خپلواکی څخه ډاډ حاصلول دي او په افغانستان کې د معافیت د میراث د ختمولو په هدف مهم ګامونه دي ، خو تر پورته یادو شویو مواردو پوری محدود نه دی.

## ۳.۳ د ښځو د حقونو او د سولې جوړونې په پروسه کې د هغوي د نقش ترويج

د هيواد په کچه نارينه وو ،ښځو او ځوانانو هغه اندېښنې د کومو څخه چې افغان عنعنوي کلتوری نورمونه او ناروا عملونه سرچينه اخلی او ښځو ته تلفات اړوی ،او همدارنګه د سولې جوړونې په فعاليتونو کې د هغوي د ګډون او د دغو فعاليتونو څخه د هر ډول ګټو د ترلاسه کولو مخه نيسی ،څرګندې کړي. د هيواد په کچه ، ګډونوالو په ډاګه کړې چې افغاني ښځې څنګه د هغوي د خپلو کورنيو لخوا د خشونت د لوړی کچې څخه متاثره کيږي ، او دا تر يوی اندازی پوری د خلکو په اصطلاح د نا مناسبو او ضرر لرونکو ټولنېزو نورمونو او کلتوری فعاليتونو څخه را منځ ته کيږي. ګډونوالو د حکومت او نړيوالې ټولنې لخوا د سمدستی عملونو د ترسره کولو غوښتنه کړې. داسې تدبيرونه دې خپل کړي چې د ښځو د حقونو په هکله د ضرر لرونکو عنعنوي فعاليتونو منفي اغيزې ختمی کړي ، او په عو ض کې ښځو ته اجازه ورکړی چې په هيواد کې د پايښت لرونکې سولې د تامين په موخه په عمومي هڅو کې خپل ريښتنی ځای ترلاسه کړي.

د باميانو په ولايت کې ، دګروپی منځواله په هر ډول خبرو اترو کې افغانانو د ښځو ، د حقونو د ترويج او د سولې په پروسه کې د هغوي په ګډون ټينګار کړی.د يکاولنګ د ولسوالی څخه يوه ګډون کونکی وويل:

*"د سولې په هر ډول پروسه کې بايد بشري حقونو ، په خاص ډول د ښځو حقونو ته درناوی وشی.يوځې ډلی بايد د افغانستان اساسي قانون ته درناوی وکړی او هغه ومنی."*

د باميانو د ولايت د ورس د ولسوالی څخه بل ګډون کونکی له دې خبری سره متفق و ، او ويې ويل:

*"موږ بايد د ښځو د حقونو او بشري حقونو د قربای کيدو مخه ونيسو."*

د تخار په ولايت کی د افغان نارينه وو ، ښځو او ځوانانو ، د ښځو اړتياوی لکه د کار د امکاناتو او د ښځو زيات استازيتوب په قضايي سيستم او همدارنګه په نورو سکتورونو د حکومت په سيمه ييز کچه سره دکار مباحثه وشوه ،څکه چې ښځی د فساد په وړاندې لږ مستعدی دي.

يو نارينه د پوهنتون يوه زده کوونکي له تالقانو ښار وايي:
"ښځې بايد د حکومت ټولو سيمه ييز ، سياسی او حکومتي دفترونو کې حصه ولری څکه ښځې سوله راوړنکی اولږ ترلږه فساد ګه ښکېلې وی. "

د کابل د ولايت څخه ښځېنه ګډونوالو د وړانديزونو په هکله چې موخه يې د ځايي شورا ګانو پياوړی کول دي اندېښنې څرګندې کړي. د هغوي په ګمان دا پريکړې په عنعنوي قضاوت ولاړې دي او اکثرا نه شي کولای ښځې د نور خشونت څخه وساتی. د پکتيا ولايت د ګرديز څخه يوه تن زده کونکی وويل:

*"د ملايانو ستونزه دا ده چې دوی د اوسنيو نړيوالو پرمختګونو سره بلد نه دي.په خاص ډول ، د ښځو د حقونو په هکله د هغوي پوهاوی او تعبير په ډيره ټيټه کچه کې قرار لري او له ستونزو څخه ډک دی."*

د کاپیسا د ولایت څخه خلکو خپلې اندېښنې بیان کړي او وایي چې حکومت باید په ټولنو کې د ښځو او نجونو په وړاندې د ضرر لرونکو عنعنوي کړنو او د ښځو په وړاندې د خشونت د له منځه وړلو د ۲۰۰۹ کال د قانون په هکله د پوهاوی کچه لوړه کړي.[۱۲] په کاپیسا کې خلکو ټینګار کړی چې پولیس ، څارنوالان او محکمې باید د ښځو په وړاندې د خشونت د جرمونو لکه څنګه چې د ښځو پر علیه د خشونت د منع د قانون لاندې تعریف شوي او کوم چې د قانون جوړنې مشروعیت لا ښه کوي ، د تورنو مرتکبینو د محاکمې هڅې لا چټکې کړي. برسیره پردی ، هغوي د افغان ملي پولیسو د ستونزو ، کومې چې د ښځو په وړاندې د خشونت د دوسیو سره معامله کوي ، یادونه وکړه. هغوي وړاندېز کوي چې د کاپیسا په ولایت کې باید د افغان ملي پولیسو د کورنۍ غبرګون د واحدونو د کارکونکو مهارتونه او د هغوي د ارجاع ضوابط پیاوړي شي.

په ټولیز ډول ، افغانان په دې نظر وه چې د سولې په هر ډول پروسه کې باید ښځې برخه ولري او د ښځو د حقونو په انقطاع باندې خاتمه و نه مومي. د کندهار د ولایت څخه یوی ښځینه ښوونکي د هیواد په کچه دا نا هیلې په لاندې توګه خلاصه کړه:

*"د څو لسیزو شخړو له امله هیواد لا نور هم د نارینه وو په واک کې پریوت. حتی د اسلام ستر پیغمبر جناب محمد(ص) هم د خپلې ښځې ،خور او مور څخه مشورې اخیستې. ولی نن ورځ زموږ نارینه او واکمنان ورته کارونه نه ترسره کوي؟"*

### ۴.۳. د برابرې ټولنیزې او اقتصادي پرمختیا تحقق

د خلکو د مباحثو په ترڅ کې ، لکه څنګه چې پایداری سولې ته د رسیدو لپاره مهم دي ،افغانانو په عمومي توګه په اقتصادي او ټولنېز انکشاف کې ، د معارف د پیاوړتیا د سیستم په برخه کې د ریښتینو هڅو ، د کار د فرصتونو د ایجاد او انکشاف ته د مساوي لاسرسی څخه د ډاډ حاصلولو په شمول د لمس وړ پرمختګ مشاهده کړی دی. زیاترو ګډونوالو ویلی چې د تیرو ۱۲ کلونو په ترڅ کې چې په ملیاردونو کوم ډالر مصرف شول ، د هغه با وجود هم مساوي لاسته راوړنی نه دي تر لاسه شوی. نارینه وو ،ښځو او ځوانانو د هیواد په کچه ټینګار کړی چې پرمختګ باید د خدمتونو د وړاندې کولو په حواله ، د بیلګې په توګه ، د اعمار شویو ښوونځیو او روغتونونو شمیر و نه سنجول شي بلکه بسنټ یې باید د دغو مهمو خدمتونو په کیفیت ، کوم چې د زیاترو خلکو په ګمان د قناعت وړ نه دي ، ولاړ وی. د فراه په ولایت کې د بشري حقونو یوی فعالی دا خبره چې په فراه ولایت کې د ټولنیزې او اقتصادي پراختیا نه شتون د نا امني او بې ثباتی سره څنګه مرسته کړې ، څرګنده کړه:

*"په دې ولایت او په خاص ډول په ولسوالیو کې د زیږون میزان لوړ دی په داسې حال کې چې وګړی یوازې وسلو ته لاسرسی لري ، هغوي معارف او روغتیایی خدمتونو ، اوبو او غذایی مصونیت ته لاسرسی نه لري. تاسی له یوه داسې نسل نه د خشونت او شخړې پرته څه تمه لري؟ طالبان او نورې وسله واله ډلې په اساني سره کولای شي له هغوي څخه د وړیا بشري ځواک په حیث د خپلو مقاصدو لپاره کار واخلي."*

[۱۲] وګورئ ، د ښځو پر علیه د خشونت د منع قانون ، د افغانستان اسلامي جمهوریت ، ۲۰۰۹ ، اګست ۱. د دغه قانون ۵ ماده ۲۲ داسې عملونه په لست کې شامل کړي چې اترکاب یې له ښځو سره د خشونت مانا لري: جنسي تیری ، په جبري ډول فاحضه ګرې ته اړ ایستل ، اور ته غورځول ، د کیماوي یا نور خطرناکو موادو کارول ، د یوه قرباني د هویت افشاه کول په داسې ډول چې زیان ورته ورسوي ، د یوې ښځې مجبورول چې پخپله ځان وسوځوي ، د معیوبیت یا ژوبلې سبب کیدل ، وهل ، د واده لپاره یا د واده په پلمه د ښځو پیرودل یا رانیول ، په بدو کې ورکول (د یوې شخړې د حل کولو په موخه د یوې ښځې نجلۍ ورکول) ، جبري ازدواج ، د میړه له انتخاب څخه منع کول ، له قانوني عمر څخه مخ کې ازدواج کول ، بده استفاده ، توهینول یا بیرول ، تهدیدول یا تعقیبول ، په جبري ډول ګوښه کول ، په جبري ډول په نشه یي توکو معتادول ، د میراث له حقونو څه انکار کول ، د تعلیم ، کار او روغتیایي خدمتونو ته له لاس رسي څخه انکار کول ، جبري کارونه ، او د مدني قانون د ۸۶ مادې په خلاف له یوې څخه د زیاتو ښځو سره ازدواج کول. ۲ ماده د قانون هدفونه بیانوي: "د هغو رواجونو ، دودونو او عملوو په ضد مبارزه کول چې د اسلام د دین په خلاف د ښځو په وړاندې د تاوترخیوالی سبب ګرځي او د د ښځو په وړاندې د خشونت منع کول او تعقیبول."

### د استخدام د فرصتونو د را منځ ته کولو ترویج

افغانانو په عمومي ډول توافق درلود چې د استخدام لا زیات فرصتونه ، په خاص ډول د ځوانانو لپاره به د هغوي په ولایتونو کې د سولې او ټیکاو په هکله پایښت لرونکی اغیزې ولري. هغوي څرګنده کړه چې د کرنې په سکتور کې ، د بیلګې په توګه د ځمکې ورکول او د اوبو لګونې مناسب سیستم به کلیوالی اقتصاد ښه کړي. د دې علاوه ، خلکو واضح کړه که چیری خصوصی او دولتی تصدی ګانی ، د بیلګې په توګه د رخت جوړولو ،غالي جوړولو ، کنډ پاکولو ،تیلو جوړولو او لبنیاتو جوړولو کارخانی کاري فرصتونه را منځ ته کړي او د حکومت مناسب ملاتړ ترلاسه کړي ، غوره به وی. د غور د ولایت د پسابند د ولسوالی یوه تن موټر چلونکی وویل:

*"د خلکو اقتصادي مسایلو ته د حکومت نه پاملرنی نا امني زیاته کړې.که چیری حکومت د خلکو اقتصادي او نوری ننګونې کړې وای ، نو نا امني به کمه شوی وای."*

د پروان د ولایت د حج او اوقافو د ریاست یوه تن استازي وویل:

*"په پروان ولایت کې د شخړې یو لامل بې کاري او د فابریکو نشتون دی. د مجاهدینو د واکمنې پر مهال د جبل سراج په ولسوالی کې د ټوکرو د اوبدلو دوې لویې فابریکې وې چې په او س حال کې د کار څخه لویدلي دي. د خلکو لپاره د کاري فرصتونو را منځ ته کول خورا مهم دي او د راونې شخړې د پای ته رسیدو په مسله به ژوره اغیزه ولري ، کله چې خلک معاش ولري او په مالي لحاظ د خپلو کورونو ملاتړ وکړي ، هغوي به د پوځي ډلو سره یو ځای نه شي.له بده مرغه ، حکومت دې ستونزی ته پاملرنه نه کوي."*

### د معارف د سیستم پیاوړتیا

نارینه وو ، ښځو او ځوانانو د جوړښتی او د درسونو د کیفیت له لحاظه د حکومت څخه د یوه لا فعاله او موثر معارف سیستم د جوړولو غوښتنه کړې کوم چې د دوی د ادعا له مخی باید د حکومت او نړیوالې ټولنې په لومړیتوبونو کې ځای ولري. افغانانو تاکید کړې چې د معارف لا زیات جوړښت به د اضافی زده کونکو د ځایولو د چارو سره مرسته وکړی او په دې سره به په ښوونځیو کې د اذدحام د ستونزی څخه مخنیوی وشی.

د یوه کیفیت لرونکی معارف سیستم د را منځ ته کولو څخه د ډاډ حاصلولو په موخه د ښوونکو د ظرفیت لوړولو او د یوه داسې درسي نصاب جوول چې د زده کونکو ظرفیت او زمینی ته ځانګړی شوی وی.

د بدخشان ولایت د یاوان ولسوالی څخه یوه تن د بدخشان په ولایت کې د ښه معارف پر سر ټینګار وکړ.

*"معارف د خلکو ذهنونه روښانه کوي ، په دې توګه د خپلو کورنیو لپاره عایدات لاس ته راوړی ,زموږ په کلی کې ، په زرګونو خلک کار نه لري ..حکومت باید دغو ځوانانو ته تخنیکی او مسلکی مهارتونه برابر کړي ... "*

د معارف د سیستم په دننه کې اداري فساد ته د کېونوالو د ورته خنډ په سترګه کتل. د جوزجان د ولایت د موردیان د ولسوالی څخه یوه ځایي تن وویل:

*"ځیرک او فارغ شوی زده کونکی د جوزجان ولایت مرکز ته د ازموینې اخیستلو لپاره راځی ځو د هغوي په کلیو کې د ښوونکو په حیث استخدام شي ، خو هغوي په ازموینه کې پاتې راځی او په ځای یې تنبل هلکان په ازموینه کې بریالی کیږي او زموږ کلیو ته د ښوونکي په صفت راځی. تاسو فکر وکړی چې زموږ ماشومان به له دغو کسانو څه زده کړې؟ په رېښتیا سره د رشوت له امله دا تنبل ښوونکي په دندو ګمارل کیږي."*

د پوهنتون یوی ښځینه استادی د ګډونوالو نظریې په لاندې توګه خلاصه کړی:

*"د معارف په سیستم کې پیاوړی پانګونه ... به پاینښت لرونکی سوله را منځ ته کړي."*

## پراختیایي مرستې ته د مساوي لاسرسي برابرول

افغانانو یادونه کړې چې اکثرا زیاتره ټولنیزې شخړې د پراختیایي مرستو په اړه د نا مساوي لاسرسي څخه را ولاړیږي. نارینه ، ښځې او ځوانان باور لري چې وګړي د هغوي د نژادی ،سیاسي او حکومتي اړیکو ، جغرافیایي موقیعت یا د هغوي په اړوندو سیمو کې د شخړو د شتون د نه په پام کې نیولو سره د پراختیایي مرستو څخه په مساوي توګه برخمن شي. د نورستان د ولایت نورګارام له ولسوالي څخه یوه ځایي خبریال وویل:

*" په نورستان کې هیڅ پراختیایي پانګونه شتون نه لري. دا سیمه له کلونو راهیسې تجرید شوې. په بدل کې د حکومت مخالفینو نورستان ته ځانګړې پاملرنه کړې."*

که چیری دولت او نړیوال مرستندویان د پراختیایي مرستو د لا مساوي ویش څخه د ډاډ ححاصلولو په موخه مسولانه تدبیرونه خپل کړي ، کېدای شي خپل منځي ټولنیزې شخړې حل شي. د مباحثو ګډونوالو د هیواد په کچه د ارزیابی په کارولو ټینګار کړی څو د پراختیایي مرستو د موثریت د زیاتولو په موخه د پراختیایي پروژو څخه نظارت وکړی.

په ټولیز ډول ، افغانانو د هغوي په سیمو کې د پایداره پرمختګ د حاصلولو په موخه یو لړ رېښتیني وړاندیزونه وړاندې کړل. د یو شمیر ولایتونو د ځمکني خصوصیت له امله ، یو شمیر ګډونوالو باور درلود چې پراختیایي مرستې باید د اوبو د هایډرو انرژی د بندونو په جوړولو ولګولی شي. د هغوي په ګمان به دا کار د وچکالی په له منځه وړلو ، د کارونو د را منځ ته کولو په برخه کې او همدارنګه د هغوي په ولایتونو کې د انرژی د دوامداره تدارک د برابرولو په برخه کې د پام وړ مرسته وکړی.

د فاریاب ولایت د وکیلانو د انجمن یوه غړی وویل:

*"د تیرې لسیزې په ترڅ کې حکومت د زیربنایي پروژو په اړه کم کار ترسره کړي. د اوبو د بندونو د بشپړیدو پر ځای ، موږ د ګاونډیو هیوادونو څخه بریښنا واردوو. د کرنې د میکانیزه کولو پر ځای ، موږ له بهر څخه غنم واردوو. د مرکزي حکومت په ستراتیژۍ او پلانونو کې دغه ډول تشې په منفي ډول د عادي افغانانو ژوند اغیزمن کوي."*

له پنجشیر څخه د ټولنې یوه غړي د اوبو د بند د جوړولو په هکله د یوه وړاندېز یادونه کوي:

*"موږ ښې سرچینې او فرصتونه لرو خو حکومت باید زموږ هیر شوی ولایت ته توجه وکړي ، د بیلګې په توګه ، د پنجشیر د سیند په اوږدو کې د هایډرو انرژی د بند جوړول به د ولایت په کچه د بریښنا د برابرولو له لارې د خلکو په ژوند کې بدلون را منځ ته کړي."*

## ۴. د پایښت لرونکې سولې د تر لاسه کولو لپاره وسیلې

د سولې په هکله د افغانستان د خلکو خبری اتری د افغانستان د حکومت ، وسله والو مخالفینو ، نړیوالې ټولنې ، افغان مدني ټولنې ته په افغانستان کې د دایمي سولې لپاره د ضروري ګامونو په اړه ۳۳ سپارښتنې لري. د ۴۶۴۸ تنو افغان نارینه وو ، ښځو او ځوانانو (چې خبری اترو په دویم پړاو کې شامل وو) دسولې لپاره محلی طرحې تیاری کړې ، دي. تر دې دمه (۳۰)طرحې بشپړې شوې دي.

افغان نارینه وو ،ښځو او ځوانانو په ټول هیواد کې ملي او نړیوال پالیسي جوړوونکي په ټولو کچو کې د دې لپاره هڅولي ، چې په سملاسي او مناسب ډول د جګړو اصلي لاملونه محوه کړي او د دایمي سولې د ټینګښت لپاره پر لاندنیو لسو پېژندل شویو لومړیتوبونو زور واچوي:

### سولې لپاره د افغانانو د ۱۰ ټکو محلی طرحې

#### ۱) د ځواب ورکونکو دولتي ادارو ترویج

- د ځایي حکومتي ادارو (د پولیسو ،عدلی تعقیب په ریاستونو او د قضا) په دننه کې پراخ اداري فساد او د دغو ادارو د ښه نظارت په موخه پارلمان پیاوړی نظارت ته اړتیا لري.

- په فساد باندې د ککړو دولتي چارواکو د لرې کولو په موخه د خپلواکو او غیر سیاسي تدبیرونو په شمول د اصلاحي پروګرامونو پلی کولو ته اړتیا ، د ځایي حکومتي کارکونکو لپاره د روزنو او ظرفیت جوړولو د نوښتونو شدیدول ، په هغو ولایتونو کې چېرې چې دا ډول کارونه ایجاد شوی په هغو کې مشروع نوماندانو ته لومړیتوب او د ځایي حکومتي چارواکو د شفافو او د ورتیا پر اساس د ټاکل کیدو څخه داډ او د لا موثره اداري طرزالعملونو معرفي.

- د مکافاتو او مجازاتو په درلودلو سره باید د سرته رسونی پر بنسټ ولاړ سیستم معرفي شي. دا به د ښه کار ترسره کونکی چارواکی څرګند کړي او هغه کسان چې په فساد کې ښکیل دی ورتې.

#### ۲) د امنیتي ادارو پیاوړتیا

- د حکومت محدود لاسرسی د داسې لامل په حیث پیژندل شوی چې له امله یی حکومت نه په خپله خاوره کنترول او نه د دې توان لري چې شخړې په سوله ییزه توګه حل کړي. افغانانو په ټولیز ډول د افغان ملي امنیتي ځواکونو د اصلاحاتو او پیاوړتیا په هکله د پرمختګ تصدیق کړی او په افغان ملي پوځ یې د زیات باور راپور ورکړي. افغانانو د افغان ملي پولیسو ،افغان سیمه ییزو پولیسو او حکومت پلوه ملیشاوو لخوا د بشري حقونو د جدي سرغړونو په شمول د جنایي او ناوړه سلوک په هکله جدي اندېښنې څرګندې کړې دی.

- د دې په خاطر چې موثره ، ځواب ورکونکی او دیموکراتیک امنیتي ځواکونه را منځ ته شي ، د خلکو دیالوګ د امنیتي ادارو د وظایفو د را منځ ته کولو او غځولو وړاندیز کړی.

- افغانانو د دوامداره نړیوال ملاتړ په اړتیا تاکید کړی څو د ټولنې پر اساس ځواب ورکونکی او مسلکي افغان ملي امنیتي ځواکونه را منځ ته کړي. د افغان ملي امنیتي ځواکونو د روزنې او تجهیز په برخه کې د دوامداره ملاتړ او همکاري په هکله تاکید شوی څو د افغان امنیتي ځواکونو ظرفیت پیاوړی شي او وکولای شي د ۲۰۱۴ کال په پای کې د هیواد څخه د نړیوالو ځواکونو د وتلو وروسته په هیواد کې امنیت تامین کړي.

- د دې په خاطر چې په افغان امنیتي ځواکونو باور زیات شي ،خلکو د موثره نظارتی میکانیزم د جوړولو وړاندیز وکړ څو ځایي ټولنې وکولای شي د افغان ملي امنیتي ځواکونو لخوا د بشري حقونو د سرغړونو په هکله راپور ورکړي او ناقانونه عملونه وڅیړي او مرتکبینو ته سزا ورکړي.

## ۳) د ناقانونه وسله والو ډلو او نورو حکومت پلوه حکومتي ملیشاوو بې وسلې کول او د هغوي بې واکه کول

- په ځایي حکومتي ادارو باندې د قدرت د ځایي دلالانو او جګړه مارو د غیر مشروع نفوذ د پای ته رسولو په اهمیت ټینګار. خلکو څرګنده کړې چې دا عمل به د ولسوالی په کچه سوله او ټیکاو پیاوړی کړي. افغانانو د هیواد په کچه د نا قانونه وسله والو ډلو د بې وسلې کولو پروګرام چې د حکومت لخوا د ۲۰۰۵ کال په جنوری کې پیل او د ۲۰۱۱ کال په مارچ کې پای ته ورسید د بیا معرفي کولو غوښتنه کړې.

- افغانانو ټینګار کړی چې د تریاکو کښت ، د مخدره توکو قاچاق او د مخدره توکو د قاچاق چپانو لخوا ناقانونه شکونی په یو شمیر زیاتو سیمو کې شخړې جاری ساتلی او تشدید کړې. خلکو ویلی چې د تریاکو کښت ،پروسس او د مخدره توکو د قاچاق څخه ترلاسه شویو عایداتو او همدارنګه د مخدره توکو اعتیاد په مستقیمه توګه افغان شورشي ډلو او ځایي ملیشاوو ته ګټه رسولې. خلکو په دغو ډلو تور لګولی چې په مستقمه توګه په لرې پرتو سیمو کې چېرې چې ناقانونه اقتصاد وده کړې ناامنی را منځ ته کړې.

- افغانانو د حکومت څخه غوښتنه کړې څو د مخدره توکو د ناقانونه سوداګری او د دې سوداګری څخه د ترلاسه شویو عایداتو له منځه وړلو ته لومړیتوب ورکړي او په هغو سیمو کې افغان ملي امنیتي ځواکونه ځای پر ځای کړي چېرې چې د مخدره توکو سوداګری وده کړې څو د یاغیانو د فعالیتونو مخه ونیسی او ناقانونه وسله والی ډلی له واکه لرې کړي.

## ۴) د بشري حقونو او د قانون د حاکمیت وده او د معافیت له منځه وړل

- افغانانو په کلکه دفاع کړې چې افغان حکومت او نړیواله ټولنه باید داسې عملي ګامونه پورته کړي تر څو د یاغیتوب په وړاندی د پوځي عملیاتو پر مهال د ملکی کسانو د امنیت او خوندیتوب څخه ډاډ حاصل شي او همدارنګه په دی زمینه کې د هغوي د اساسی بشري حقونو ساتنه وکړي. افغانانو د قانون د پیاوړی حاکمیت ،شفافیت ، حسابورکونی او موثره حکومتي ادارو د درلودلو او په هیواد کې د معافیت د میراث د پای ته رسولو لپاره خپل نظریې بیانی کړي.

- د افغانانو لوی اکثریت چې د خلکو د دیالوګ په مباحثو کې ښکیل وه ، وړاندیز کړی چې د قانون د انفاذ او قضایي سیستم اصلاحات باید د پایښت لرونکی سولې د تامین په موخه د هر ډول هڅو په مرکز کې واقع شي. د عدلی ادارو د خپلواکی څخه د ډاډ حاصلولو په موخه د مناسب نظارت تر څنګ ،هغوي د عدالت د کلیدی سکتور د کارکونکو ،د جامع قوانینو د جوړولو او جاری کولو او د موسساتی او طرزالعملي بدلونونو چې موخه یې د عدلی سکتور د ادارو په دننه کې د اداري فساد او صلاحیت څخه د ناوړه کارونی په وړاندی مبارزه ده ، د بررسی وړاندیز کړی.

### ۵) د سولې جوړونې په فعالیتونو کې د ښځو د حقونو ونډه او د هغوی نقش

- د هیواد په کچه خلکو د حکومت او نړیوالې ټولنې څخه د چټکو عملونو غوښتنه کړې څو داسې تدبیرونه خپل کړي چې د ښځو د بشري حقونو په هکله د ضرر لرونکو دودیزو فعالیتونو منفي اغیزې ختمې کړي او ښځو ته اجازه ورکړي چې د سولې ساتنې په ټولو نوښتونو کې برخه واخلي.

- افغانانو په حکومت غږ کړی څو د ښځو او نجونو په وړاندې د ضررلرونکو فعالیتونو په هکله په ټولو ټولنو کې د پوهاوی د لوړولو په موخه په فعالانه ډول کار وکړي او د ښځو په وړاندې د خشونت د له منځه وړلو د ۲۰۰۹ کال د قانون د بشپړ پلی کولو په موخه کار وکړي. زیاترو افغانانو توافق کړی "موږ به اجازه ور نه کړو چې( د سولې د تامین هر ډول هڅې د یوی برخی په حیث) د ښځو حقونه او یا بشري حقونه قرباني شي."

### ۶) د کاری فرصتونو د ایجاد او د معارف د سیستم د پیاوړی کولو له لارې د ځوانانو ورتیا

- افغانانو د زیاتی اندېښنې په درلودلو سره یادونه کړې چې طالبان او نورې وسله والې ډلې په اسانی سره کولای شي هغه ځوانان چې وزګار دی او ښه کارونه نه لري په دندو وګماری. خلکو د مسلکي مهارتونو د روزنو د مرکزونو د جوړولو او همدارنګه د کارونو د را منځ ته کولو د پروسې ، په تعمیراتی او پراختیایي پروژو کې د لا زیاتې پانګونې په شمول په اړتیا ټینګار کړی.

- نارینه وو ،ښځو او ځوانانو همدارنګه د حکومت څخه غوښتې څو د ځوانانو لپاره د معارف لا فعاله او موثره سیستم چې په هغه کې مناسبه زیربنا او کیفیت لرونکې مشقونه شامل وی ، را منځ ته کړي. افغانانو ټینګار کړی چې ښه تعلیمي زیربنا به د اضافی زده کونکو د ځای په ځای کولو د مسلې سره مرسته وکړي.

- افغانانو د حکومت څخه غوښتې څو په هغو ولسوالیو کې چېرې چې د وسله والو ډلو شتون د نجونو د زده کړې حقونه تر پښو لاندې کوي داسې هڅې طرحې ته واچوی ، څو ښوونځې بیا پرانیزی.

- د معارف د ښه کیفیت څخه د ډاډ حاصلولو په خاطر د ښوونکو د ظرفیت د لوړولو ، د عصري نصاب را منځ ته کولو او د ساینس او تکنولوژی په شمول ، په خاص دول د زده کونکو د ظرفیت د لوړولو په موخه ، لازمو هڅو ته اړتیا لیدل کیږي.

### ۷) د مساوي ټولنیزې او اقتصادی پراختیا تحقق

- افغانانو د اقتصاد او ټولنیزې پراختیا په ډګرونو کې ، د معارف د سیستم د پیاوړتیا په موخه د ریښتینو هڅو ،د کاری فرصتنو د را منځ ته کولو او پراختیا ته د مساوي لاسرسی څخه د ډاد حاصلولو په شمول لکه څنګه چې د پایښت لرونکې سولې لپاره ضروری دی د پام وړ پرمختګ مشاهده کړی. زیاترو ښځو ، نارینه وو او ځوانانو تاکید کړی چې د ځینو ښکاره پرمختګونو سربیره ، د میلیاردونو ډالرو د لګښت په پرتله په هیواد کې د تیرو ۱۲ کلونو په ترڅ کې لاسته راوړنې مساوي نه وی. پرمختګ نه باید یواځې د خدمتونو د مقدار ، د بیلګې په توګه د جوړو شویو ښونځیو او روغتونو د شمیر بلکله د دې مهمو خدمتونو د کیفیت له مخی اندازه شي.

- افغانانو تاکيد کړی چې د کاری فرصتونو را منځ ته کول په خاص ډول د ځوانانو لپاره ضروری دی.
- افغانانو يادونه کړې چې د مساوي او پايداره پراختيا دوامداره نه شتون په اغيزمنو ځوانانو او نسيتمنو بڼګرو جدي اغيزې پر ځای پری ايښی دی. د ټولنې دا دوه قشرونه د لوړی بيکاری ، د فرصتونو د نه شتون ، بې سوادی ، د مخدره توکو په وړاندی حساسيت او په ځينو ستراتيژيکو ولايتونو کې د مخدره توکو سوداګری اغيزمنه کړي. هغوي د حکومت څخه غوښتې څو په فعالانه توګه د کاری فرصتونو په را منځ ته کولو زيات تمرکز وکړي او د ځوانانو لپاره يې د معارف دننه کې په پراختيايي پانګونه او د دې ستونزی په هواری ټينګار کړی.
- هغوي څرګنده کړې چې د کرنی په سکټور کې ، د بيلګی په توګه د ځمکی ورکول او د اوبو لګونی مناسب سيستم به کليوالی اقتصاد ښه کړي. د دې علاوه ، خلکو واضح کړې چې دا به غوره به وی که چېرې خصوصی او دولتي تصدی ګانی ، د بيلګی په توګه د رخت جوړولو ،غالی جوړولو ،مميز پاکولو ،تيلو جوړولو او لبنياتو جوړولو کارخانی کاری فرصتونه را منځ ته کړي او د حکومت مناسب ملاتړ ترلاسه کړي.
- افغانانو يادونه کړې چې اکثرا زياتره ټولنيزي شخړې د پراختيايي مرستو په اړه د نا مساوي لاسرسی څخه را ولاړيږی. نارينه ، ښځی او ځوانان باور لري چې ټول افغان وګړی  د دې حق لري چې په مساو ی ډول د پراختيايي مرستو څخه برخمن شی پرته له دی چې د هغوي قوميت ،سياسي روابط ،د حکومت سره  اړيکی ، جغرافيايي موقعيت يا د هغوي په اړوندو سيمو کې د شخړو موجوديت په پام کی ونيول شی. د مباحثو ګډونوالو د هيواد په کچه د ارزيابی په کارولو ټينګار کړی څو د پراختيايي مرستو د موثريت د زياتولو په موخه د پراختيايي پروژو څخه نظارت وکړي.
- په ټوليز ډول ، افغانانو د هغوي په سيمو کې د پايداره پرمختګ د حاصلولو په موخه يو لړ ريښتيني وړانديزونه وړاندی کړل. د يو شمير ولايتونو د کرنيز خصوصيت له امله ، يو شمير ګډونوالو باور درلود چې پراختيايي مرستې بايد د اوبو د هايډرو انرژی د بندونو په جوړولو ولګولی شي. د هغوي په ګمان به دا کار د وچکالی په له منځه وړلو ، د کارونو د را منځ ته کولو په برخه کې او همدارنګه د هغوي په ولايتونو کې د انرژی د دوامداره تدارک د برابرولو په برخه کې د پام وړ مرسته وکړي.

## ۸) د سولې په پروسه کې له شموليت څخه ډاډ

- د خبرو اترو د پروسې په اوږدو کې ، عادي افغانانو په پراخه کچه ټينګار کړی چې د سولې او پخلاينی په پروسو کې د پراخ ګډون څخه ډاډ حاصلول ، د نارينه وو ،ښځو ، ځوانانو او لرکيو د ډلو لخوا د ګډون په شمول- د پروسو د بريالیتوب لپاره ضروری دی. خلکو باور درلود چې د مدني ټولنې ، ښځو او په عنعنوي لحاظ د ټولنې د تجريد شويو عناصرو پراخ ګډون به د شموليت او د پروسې د ځايي مالکيت څخه په ښه توګه ډاډ حاصل کړي.
- يو شمير افغانانو انديښنه څرګنده کړې چې دوی په ځايي حکومتداری ک يبرخه اخيستلو ته نه هڅول کيږی  او فکر کوي د سولې هڅی بې اثره کيږي. کيدای شي د ځوانانو د محرک کونکو پروګرامونو يا د استخدام د پاليسی ګانو د معرفي کولو له طرحې چې موخه يې ځوانان وی ،د دوی ډير شمير په ځان را مات کړي.

## ۹) د ټولنې پر اساس د شخړو د حل لارو د ميکانيزمونو پياوړی کول

- ګډونوالو همدارنګه یادونه کړې چې د خلکو د رهبري له طرحې افغانان د جرګو او شوراګانو په واسطه د شخړو او ځایي منازعاتو د حل یو قوی کلتور لري. دوی په عمومي توګه باور لري چې د شخړو د حل د داسې ځایي میکانیزمونو پیاوړی کول ښایي چې په یو ډول د خلکو ،د ښځو او نژادی لړکیو په شمول ګټو ته کار وکړي ، دا به سیاسي او ټولنیزه فضا ایجاد کړي چې د هغی په دننه کی عادي وګړی د یو بل او په جګړو ک ید ښکیلو خواوو سره د سولی په یوه دیالوګ کی شاملی شی.
- یو شمیر افغانانو خبرداری ورکړي چې جرګې او شورا ګانی نه باید د بشري حقونو د جدي سرغړونو د فیصله کولو په موخه د فورمونو په حیث کار وکړي.

### ۱۰) د سولې د ویجاړونکو خنثی کول

- د دې په خاطر چې د سولې د ویجاړونکو منفي اغیزو ته ځواب وویل شي ، افغانان د پوځ د پخوانیو جنګیالیو او همدارنګه د سولې د پخلاینی د پروسې د مشرانو لپاره د عینی خصوصیاتو پربنسټ په کلکه د بررسی طرفداری کوي. افغانان د هیواد په کچه باور لري ، هغه کسان چې د سولې په پروسه کې ښکیل دی باید صادق او د نفوذ درلودونکی کسان و اوسی او همدارنګه په خپلو ټولنو کې د درناوی وړ او په دیوکراتیکه توګه انتخاب/انتصاب شوی وی. د دې علاوه ، خلکو په کلکه وړاندیز کړی ، هغه کسان چې د جنګی جرمونو او د بشریت ضد جرمونو په ارتکاب تورن وی باید د سولې د پروسې څخه و ایستل شي.
- هغه افغانان چې په سرحدي ولایتونو کې ژوند کوي د افغانستان له حکومت څخه غوښتنه وکړه څو د هیواد د خوندیتوب لپاره نورې هڅې ترسره کړي او هیواد ته د وسله والو ډلو د ننوتو مخه ونیسی. افغانانو د ګاونډیو هیوادونو د حکومتونو څخه وغوښتل څو د پوځي ډلو د مادی ملاتړ (وسلو او پټنځایونو) د برابرولو څخه لاس واخلي.

## ۵. پایلې او د خلکو وړاندیزونه

د سولې په هکله د خلکو مباحثو (د لومړی او دوهم پړاو پر مهال) د مدني ټولنې شریکبانی د دې وړ وګرزول چې د ۶۰۰۰ څخه زیات عادي افغانان ، نارینه ،ښځې او ځوانان د سولې په هکله په یوه ملی خبره اتره کې ښکېل کړي. د خلکو د مباحثو لومړی پړاو د مسایلو په هکله د عادي افغانانو د نظریو د تقاضا له لارې کوم چې د سولې او پخلاینې ،قانون د حاکمیت او بشري حقونو او انکشاف په شمول چې موخه یې د سولې د یوی شاملونکی پروسې لپاره د یوه بنسټ جوړول دي د هغوي په ژوند هم ستر اغیزې لري. افغانانو ته د دې توان ورکول څو د خپلو اړوندو ولایتونو لپاره د سولې محلی طرحې جوړی کړي ، دا د دغو بنسټونو د جوړولو په هکله د خلکو د مباحثو د دوهم پړاو تمرکز وه.

د سولې په هکله د خلکو د خبرو اترو دوهم پړاو د ۴۶۴۸ عادي نارینه وو ، ښځو او ځوانانو لپاره یو فورم برابر کړ څو په هیواد کې د پایښت لرونکی سولې لپاره د لرلید په هکله د هغوي په نظریو خبری وکړی. ګډونوال هڅول شوی وو څو د ولسوالیو او ولایتونو په کچه د ځایي شخړې د ابتدایی لامل په حیث هغه څه چې دوی مشاهده کړې شرح کړي. د شخړې اصلي لامل چې د ګډونوالو لخوا روښانه شوی ، هغه د پراخ اداري فساد او د حکومتي چارواکو او یا د حکومتي ادارو په دننه کې ، د پولیسو ،

څارنوالانو ، قضايه قوی ، او پارلمان په شمول د حساب ورکونې نشتون دی. نږدې ټولو ګډونوالو په هيواد کې د معافيت د ميراث د پای ته رسيدو او همدارنګه د خلکو او هغوي د حکومت تر منځ د باور د مخ پر زياتيدونکی تشی د له منځه وړلو غوښتنه وکړه.

يو شمير زياتو ګډونوالو همدارنګه د هيواد په کچه د امنيتي وضعی د خرابيدو په هکله اندېښنې څرګندې کړې. هغوي د پوځي ډلو د زياتوالی سره د مبارزی په برخه کې د افغان ملی امنيتي ځواکونو نه موثريت او همدارنګه د نړيوالو پوځي ځواکونو د وخت څخه وړاندې وتلو ته منسوب کړي. نارينه وو ،ښځو ، او ځوانانو په ورته ډول د افغان ملی امنيتي ځواکونو د ښه ظرفيت او په لري پرتو سيمو کې د افغان ملی امنيتي ځواکونو د اضافی ځای په ځای کولو په اړتيا ټينکار وکړ ، خو د افغان ملی امنيتي ځواکونو د عملونو په هکله يې د پياوړی نظارت غوښتنه وکړه ، د هغوي په اند افغان ملی امنيتي ځواکونه د عادي افغانانو په وړاندې د بشري حقونو د جدي سرغړونو لامل شويدی. امنيتي اندېښنې هم د حکومت او حکومت پلوه ځواکونو په وړاندې د مخ پر زياتيدونکی عامه خپګان سره مرسته کړې.

ګډونوالو د شخړې د دريم لامل په حيث د سرچينو غير عادلانه ويش او د انکشافی مرستو نا مساوي تسليم دهی مشاهده کړې کوم چې دوی فکر کوي د تنظيمی دښمنيو د شتون او د ټولنېزو شخړو نه وړاندې له منځه تللی ده. نارينه وو ،ښځو او ځوانانو د بهرنيو مرستو د ويش او لګښت په هکله ، د موثره نظارتی ميکانيزمونو په شمول په کومو کې چې عادي خلک د پرمختيايي پلانونو په ټولو برخو کې ښکېل وی ، د لا زياتې حساب ورکونی او روښوالی غوښتنه وکړه.

افغانانو همدارنګه د کوکنارو کښت او د ترياکو د ناقانونه اقتصاد پر سر د کنترول لپاره مبارزه د شخړې د يوی جدي موضوع په حيث مشاهده کړې ، د بې کاري لوړ ميزان ، د فرصتونو نه شتون ، بې سوادی ، په مخدره توکو د ځوانانو روږديدو ، او په اغيز لرونکو ځوانانو باندې د پوځي ډلو نفوذ او په ځينو ستراتيژيکو ولايتونو کې د مخدره توکو د سوداګری د برياليتوب په اړه نيستمنو بزګرانو ته د مرسته کونکو فاکټورونو په حيث کتل شوی. هغوي د حکومت څخه غوښتنه کړې څو د کارونو د رامنځ ته کولو په برخه کې په موثر ډول تمرکز وکړی. د دې ستونزی د هوارولو په موخه يې د ځوانانو لپاره د ښوونې او روزنې په موسساتو کې د پانګونی پر اړتيا ټينګار وکړ.

د دې لپاره چې د عادي افغانانو غږونه اوچت واوريدل شي ،مدني ټولنه چې د خلکو د استازې په حيث عمل کوي د دې راپور خلاصه چمتو کړې. دا راپور په ځايي ، ملی او نړيواله کچه په ټولو پاليسي جوړونکو غږ کوي څو داډ حاصل کړي چې د سولې جوړونې په ټولو نوښتونو کې نه يواځې نارينه ، ښځې او ځوانان ښکېل کړي ، بلکه بنسټ يې په هغه محلی طرحې چې افغانانو په خپله د خپلو ولايتونو لپاره چمتو کړي ، ولاړ وی. دا به نه يواځې د سولې د پروسې مشروعيت تضمين کړي ، بلکه د پايښت لرونکی سولې د تامين چې بنسټ يې د افغانان په اراده ولاړ وی ، لار هواره کړې.

د خلکو د مباحثو دوهم پړاو د مدني ټولنې په يو شمير اقدامونو ولاړ دی ، موخه يې افغانانو ته لاسرسی او د سولې او د افغاني ټولنې د راتلونکی مسير لپاره د لرليدونو په هکله د هغوي د نظريو شريکول دي. د خلکو د مباحثو د دوهم پړاو په ترڅ کې چې کومې ۳۰ محلی طرحې وړاندې شوی په هغو کې هغه هدفي وړانديزونه چې د افغانانو لخوا حکومت ، نړيوالې ټولنې ، وسله والو مخالفينو او مدني ټولنې ته وړاندې شوی ، شامل دي.

دسولې لپاره د محلی لارو پر بنسټ ، دا لاندې وړانديزونه د عادي افغانانو ، نارينه وو ،ښځو او ځوانانو لخوا چې په لاندې ډول دي ،وړاندې شوی:

# د خلکو وړاندېزونه

### د افغانستان اسلامي جمهوري دولت ته:

- **د یوې ټولیزې ،دیموکراتیکې او ښې اړخې سولې د پروسې ترویج ،** د عادي افغانانو د ښکېلتیا له لارې ، د ښځو ،ځوانانو ،د نژادي لیږکیو د غړو او مدني ټولنې په شمول څوک چې ښایي په موثره توګه ټولو ټولنو ته ځان ورسوی او ډاډ حاصل کړي چې ټول افغانان د پایښت لرونکې سولې او امنیت د تامین په پلانونو کې ځای شي.
- **د سولې لپاره** محلی طرحې **جوړول او پلی کول ،** د هغوي په ولایتونو کې د قانون د حاکمیت ،د بشري حقونو د تحقق ، د ټولنیزې اقتصادي پراختیا د تامین ، امنیت او پایښت لرونکې سولې د تامین په خاطر د خلکو دتصورونو سره په سمون کې د عادي افغانانو ، نارینه وو ،ښځو او ځوانانو لخوا تیار شوی.
- **د حکومت او خلکو تر منځ د مخ پر زیاتیدونکې تشې د له منځه وړلو په موخه د مدني ټولنې د هڅو ملاتړ ،** د مدني ټولنې د پروګرامونو ملاتړ چې موخه یې د سولې او امنیت د مسایلو په هکله د پوهاوی د کچې لوړول دي.
- د بشر پالنې د نړیوال قانون لپاره د درناوی پر بنسټ د نا امنې د ځواب ویلو په موخه ، په خاص ډول د پوځې شخړو پر مهال د ملکي کسانو د ساتنې په اړه تینګار ، د نفوذ لرونکو علماوو( مذهبي علما) او قومی مشرانو له طریقه **د طالبانو او نورو وسله والو ډلو سره د ګټورو خبرو اترو ترویج.**
- د ځایي ټولنو لپاره د پوهاوی د لوړولو په جامع کمپاینونو کې د لوړوالی له طریقه چې موخه یې د بشري حقونو د سرغړونو ، په خاص ډول د ښځو او نجونو په وړاندې ترسره شوی وی له منځه وړل دي ، د افغاني ارزښتونو ، نړیوالو حقوقی معیارونو او همدارنګه د اسلام د اساسي اصولو د مطابقت په حیث **د قانون د حاکمیت درناوی او د بشري حقونو د ساتنې څخه ډاډ او وده.**
- **د انتقالی عدالت په هکله د ریښتینی روش پلی کول ،** په دې کې په هیواد کې د جرمونو د ارتکاب کونکو لپاره عدلی تعقیب ، د عامه چارواکو او د اداره کونکو د استخدام لپاره د بررسی میکانیزمونه او همدارنګه د هغو کسانو لپاره چې د سولې د پروسې او پخلاینې د پلی کولو دنده لري د ټولنې پر بنسټ د نیستی د له منځه وړلو او د اقتصادي فرصتونو له لارې د ژوندانه د شرایطو ښه کول شامل دي.
- د بیا کتنې ، اصلاحاتو ، تقویت یا د اداري فساد په وړاندې د اضافی او غیر موثره ارګانونو د انحلال له لارې **په موثره توګه د فساد له منځه وړل.** د فساد په وړاندې د عام شموله او موثره کاري څواک جوړول او په ترکیب کې یې باید وړ او لایق څیړونکې ضروری نظارتی واک لرونکی کسان ولري. د وړتیا پر بنسټ د حکومتي چارواکو د استخدام څخه ډاډ ، د تبعیض د ټولو بڼو له منځه وړل که چیری د هغو بنسټ په قومی تړاو ،نژاد ،جغرافیایی اصل ، جنډر ، ژبی ، یا هر بل ډول اجباري اساس ولاړ وی ، او د باور وړ لایقو او مسلکی افغانانو په استخدام ټینګار.
- **د یو لړ موثره روزنېزو پروګرامونو ترسره کول** چې موخه یې د حکومتي چارواکو ، پولیسو ، څارنوالانو ، قضایه قوی او پارلمان د غړو او نورو د ظرفیت ښه کو ل دي تر څو د مسلکی توب ، سپیڅلولی ، حساب ورکونی او د حکومت په ټولو کچو کې د خدمتونو د رسولو کچه لوړه کړي. د پیاوړو هڅو ترویج څو وکولای شي د پراختیا سره د تړلی

فساد کوم چې د سرچینو غیر مساوي ویش او د پراختیایي مرستو نا مساوي تسلیمدهی ته لار هواره وی او ټولنیزې شخړې تشدیدوی مخه ونیسی.

- په ساختمان، صنعت، کرنه، عامه خدمتونو او نورو سکټورونو کې په زیربنا او مهمو اقتصادي پروژو کې د **متساوي او د ضرورتونو پر بنسټ ولاړې پراختیا ترویج**، او د کلیوالی او لرې پرتو سیمو په هکله د خاص تمرکز له لارې په هغو ټولنو کې چې شدیدې پراختیایي اړتیاوې لري د نور ځند پرته د ځنډول شویو پراختیایي پروژو پلې کول. عامه مطلوبیت او ټولنیزو خدمتونو ته، د بیلګې په توګه، روغتیا، پوهنې اوبو او روغتیا پالنې ته د هیواد په کچه د مساوي لاس رسی لومړیتوب.
- **د ظرفیت پیاوړی کول او د افغان ملی امنیتي ځواکونو د شتون پراخول**، د دې په خاطر چې دا ځواکونه د ټولنو اړتیاوو ته ځواب ورکونکی او حساب ور وی. د افغان ملی امنیتي ځواکونو، ملی او سیمه ییزو پولیسو ښوونه او روزنه ځو وکولای په دې توګه هغوي د بشري حقونو د سرغړونو د ترسره کولو څخه را وګرزوی او د افغان ملی امنیتي ځواکونو هغه غړی چې د بشري حقونو جدي سرغړونې ترسره کوي باید د عادلانه او موثرو څیړونو او عدلی تعقیب له لارې مسوول و ګڼی. د ملکي کسانو د تلفاتو د مخنیوی او کمولو په خاطر د افغان ملی امنیتي ځواکونو ښوونه او روزنه، او همدارنګه ډاډ حاصل شي چې ټول پوځي عملیات د نړیوال بشر دوستانه قانون سره په سمون کې ترسره کیږي.
- **د ملی امنیت لپاره په ملیشاوو او وسله والو ډلو نه اتکا،** په شدید ډول د نا قانونه پوځي ډلو د بې وسلی کولو د پروګرام دوام، د ښو تعریف شویو تدبیرونو اتخاذ څو په دې توګه ډاډ حاصل شي چې هیڅ ډول ملیشاوې، که هغه حکومت پلوه او یا د حکومت ضد وی، وسله ونه لري. عدالت ته د ټولو هغو ملیشاوو سپارل چې د بشري حقونو په سرغړونو کې ښکېلی وی.
- **د کوکنارو د کښت، قاچاق او خرڅلاو له منځه وړل**، د پلی کولو لپاره د یوه زماني چوکاټ په درلودلو سره ،د هیواد په کچه د مخدره توکو پر ضد د یوه ملی پلان جوول. د حاصلاتو د بدیلو صنعتونو ملاتړ او د مخدره توکو په ناقانونه اقتصاد کې د ښکېلو بزګرانو او ځوانانو لپاره د کاري فرصتونو را منځ ته کول.
- **د ښځو د حقونو د ساتنې او ترویج لپاره د هڅو زیاتوالی،** په عامه ژوند کې، د ژوند د ټولو ډګرونو په شمول چې موخه یې د سولې جوړونې فعالیتونه وی ،د ښځو د ګډون ترویج، د ضرر لرونکو فعالیتونو د منفي اغیزو په هکله د ټولو علماوو(مذهبي پوهانو) او د نورو نظریو جوړونکو روزنه، او همدارنګه ډاډ حاصل شي چې هغوي د هغو ارزښتونو په حیث چې د اسلام د مقدس دین د ترویج شویو حقونو او دندو سره په سمون کې وی د ښځو حقونه پیژنی او د هغوي حقونو ته درناوی کوي.
- **د ښځو په وړاندې د خشونت د له منځه وړلو د ۲۰۰۹ کال د قانون په هکله د پولیسو ،څارنوالانو او د قضایه قوی د غړو روزل**، عدالت ته د ښځو په وړاندې د خشونت د مرتکبینو د سپارلو په هدف باید زیاتې ریښتینی او مثبتی هڅی په کار واچولی شي.

### نړیوالې ټولنې ته:

- د دې په خاطر چې د حکومت، نړیوالې ټولنې او خلکو تر منځ مخ پر زیاتیدونکی واټن له منځه یووړل شي، **د پورته یادو شویو وړاندېزونو د پلی کولو په موخه د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت ملاتړ.**

- **د هغو نوښتونو ملاتړ چې موخه يې د نارينه وو ، ښځو او ځوانانو د ډلو د اوريدلو څخه ډاډ حاصول دي** د پريکړې نيولو په ټولو پروسو کې منعکس شي. د هغو پروګرامونو ملاتړ چې موخه يې د عادي افغانانو ، د چا ګټې او اړتياوې چې د سولې په اړه د هر ډول ملی محلی طرحې بنسټ جوړوی د هغوي د نظريو او مفکورو سره مرسته کول دي. د پريکړې نيولو په ټولو ارګانونو کې د ښځو د پراخ ګډون ملاتړ چې موخه يې په هيواد کې د پايښت لرونکی سولې ملاتړ او وده ده.
- **د يوه روښانه ليد/** محلی طرحې **د جوړولو په برخه کې د افغانستان د دولت ملاتړ ،** د دې په خاطر چې په هيواد کې سوله او پخلاينه تامين شي ، او په افغانستان کې د نړيوالې ټولنې ټول غړی وفادار پاتی شي ، د سيالی وړ مصلحتونو يا اجنډاګانو له منځه وړل.
- **د حکومت ، نړيوالې ټولنې او خلکو تر منځ د واټن له منځه وړلو په خاطر د مدني ټولنې ملاتړ** ، د مدني ټولنې د پروګرامونو له لارې چې موخه يې د سولې او امنيت په تړاو ، د بشري حقونو ، ښځو د حقونو او د نژادی لږکيو د حقونو په شمول د پوهاوی د کچې لوړول دي.
- **د ملکي کسانو د ساتنې ملاتړ** او د بشري حقونو او د بشر پالنی د قانون سره په سمون کې د ساتنې څخه د ډاډ حاصلولو په برخه کې د حکومت د هڅو ملاتړ ، او همدارنګه په هر ډول راتلونکو او د ظرفيت جوړولو په پروګرامونو کې د افغان ملی امنيتي ځواکونو ملاتړ. ډاډ حاصل شي چې ټول نړيوال عمليات افغاني کلتوری ارزښتونه او حساسيتونه درک کړي.
- **د مساوي او اړتيا پربنسټ د پراختيا وده.** ډاډ حاصل شي چې مرستې په نظر کې نيول شويو ګټه اخيستونکو او وجهی پروګرامونو ته چې په کليوالی او لري پرتو سيمو تمرکز کوي ورسيږی ، ډاډ حاصل شي چې مرستې له وړاندې څخه پلان شوی پايلې و نه لري ، د بيلګې په توګه د شخړو تحريکول يا نژادی جلاوالی ،د کميت نه بلکه د خدمتونو د تدارکاتو د کيفيت پر اساس د مرستو د موثريت اندازه ، د ټولنې پر بنسټ د پراختيا په هکله تمرکز ، د خلکو د اړتياوو په هکله تمرکز ، د اهدا شويو مرستو د ناوړه کارونې په هکله د مناسبو ميکانيزمونو له لارې د ډاډ حاصلول ، او هغه ټول کسان چې د دغو مرستو څخه ناوړه ګټه پورته کوي بايد د سزا سره مخ شي او د خپلو دندو څخه ګوښه شي.
- **د بشري حقونو د لاسته راوړنو په برخه کې د نه په شا ته تګ په اړه د ډاډ حاصلو څخه د حکومت ملاتړ.** د سولې د ټولو نوښتونو نظارت څو ډاډ حاصل شي چې د بشري حقونو په برخه کې ترلاسه شوی لاسته راوړنی ، د ښځو د حقونو په شمول تقويت شي او دا چې بشري حقونه د هر ډول نوښتونو چې موخه يې په هيواد کې د پايښت لرونکی سولې تامين دي ، قربانی نه شي.
- **د حقونو پر بنسټ د سولې د پروسې څخه ملاتړ** څو دا يقيني کړي چې هغه ټول کسان چې د سولې جوړونې په فعاليتونو کې ښکېل دي د ټولو ټولنو ،ښځو ريښتينی ، بې طرفه او خپلواک استازي دي او د بشري حقونو په جدي سرغړونو کې ښکېل نه دي. د نړيوالو معيارونو سره په سمون کې ، ډاډ حاصل شي د جګړې د جرمونو ، د بشريت په وړاندې د جرمونو او يا د بشري حقونو د جدي سرغړونو مرتکبينو ته د عمومي بخښنې وړاندېز و نه شي.

### وسله والو مخالفینو ته:

- د حکومت او طالبانو تر منځ د پایښت لرونکې سولې د تامین په موخه **د افغانستان د حکومت سره د مستقیمو خبرو پیل**
- د بشر پالنې نړیوال قانون ته د درناوی ، د ملکي کسانو ،د استوګنې او عبادت ځایونو ، ښوونځیو او روغتونونو د هدف نیولو د سمدستي پای ته رسولو او د وسله والو نښتو د بې توپیره میتودونو او وسیلو د کارولو له لارې ، او د تبعیه شویو چاودیدونکو الو په شمول **د ملکي کسانو د ساتنې څخه داډ.**
- **د ټولو افغانانو د بشري حقونو درناوی** ، په تېره بیا د نجونو او هلکانو په مساویانه ډول دښوونې او روزنې عمومي حق ، او همدارنګه د ښځو او نجونو د حقونهږ
- د ټولو نژادی ، مذهبي ډلو ، نارینه وو ، ښځو او ځوانانو په شمول ، **د هیواد د ټولو وګړو اندیښنو ،شکایتونو او هیلو ته رسیدګی.**
- **د ناقانونه مخدره توکو په اقتصاد کې د مستقیم ګډون په اړه د هر ډول ملاتړ سمدستی پای ته رسول.**

### مدني ټولنې ته:

- **د حکومت او خلکو تر منځ د پله په حیث عمل کول**- د داسې پروګرامونو جوړل چې موخه یې د سولې او امنیت د مسایلو په هکله ، د بشري حقونو(د ښځو د حقونو او نژادی لږکیو د حقونو) په شمول د پوهاوی لوړول دي. د داسې پروګرامونه پیل چې موخه یې د عادي افغانانو د نظریو او مفکورو جلبول وی او داسې نوښتونو ملاتړ چې موخه یې د ځایي ظرفیتونو جوړول وی.
- **د عادي افغانانو د غږ تقویت ،** د دې څخه داډ چې د نارینه وو ،ښځو او ځوانانو نظریې په دوامداره توګه انتقال شي او په نوښتونو او فورمونو کې چې موخه یې په هیواد کې پایښت لرونکې سولې ته لاسرسی دی منعکسی شي ،د سولې لپاره محلی طرحې چې د خلکو لخوا تیاره شوی د هیواد د راتلونکی تصور لپاره لومړنی پړاو په حیث خدمت وکړی.
- **د ملکي کسانو د ساتنې دفاع کول ،** داډ حاصل شي چې د شخړې ټولې خواوی د بشر پالنې د نړیوال قانون څخه پیروی وکړی.
- **د بشري حقونو د لاسته راوړنو په برخه کې د نه په شا ته تګ په اړه د داډ حاصلولو څخه د حکومت ملاتړ.** د سولې د ټولو نوښتونو نظارت څو داډ حاصل شي چې د بشري حقونو په برخه کې ترلاسه شوی لاسته راوړنې ، د ښځو د حقونو په شمول تقویت شي او دا چې بشري حقونه د هر ډول نوښتونو چې موخه یې په هیواد کې د پایښت لرونکی سولې تامین دی ، قرباني نه شي.
- **د حقونو پر بنسټ د سولې د پروسې څخه ملاتړ** څو دا یقیني کړي چې هغه ټول کسان چې د سولې جوړونې په فعالیتونو کې ښکېل دي د ټولو ټولنو ،ښځو ریښتینی ، بې طرفه او خپلواک استازي دي او د بشري حقونو په جدي سرغړونو کې ښکېل نه دي. د نړیوالو معیارونو سره په سمون کې ، داډ حاصل شي د جګړې د جرمونو ، د بشریت په وړاندې د جرمونو او یا د بشري حقونو د جدي سرغړونو مرتکیبینو ته د عمومي بخښنې وړاندېز و نه شي.

- **د سولې جوړونې د سیمه ییزو نوښتونو ملاتړ-** په سیمه ییزه کچه د مدني ټولنې سره د لا زیاتې همکارۍ او دفاعي هڅو پیل څو په دې توګه یوه موثره سیمه ییزه شبکه را منځ ته شي ، د افکارو د تبادلې ملاتړ په کوم سره چې په سیمه ییزه کچه د خلکو اندېښنې ، شکایتونه او هیلې انتقال شي.



# د سولې په هکله د افغانستان د خلکو خبرې اترې

## د يوې ټوليزې سولې د بهير بنسټ ايښودل

*– د سولې لپاره محلي لار نقشې –*